شهامت

تورلیست!
او د ملګرو ملتونو مشکوک کردار!

دولسم کال، پنځمه، پرلپسې۷۳مه ګڼه، جمادی الثانیة ۱۴۴۰هق، فبروري۲۰۱۹م

هو!
دا ملت به د لویې فتحې
د جشن لمانځلو شاهد وي!!

دماسکو کانفرانس
د اسلامي امارت ستره سیاسي حماسه

❖ نقش برازنده طالبان در عرصهء سیاسی
❖ دمسکو غونډه د شنانډو له انـــده !!
❖ د سلـــواغې ۲۶ د نجـــات او ویـــاړنو ورځ
❖ د مسکو کانفرانس د افغانو لپاره ولې زیات مهم و؟
❖ ملي اردو، که د امریکایي ګټو ساتونکي ملېشې؟!
❖ د یوې برتانوی میرمنې د جاسوسی پټ داستان
❖ دمســکو دناســتې پیغام!
❖ دمســکو د غونډې جانبي عـــوارض !!
❖... افغانانو دوه نړیوال ځواکونه مات کړل
❖ این هم شکست سیاسی دشمن
❖ طهارت ونظافت د اسلام دامتیاز نښه!

مولوي بدرالدين حقاني!
دملـــت دقربانیو او قهرمانیو یو انځورونکی شاعر

مصاحبه مفصل محترم ذبیح الله مجاهد،
سخنـگوی امارت اسلامی
باروزنامهء انگلیسی پاکستانی «دان» که بر گفتگوهای صلح تمرکز دارد

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دولسم کال، پنځمه، پرلپسې۷۳مه ګڼه، جمادی الثانیة ۱۴۴۰هق، فبروري۲۰۱۹م

دامتیازخاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

لطیف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحید''
نعیم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبیب

بیـــه :

یوه ګڼه ۳۵ افغانۍ او ۶۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یـادونـه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

لـــړلیـــك

ګڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه...	۱
۲	د ماسکو کانفرانس، د اسلامي امارتستره سیاسي حماسه.................	۳
۳	نقش برازنده طالبان در عرصهء سیاسی..	۷
٤	د ماسکو غونډه د شناندو له آنده !!..	۹
٥	مصاحبه مفصل محترم ذبیح الله مجاهد سخنگوی امارت اسلامی	۱۱
٦	ملي اردو، که د امریکایي ګټو ساتونکي ملېشې؟!............................	۱۴
۷	د مسکو دغونډې جانبي عوارض!!..	۱۵
۸	د مسکو کانفرانس دافغانانو لپاره ولې زیات مهم و؟	۱٦
۹	هو ! دا ملت به د لویې فتحې د جشن لمانځلو شاهد وي!!...................	۲۰
۱۰	زما په ژوند کې افغانانو دوه نړیوال قدرتونه مات کړل!!.....................	۲۲
۱۱	د سلواغې ۲٦ د نجات او ویاړونو ورځ..	۲۵
۱۲	د مسکو د ناستې پیغام !..	۲٦
۱۳	این هم شکست سیاسی دشمن..	۲۸
۱٤	ثمر ته رسېدونکی باغ او د طالبانو له خوا یې ساتنه..........................	۳۰
۱٥	ګلورینې پاڼې	۳۲
۱٥	طالبان د سیاسي ځواک ترڅنګ یو غوره اداري وحدت..........................	۳۴
۱٦	د مسکو په غونډه کې د اسلامي امارت د استازي د وینا بشپړ متن..........	۳۸
۱۷	د اسلامي نړۍ خپلواک او مجتهدانه کردار....................................	۴٥
۱۸	مولوي بدر الدین حقاني! د ملت د قربانیو او قهرمانیو یوانځورونکی شاعر	۴۷
۱۹	ایراني انقلاب ته یوه ځغلنده کتنه..	٥۳
۲۰	طهارت ونظافت داسلام د امتیاز نښه...	٥٦
۲۱	د سولې په اړه د بین الافغاني کانفرانس ګډ پریکړه لیک......................	٦۰
۲۲	آیا د ویتنام حالت ته ورته والی امریکا ته تاواني نه دی؟	٦۲
۲۳	غامدیت د اوسني عصر لویه فتنه...	٦٥
۲۴	په دوو کې یو انتخاب	٦۹
۲٥	د یوې برتانوۍ میرمنې د جاسوسۍ پټ داستان................................	۷۰

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

تورلیست!

او د ملګرو ملتونو مشکوک کردار!

درسنیو په وینا: ټاکل شوې وه دروان (۲۰۱۹)میلادي کال دفبرورۍ په ۱۸مه نیټه دافغانستان اسلامي امارت دمذاکراتي ټیم یوپلاوی دقطرڅخه پاکستان ته سفروکړي اوهلته دهغه هیواد دصدراعظم سره پرلیدو سربیره دامریکا متحده ایالاتو مذاکراتي ټیم له استازو سره هم ناسته وکړي

له یادې نیټې یوه ورځ وړاندې نړیوالو رسنیو په غیرمسؤلانه جسارت خبر خپورکړ چې دطالبانو دمشرتابه په امرد اسلام اباد ناسته لغوه کړل شوې.

وروسته داسلامي امارت ویندوی ذبیح الله مجاهد په یوه اعلامیه کې پورته خبر ردکړچې پاکستا ن ته د مذاکراتي ټیم دپلاوي سفر لغوه کیدل یا ځنډیدل په دوی پوري اړه نلري نوموړي وویل: د اسلامي امارت مذاکراتي ټیم پاکستان ته دتلو او هلته له امریکائي ټیم سره دناستې لپاره بشپړچمتوالی نیولی و خو دمذاکراتي ټیم دغړو سفر له دې کبله وځنډول شو چې یوشمیرغړي یې دامریکا اوملګرو ملتونوپه تورلست کې دي اوهغوی ته پاکستان ته دتګ اجازه ورنکړل شوه نودا ځنډیدل په اسلامي امارت پورې اړه نلري.

درسنیو په قول: دکابل رژیم چارواکې چې دخپل کرغیړن واک د زوال شیبې دخپل سر په سترګو ویني نو له ډیر ډار او ورخطائي څخه دسولې پرلور هرپورته کیدونکی ګام یاحرکت دخپل مرګ مرادف عمل بولی اوپري دډارخپسه دومره سوره ده چې دفبرورۍ په پنځلسمه نیټه یې د ملګروملتونوامنیت شوری ته دامارت دمذاکراتي غړو دسفر په اړه شکایت وکړ چې دا دهغوی درسمیت پیژندنې په معنی دی ، دسیاسي چارو کارپوهانو په اند: ممکن دملګرو امنیت شوری له لوري دطالبانو دمذاکراتي غړوته دهمدې شکایت وروسته اسلام اباددته دتلواجازه نه وي ورکړل شوې خو دنورو کتونکو په باور:کابل رژیم په دې کارسره د سیاسي پلوه طالبانوته دومره زیان ونه رساوه څومره چې یې دسولې ضد کرغیړنه څیره اوارده نړۍ ته بربنډه کړه.

اوس پوښتنه داده چې دملګرو ملتونو امنیت شوری او دامریکا متحده ایالات ددتورلیست په لغوه کولو کې دلیت ولعل څخه کار اخلي؟ بدون دشک نه ! دادتاریخ یو داسې لوی جبر اوظلم دی چې په هیڅ دلیل او منطق

توجیه کیدای نشي او هم په اړه یې دملګرو ملتونو دنړیوالې ټولنې کـردار نهـایتي مغرضـانه اوبیشرمـانه دی چـې تراوسه پورې یې دغه سپیره اومردود لیست پخپل حال نافذالاجراء پرې ایښی دی اوداستعماري هیوادو داهدافو پخاطر یې نه لغوه کوي.

حال داچې ددوهم نړیوال جنګ وروسته دملګروملتونو سازمان تردې شعار اوناري لانـدې رامنځتـه شـو چـې هغه به په راتلونکي کې نړۍ دلومړي اودوهم نړیوال جنګ پشان له بشـریت وژونکـو جنګونـو ژغـوري او دهمـدې هدف لپاره یې منشور یاچارټر هم تصویب شـو چـې دا اداره بـه پـه نـړۍ کـې دامـن، سـولې او انصـاف دراوسـتو علمبرداره وي، دنړۍ دمظلومو ولسونو له حقوقو به دفاع کوي لیکن ډیرافسوس! چې نن ورځ دیادې ټولنې کـردار په نړۍ کې بالعموم او دمسلمانانو په ارتباط بالخصوص مشکوک اومغرضانه بریښي او نـن پـه اسلامي هیـوادوکې دنظرڅښتان په خاصه توګه ځوانان یې دمشکوک کردار په اړه پوښتنې کوي !،اوبیا خاصکرموږ افغانان چـې دتیـرو اتلس کالو راهیسې دامریکایې وحشیانه یرغل لاندې په خورا زړه بوږنو ونکي حلت کې ژوند تیروو تربل هرچا زیات حق لرو چې ددغې نړیوالې ټولنې پوښتنه وکړو چې ایا ستاسوانصاف او عدالت دادی چې په دوه متقابلو جنګي لورو کې دیوه سره دومره وحشیانه او ظالمانه برخورد یا سلوک رواګڼئ چې د داستان په اوریدو او لیدو یې دخولـو نه بې اختیاره دالامان والحفیظ ! چیغه وځي! آن تردې چې هغه دزمکې په مخ دژوند دحق څخه مو محروم کړي او وربانديې دومره کلک بندیزونه تاسو لګولي چې مجبوراً هغه دزمکې دسرنه دزمکې دتل مخلـوق ګرځیـدلی!! او بل جانب بیا هسکه غاړه اوخلا صې پښې په ټوله نـړۍ کـې ګرځـي راګرځـي، هرڅـه چـې هغـه غـواړي مجـازدی ،هروحشت چې سرته رسوي پروانشته اودسولې په ضد امنیت شورى ته هـر روا اونارواشـکایت چـې وکـړي فـی الفور منل کېږي اوعمل پري کېږي !

هو! که نړیوال انصاف اوعدالت همدیته وایي! نولعنت شه په دي انصاف او په دي عـدالت! اوهمـدا وجـه ده چې نن ورځ دملګروملتونو نړیوالې ټولنې دوه مخی کردار نړۍ کې دشرم اوخجالت نه ډک ګڼل کېږي اوپـري شدیدبحثونو او توندې نیوکې رواني دي، په خاصه توګه داسلامي نړۍځوانان اومفکران یې کردارته دشک په نظر ګوري که واقعاً نړیواله ټولنه راتلونکي کې دخپل نړیوال موجودیت ستیج پرځای لیدل غواړي نو په نړیوالو قضایاوو کې دي دخپل اهمیت داعادې لپاره ځان دنـړۍ دزبرځواکـو هیـوادو دمنګلوڅخـه ازاد کـړي او نـړۍ کـې دي دمسلمانانو تشویشونه اواندیښنې پای ته ورسوي ،ښکاره ده چې امریکا دیوولسم سـتمبر پـه پلمـه دټولـو نړیوالـو اصولو اومقرراتونه په سرغړونه داسلامي امارت د مشرانونومونه تورلیست ته واچول او وربانديې کلک بندیزونه یـې ولګول خوډیرافسوس چې یادې نړیوالې تولنې لخوا هم ورسره هغه [من و عن] ومنـل شـول لـیکن اوس هغـه وخـت راغلی چې د ملګرو ملتونو نړیواله ټولنه باید وفهموي چې نورهغه د۲۰۰۱زکال امریکا نده پاته چې پـه نـړۍ بـه یـې دخپلې خوښې او طبعې پریکړې تپلې هغه اوس یو ه شکست خوړلې امریکاده اوددې ستر اوښتون په ادراک سره دي دملګرو ملتونو امنیت شورى ټول غړي هیوادونه دزمان ومکان حساسـیتونو تـه پـه کتـو پخپـل پخـواني روش بانديې له سره کتنه وکړي او هم دي دکوم ځنډپرته تورلست لغوه اعلان کړي او له امله دي دټول افغان ولس نه ښښنه وغواړي کنه هغه ورځ بعیده نده چې دخپل شکمن کردار په وجه به دنړیوالې اداري حشر به هـم لکـه داول او دوهم نړیوال جنګ وړاندې نړیوالې اداري (لیګ آف دی نیشنز) دزوال اونابودۍ په حشر منتج شي...

أبو عابد

د ماسکو کانفرانس

د اسلامي امارت ستره سیاسي حماسه

په هیواد کې د اشغال ضد جهاد ترڅنګ سیاسي بهیر هم خور توند شوی دی، له امریکا سره په څو پړاوه کې مهم او منتج مذاکرات ترسره شول چې وروستي شپږ ورځني مذاکرات یې خورا مهم او ټاکونکي و، تر دې چې امریکایانوپه فی الجمله ډول له افغانستانه د وتلو خبره ومنله چې په زماني چوکاټ او څرنګوالي به یې وروسته خبره کیږي. په همدې جریان کې د اسلامي امارت د مذاکره کوونکي پلاوي مشر ښاغلي شیر محمد عباس ستانکزي د د جنورۍ میاشتې په ۳۰ نیټه له نن ټکی اسیا پاڼې سره په مرکه کې دا خبره ابلاغ کړه چې په راتلونکو څو ورځوکې به د بین الافغاني ډیالوګ د مقدمې په حیث په ماسکو کې له افغان غیر حکومتي جهتونو، ګوندونو او بیلابیلو اقشاروسره غونډه ترسره کیږي تر څو له اشغال نه د وروسته افغانستان په اړه ورسره بحث او د افکارو تبادله وشي.

دا خبره څکه چې ډېره مهمه وه چې په دې وروستیو کې د امریکایي اشغالګرو د خروج له اوازې وروسته له اکثره خلکو سره دا پوښتنه وه چې د امریکایانو له تګ وروسته به بیا څه کیږي؟ افغانستان چې څلویښت کاله په کې جګړه تېره شوه، بیلابیل نظریات، ګوندونه، دښمنۍ او عقدې په کې شتون لري، له دې مختلف النوع اقشارو سره به څه کیږي؟ آیا دوی به د اسلامي امارت ارمان او داعیې (اسلامي نظام) ته تن کیږدي او که به جګړې دوام پیدا کوي. ددې پوښتنو د ځواب موندلو لپاره د ماسکو کانفرانس چې د بیلابیلو ډلو سره تړلي بانفوذه اشخاص په کې راټول و یو مثبت او پرځای اقدام و چې افغان اولس یې هر کلی وکړ.

کانفرانس او ګډونوال یې

د ماسکو کانفرانس د فبرورۍ میاشتې په پنځمه او شپږمه د سه شنبې او چهار شنبې په ورځو دائر شو.

کوربانه یې په ماسکو کې د افغانانو یوه ټولنه وه. د روسیې حکومت رسما اعلامیه صادره کړه چې په دې کانفرانس کې کوم دخل نه لري بلکې دا د افغانانو خپلمنځي مجلس دی. په کانفرانس کې لسګونه مطرحو شخصیتونو ګډون کړی و، د طالبانو لخوا د سیاسي دفتر ۱۰ تنه اعضاء هر یو (شیرمحمد عباس ستانکزی، مولوي عبدالسلام حنفي، محمد زاهداحمدزي ،قاري دین محمد حنیف ، محمد سهیل شاهین، مولوي شهاب الدین دلاور ، مولوي جان محمد مدني ، شیخ صاحب سیدرسول حلیم، مولوي ضیا الرحمن مدني او نبراس الحق عزیز) د مجلس ګډونوال ول.

له کابل څخه پخوانیو حکومتي چارواکو، د ګوندونو استازو او مخورو شخصیتونو په مجلس کې ګډون درلود، د کابل هیئت چې مشري یې حامد کرزي کوله لاندې کسان یې برخوال وو(حامد کرزی، یونس قانونی، حنیف اتمر، محمد محقق، اسماعیل خان، بادشاه خان ځدراڼ، شېرمحمد اخوندزاد، هوا علم نورستانی، مدار علي کریمي، حاجي دین محمد، شهزاده مسعود، مولوي قلم الدین، ډاکټر مشاهد، زلمی هېوادمل، وکیل احمد متوکل، شعیب وکیل احمد، سید الرحمن حقاني، نظر محمدمطمئن، وحید مژده ، حکیم مجاهد، داوود علي نجفي، عبدالکریم خرم، مولوي عبدالسلام ضعیف، انجنیر یوسف پښتون، عبدالجبار تقوا، ضرار احمد عثماني، رنګین دادفر سپنتا، لطیف پدرام، ډاکتر زلمی رسول ، قاضي ګل رحمن، وحید الله شهراني، سید طه، حضرت عمر زاخېلوال، سید فضل الله واحدي، مولوي عبدالسلام عابد، قطب الدین هلال، ارشاد احمدي، محبوب الرحمن داوودزی، احمدالله علیزی، محمد زمان مزمل، محمد عزیز هلال او فوزیه کوفي.

د حزب اسلامي له ادرسه ډاکټر غیرت بهیر او د حکمتیار صاحب زوی حبیب الرحمن حکمتیار ورغلي و. دغه راز د پیر صاحب د ګوند استازي او د مجددي زوی نجیب الله مجددي هم تللي وو. له پاکستانه غونډې ته د افغان مهاجرینو په استازیتوب یو شمیر کسان لکه هاشمي، امین جان مجددي اغا، حاجي دوا جان لوګری، نور الرحمن تره خیل ، شهنواز تنی او سیدسلیمان هم د کانفرانس ګډونوال وو. له دې علاوه ګڼ شمیر نړیوال او افغاني ژورنالستانو هم د مجلس د پوښښ لپاره د ماسکو پریزیډنټ هوټل ته ځانونه رسولي ول.

دوه ورځې څه تېر شول؟

د کانفرانس په لومړۍ ورځ غونډه د ځینو کسانو د ناوختو رسیدو له امله څو ساعته په ځنډ پیل شوه، د ماسپښین لمونځ د شیخ شهاب الدین دلاور صاحب په امامت ټولو ګډونوالو یو ځای اداء کړ، ورپسې مجلس د قران کریم په تلاوت پیل شو، افتتاحیه خبرې د کوربه افغانانو په نمایندګۍ د نادرشاه په نوم د غونډې یوه سمبالوونکي وکړې. ورپسې حامد کرزي لنډې خبرې وکړې او بیا د اسلامي امارت د پلاوي مشر عباس ستانکزي صاحب اوږده او مفصله وینا وکړه. په دې وینا کې یې د سولې اړتیا، د سولې مقدماتي ګامونه لکه (تور لست ختمول، د بندیانو ازادول، رسما دفتر پرانیستل ، د اسلامي امارت په خلاف زهرجن تبلیغات بندول) ورپسې د سولې په وړاندې خنډونه ذکر شول لکه (اشغال، د خپلواک اسلامي نظام نه شتون، د سولې د توافقاتو د تضمین نه شتون، فعلي اساسي قانون وغیره) په دې هره موضوع تفصیلي رڼا واچول شوه، ورپسې د د بیلابیلو موضوعاتو په باره کې د اسلامي امارت مواقف بیان شول چې د ګډونوالو د قناعت وړ وګرځیدل.

د ستانکزي صاحب له مفصلې وينا وروسته يونس قانوني، محمد محقق، عطاء محمد نور اود مجلس څو نورو ګډونوالو خبرې وکړې. تر دې مهاله مجلس علني وو او هم مهال په ژوندۍ بڼه په اجتماعي رسنيو کې خپرېده چې د هيواد اونړۍ په ګوټ ګوټ کې افغانانو په ډېره تلوسه تعقيباوه. وروسته مجلس سري شو او تر ناوخته يې دوام وکړ. د لومړۍ ورځې په پای کې ګډونوالو يو لنډ مطبوعاتي کانفرانس ورکړچې د حامد کرزی، شير محمد عباس ستانکزی، محقق او قانوني او عبدالسلام حنفي له رسنيو سره لنډې خبرې وکړې د مجلس فضاء يې ښه وبلله او د سبا ورځې د مجلس يادونه يې وکړه.

په سبا ورځ يعني د فبرورۍ په شپږمه هم مجلس کرۍ ورځ جريان درلود. په بيلابيلو مسائلو خبرې وشوې. تر ډېره حده په کلياتو توافق شتون درلود په دې ډول چې

دمجلس ټول ګډونوال په دې نظر و چې خارجي اشغالګر دې له افغانستانه ووځي، په افغانستان کې بايد اسلامي نظام حاکم شي. اساسي قانون بايد تعديل شي په حکومتي دستګا او بنسټونه کې اساسي او ژورو تغيراتو ته ضرورت دی، افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی او يوه ډله د زور له لارې ورباندې واک نه شي چلولای.

د مجلس په پای کې د په نهو ماتو کې يو پريکړه ليک صادر شو چې په کې د بهرنيو قواوو په وتلو او اسلامي نظام په جوړولو تاکيد شوی و. دغه راز د ورته ناستو د دوام غوښتنه تکرار شوې وه.

د ماسکو غونډې څه ثابت کړل؟

ــ که د غونډې په محتوی نظر وځغلوو، نو د ماسکو کانفرانس د طالبانو لپاره له يوې ډيپلوماتيکي ــ تبليغاتي کودتا کم نه شي بلل کيدای. طالبان چې رسنيو تر پرونه د پرديو ايجنټان او د افغانستان دښمنان بلل، د ماسکو په

غونډې کې د افغانانو تر منځ د ملي محور په رول کې را څرګند شول. د افغانستان په مسئله کې ذیدخله نږدې ټول اړخونه یې په داسې ډول په ځان راټول کړل چې د غونډې په پای کې یې ټولو ګډونوالو له مجلس څخه خوښي او قناعت څرګنداوه .

ــ طالبانو په مخامخ دلائلو کې په ټولو ګډونوالو او بیلابیلو سیاسي اړخونو دا خبره ومنله چې افغانستان اشغال دی، بهرني اشغالګر د جګړې اصلي عاملان دي چې باید وایستل شي. همدا خبره د ټولو په اتفاق په پریکړه لیک کې هم ځای شو. په دې سره د اشغال پر ضد د جهاد او مبارزې هغه داعیه چې تر پرونه د طالبانو فردي نظریه بلل کیده، افغان شموله شوه او د افغانستان اکثریت سیاسیونو ترې ملاتړ وکړ. په همدې اساس د طالبانو د مرام او مدعا حقانیت چې دا اتلس کاله د غرب په تبلیغاتي دوړو له خلکو نهام کړی و ثابت او څرګند شو او مطلق اکثریت افغان سیاسیونو تسلیم کړ.

ــ بالاخره د طالبانو هغه خبره هم کره ثابته شوه چې د افغانستان له اوضاع سره جوړ نظام او ټولو ستونزو حل یوازې شرعي اسلامي نظام دی. دا لویه لاسته راوړنه ده چې دومره لوی شمیر سیاسیون په اتفاق سره د اسلامي نظام غوښتنه مطرح کوي او د شته اساسي قانون او تش په نوم ګوډاګي نظام د تعدیل غږ بدرګه کوي.

ــ په ماسکو غونډې سره طالبانو د خپلو هغو ټولو مخالفینو خولې وربټې کړې چې طالبان یې په افغانستان کې د راتلونکو جګړو د عامل په حیث معرفي کول. طالبانو په خپله بیانیه کې څرګنده کړه چې په داخلي جوړجاړي باور لري او د هیواد او اولس ګټو، سولې، عادلانه اسلامي نظام، د افغانستان پرمختګ او د اولس سوکالۍ ته تعهد لري.

ــ د ماسکو د کانفرانس په واسطه د کابل اداره تر بل هر وخت منزوي شوه، طالبانو لکه څنګه یې چې په منطقوي سطحه د کابل اداره انزوا ته ټېل وهلې او د ټولو سیمه ییزو هیوادونو اعتماد یې خپل کړی، دا ځل یې په داخلي کچه هم د ارګ د واکمنو شاوخوا تخلیه او له بدې انزوا سره یې مخامخ کړل. اشرف غني د ماسکو د غونډې په ورځ له طلوع نیوز سره په مرکه کې د ماسکو د کانفرانس په ټولو ګډونوالو توند نقدونه وکړل او په دې ډول یې د افغانستان د سیاست له یوې لویې کتلې سره ځان په تصادف او تقابل کې واچاوه. د ماسکو د سترې افغان شموله غونډې په وړاندې د اشرف غني موقف د نوموړي لپاره بد عواقب درلودلی شي، دې مخالفت اشرف غني د افغان اولس د سترې ارمان (سولې) د مخالف په حیث معرفي کړ.

ــ که څه هم د ماسکو د کانفرانس ځینې حواشي د نقد وړ ول، د غونډې د ځای په شان په اجتماعي رسنیو کې دګډونوالو په ترکیب او دا چې ګډونوالو تر پرونه یو بل وژل او نن په یوه میز ناست دي، دې ته ورته ګڼ شمیر احساساتي نقدونه وشول، خو که د واقعیت له زاویې ورته وګورو له کوچنیو حاشیو پرته دغه غونډه یو مثبت پرمختګ و، په خاص ډول طالبانو د امریکا په وړاندې له پوځي بریا او له واشنګټن سره د مذاکراتو د هیله بښونکي بهیر نه وروسته یو بل اساسي ګام هم پر مخ واخیست.د دومره ګڼ شمیر سیاستوالو راټولول او بیا په لومړي ځل رغنده مذاکرات له شک پرته لویه سیاسي لاسته راوړنه بلل کیدای شي.

حبیبی سمنگانی

نقش برازنده طالبان در عرصهء سیاسی

دفتر سیاسی یا ارتباطی طالبان در دوحه، پایتخت قطر در تابستان سال ۳۱۰۲ میالدی ایجاد شد . واقعیت اینست که آن زمان نه تنها رژیم کابل و مخالفان سرسخت طالبان بر گشایش این نمایندگی، نگرانی های جدی داشتند و از نقش جدید سیاسی و دیپلماسی طالبان نگران بودند، بلکه بعضی از مسئولین و مجاهدین امارت اسالمی نیز در مورد آیندهء جهاد و مقاومت کنونی، مضطرب و پریشان شدند .و اطاعِ ت بزرگان از ویژگی اما بر خالف ادارهٔ چند پارچهء کابل، صف طالبان چون متحد بود های همیشگی و انکار ناپذیر این صف بوده است، این اضطراب و پریشانی نه رسانه یی شد و نه هم دوام کرد. بزرگان طالبان توانستند باکمال نرمی وشایستگی، مجاهدین خو د را اطمینان بدهند که پیشرفت در عرصهء سیاسی، هرگز به معنای معامله و یا عقب نشینی از کارزار نظامی یعنی جهاد مسلحانه نیست. مجاهدین نیز به زودی اهمیت و حیثیت مبارزهء سیاسی را درک کردند و با کمال اعتماد بر بزرگان خود، مبارزهء شان را صمیمانه ادامه دادند .

اضطراب و تشویش مجاهدین بی جا نبود. زیرا تاری خ شاهد و نمایان گر این واقعیت است که کافران همواره از راه صلح و مذاکره مسلمان ها را نیش زده اند. به ویژه ؛ قضایایکه در یک قرن اخیر به میز مذاکره کشانیده شده، همواره به ضرر مسلمان ها تمام شده است. بلی، منازعات فلسطین، کشمیر، بوسنی، سودان و....... حکایت های تلخی از تزویر، خیانت، نیرنگی و دسیسهگری دشمنان اسالم در میز های مذاکره دارد.

حتی سازمان »ملل متحد« که ظاهرا بزرگ ترین نهاد بی طرف و خیرخواه بشریت در جهان امروزی پنداشته می شود، همواره بر زخمهای مسلمان ها نمک پاشیده، و در هیچ کدام این موارد قضاوت عادالنه و مصلحت آمیز نداشته است.

اما طالبان در حالی رسما وارد گفتگوها شدند که شاید کم تر کسانی بر درک سیاسی و قدرت منطقی ایشان باور داشتند. زیرا دشمن مکار و دغلکار با استفاده از تبلیغات رسانه های استعماری و زرخرید خود، پروپاگند بزرگی را به راه انداخته بود که طالبان تنها با جنگ و جدل آشنا هستند و با سیاست و منطق کاری ندارند ، بنابرین فشار های نظامی یگانه گزینه برای سرکوبی و نابودی طالبان است. اما با ایجاد دفتر و آغاز گفتگوها، دیری نگذشت که طالبان قدرت فوق العادهٔ سیاسی و منطقی خود را به نمایش گذاشتند و در کنار مبارزهء نظامی، در عرصهء سیاست و دیپلماسی نیزخوب درخشیدند .

هویدا است که امریکا به تنهایی بر افغانستان یورش نیاورده بود، بلکه برای اینکه تک قطبی بودن جهان را به نمایش بگذارد نیروهای بیشتر کشورهای غربی را نیز زیر چتر »ناتو« به افغانستان سوق داده بود، همچنان حمایت رسمی و عملی کشورهای همسایه را از آن خو د کرده بود . تمام کشورهای اسالمی به شکلی از اشکال از »جنگ بر ضد تروریزم« پشتیبانی می کردند و کشورهای مهم منطقه نیز چیزی برای گفتن در برابر این لشکر کشی امریکا نداشتند .

گویا تمام جهان به این زورگویی امریکا در برابر طالبان »آمنا و سلمنا« گفتند و سیطره و چیره دستی امریکا را بدون چون و چرا پذیرفتند. اما افغان ها به سرکردگی طالبان بجای تسلیمی، راه مقاومت را گزیدند.مدت یک دهه نه تنها مردانه وار جنگیدند بلکه مورال و نیرو ی شکستً ناپذیر جنگی خود را به نمایش گذاشتند و دندان های امریکایی ها شکستن را واقعا د .این تنها امریکا نبود که صدها ملیارد دالر را برای اهداف استعماری و استثماری خود در افغانستان صرف کرد، بلکه تمام کشورهای غربی و هم پیمان امریکا نیز ملیاردها دالر ر ا در راستای تسخیر افغانستان متحمل شدند. اما پس از یک دهه، در حالی که امریکا آن رعب و دبدبهء خود را بر اثر مقاومت تاریخی افغان ها)و عراقی ها(از دست داده بود، کشورهای غربی درک کردند که ادامهء این جنگ چه اندازه برای شان سنگین تمام می شود و چگونه نظم اقتصادی و زندگی اجتماعی آن ها را متضرر ساخته است. همان بود که آن ها بر سیاست خود تجدید نظر کردند و به عنوان راه بدیل، برای آغازگفتگوها با طالبان زمینه سازیکردند .

آن ها پی برده بودند که طالبان نیروی شکست ناپذیر مردمی در افغانستان است و حاال باید حد اقل از زبان خود شان بشنویم که آن ها چه می گویند و چه می خواهند، تا راهی برای بیرون رفت از جنگ بی سود و بی سرنوشت افغانستان پیدا بکنیم .بعضی کشورهای که کورکورانه و یا تنها بر اثر فشار امریکا وارد جنگ افغانستان شده بودند، در همان گفتگوهای ابتدایی با شنیدن موقف مستدل و منطقی طالبان درک کردند که مرتکب اشتباه بزرگی در قبال افغانستان شده اند. به تدری ج، کشورهای همسایه و منطقه نیز پی بردند که اهداف استعماری امریکا نه تنها به زیان افغانستان است بلکه به تباهی و ویرانی تمام منطقه نیز منجر می شود. امریکا نیز پس از شکست ذلت آمیز در عرصهء نظامی و با درک اینکه وضعیت منطقه دیگر برای حضور نظامی امریکایی ها سازگار نیست، مذاکرات و توافقً سیاسی را یگانه راه برای خروج آبرومندانهء خود از افغانستان نسبتا دانست. قابل ذکر است که دگرگونی وضعیت سیاسی این منطقه در قبال امریکا نیز دست آورد بزرگ دیپلوماسی و روابط سیاسی و منطقی طالبان است .

پیشرفت های که در چهار دورهء گفتگوهای مستقیم میان نماینده گان طالبان و امریکا صورت گرفته است برای همگان روشن است. این گفتگوها مراحل مقدماتی خود را بخوبی طی نموده، و حاال بر خواستهء اساسی طالبان یعنی خروج سراسری نیروهای خارجی از افغانستان می چرخد و حتی نوبت به تعیین ضرب االاجل برای بیرون شدن نظامیان خارجی رسیده است . ملت رنجور و ستم دیدهء افغان زمین بیشتر از هر زمان به آیندهء خوشحال و تابناک امیدوار شده اند و بی تابانه برای پیروزی حتمی مقاومت تاریخی فرزندان اصیل خود لحظه شماری میکنند. نشست بین الافغانی مسکو -به تاری خ ۵ و ٦ فبروری سال جاری - که به ابتکار افغان های مقیم مسکو با حضور نماینده گان دفتر سیاسی طالبان و جهت های مختلف سیاسی و مذهبی کشور برگزار شد، بحیث تحول و پیشرفت خوشایند در وضعیت کشور استقبال شد. نماینده گان دفتر سیاسی طالبان بار دیگر خوب درخشیدند. قطعنامهء مشترک این نشست بیانگر پذیرش فوق العادهء موقف و داعیهء طالبان از سوی جهت های داخلیکشور بود. اتفاق بر خروج نیروهای خارجی از افغانستان و حاکمیت نظام اسالمی از نکات کلیدی و محوری این قطعنامه بود .

طالبان چنانکه با تقبل و تحمل قربانی ها و فداکار ی های بی نظیر تاریخی استقامت، پایداری و نیروی نظامی خود را به نمایش گذاشتند، در عرصهء سیاسی نیز با ارج گذاری به خون پاک شهدای گلگو ن کفن و بی کفن افغان زمین از موقف و داعیهء بر حق امارت اسالمی نه تنها دفاع کردند بلکه حقانیت آن را حتی بر دشمنان خارجی و داخلی نیز ثابت کردند . بدون تردد، طالبان با کمال صداقت و قاطعیت شان توانستند همزمان در سائر عرصه های نظامی، سیاسی، اجتماعی و فرهنگی خدمات برازنده، باور نکردنی و خستگی ناپذیر انجام بدهند و اینک ملت ستم دیدهء ما برای شنیدن مژدهء جانفزای پیروزی جهاد و مقاومت هستند و حاکمیت نظام اسالمی لحظه شماری می کنند.

د مسکو غونډه د شنانډو له انده!!

بهیر افغان

دروانې میلادي میاشتې په ۵-۶ مه نیټه دروسیې په پلازمینه مسکوکې ، دبین لافغاني خبرو اومذاکراتوپه عنوان یوه پرتمینه غونډه جوړه شوې وه، په کومه کې چې دمختلفو اړخونو اوطرفونوپه استازیتوب سیاسي اوعلمي شخصیتونو شرکت کړی و

داچې مسکوغونډه ترکومه بریده کامیابه او لاسته راوړنې درلودې؟ په اړه یې رسنیو کې د لیکوالو،قلموالو اوشنانډولخوا ګڼ تحلیلونه ، تبصرې اولیکنې چاپ شوې او لا دوام لري چې په هغو کې د اکثریت نظرونه په دې راټول وو چې دمسکوغونډه دبین الافغانی تفاهم یوتاریخي فرصت وچې په سبب یې دطالبانو او دهغوی هغومخالفینو(کوم چې اوس عملاً دکابل رژیم په لیکو کې شتون نلري او د سیاسي دریځه داشرف غني اداري پرخلاف هڅې پرمخبیایې) ترمنځ په یوځای ناسته اوپه ګډو مسائلوباندې بحثونه کول او دیوبل دلایلو او منطق داوریدو زغم درلودل هغه بری اولاسته راوړنه ده چې دافغانستان په لنډه اولرې ماضي کې شاید ساری ونه لري.

په یاده غونډه کې یوشمیر هغو شخصیتونو هم ګډون درلودچې دهیڅ لوري سره هغوی اړیکې نه لرل یعنې دطالبانو له ادرسه یادې غونډې ته بلل شوي وو اونه دکابل اپوزیسیون له ادرس نه،هغوی دافغان سیاسي اوفرهنګي شخصیتونو په حیث غونډې ته غوښتل شوي وو ،ددغسې اشخاصو له ډلې یوهم استادمزمل وچې هغه هم دا ناسته ټوله څارلې اوپکې دټولو اړخونوخبرې اودلایل یې اوریدلي وو، مسکوڅخه دستنیدو وروسته هغه دیوتلویزون سره په مرکه کې ددې پوښتنې په ځواب کې چې دمسکوپه غونډه کې دسولې په اړه کوم لوری دبرداشت اوتیاری له پلوه دپام وړښکاره شوه طالب اوکه دکابل نه ورغلي پلاوی؟ نوموړي وویل:

ماته خو دطالب اغیز ډیر ښکاریده، زه به چې هر سهار دخوبه پورته کیدم فکر به مې کاوه چې نن به تولو لنګوټې په سرکړې وې اوزه خپله په دې ډاډه یم چې دوی دطالبانو خبرې واریدې اوپه طالب کې ډیر زیات ظرفیت دی دکابل نه د ورغلي پلاوي په نسبت طالبانو دافغانستان په اینده ډیرعمیق سوچ کړی و چې یوه ربښتینې سوله څنګه راتلای شي؟

نوموړي وایي: زموږ په ټولنه کې مذهب اوملاته په ډیراحترام کتل کیږي اودازموږ اریائي میراث هم دی په عربانو کې دملا دومره احترام نه کیږي څومره چې په افغانانو کې شته، وراندې هم څوځله زموږ نیکونو دملا اوطالب سره هینډې کړې خوناکام شوي ، باید موږ ملاراضي کړو او ورسره دهینډو څخه تیرشو زکه دطالب سره موږپه ټوله کې کومه غوټه لرو هغه دفتوا ډیره برخه ده چې ترهغوی پورې اړه لري

امریکایانو اونورو ډیر کوښښ وکړ چې طالب تجرید شي،، تجزیه شي او ویشل شي لیکن په تیرو اتلس کالوکې طالب یوځواک، یوصف،اویومټ پاته شو، هیچاهم تجزیه نکړای شول اخر هغوی مجبورشول اوخبروته ورسره کیناستل او امریکا دطالب نه یووخت بیو جوړکړی و کله به یې چین وربانډې ډاراوه کله روسیه، ویلي: که زه طالبان کنترول نکړم نوبس په تاسو درروان دي؛ نوهغوی هم امریکا چې څه کول ورته غلي کیناستل، خوطالب داهوښیارې وکړه چې دچین، روسیې او ایران سره یې خپل اړیکي جوړکړل او هغوی ته یې ډاډ ورکړ چې هیڅکله دوی چاته ضررنه پیښوي اوکله چې دمسکو

لومړی کانفرانس جوړشو اوپکې طالبانو ګډون وکړ نوامریکا پوی شوه چې نورزماپروپاګند کار نه ورکوي او خلک دطالب اصلیت پیژني او داسې ځای ته به طالب ورسي چې بیا به ماسره خبروته کیني هم نه؛ نوژرېې ورسره خبرې پیل کړې

داچې امریکا وایي: چې دلته به دخپلو استخباراتو یوولس سوه کسان پریږدي نوزه ورته وایم چې تا په یونیم لک پوځیانو کوم بری ترلاسه کړ چې په څوسوه کسانوبه یې ترلاسه کړي البته دا دلته ددې اداري د دډاډ لپاره هم وایي چې موږ درسره یو او نه ځو درڅخه څوهغوی ورخطاء نشي

ملاعبد السلام ضعیف هم یو ددغه کانفرانس دیبطرفه ګډونکو څخه ونوموړي هم دکانفرانس وروسته درسنیو سره دخپلو احساساتو او معلوماتو شریکولو په لړ کې وویل: چې طالبان اوس ترپخوا زیات مجرب کسان لري،هغوی دډیروترخو اوزړه بوږنوونکو حالاتونه تیرشول، په ځانوبې دتاریخ ترټولي بدې اوسختې مرحلې وزغملې لیکن دخپل هدف نه په شاه نشول، دادی نن وینوهغوی یومطرح سیاسي اوپوځي قوت ګرځیدلی او دهغوی دګډون پرته دسولې په برخه کې یوګام هم دسولې راتلو سره مرسته نکوي

ددې پوښتنې په ځواب کې چې ایا روسیه دطالبانو سره کومکونه کوي؟ نوموړي وویل داسې هیڅ ثبوت نشته چې روسیه دي دطالبانو سره مرسته کوي البته یوشی چې زمایه نظراهم دی هغه دادی چې دطالبانو دیپلوماسي مهمه ده، فکر کوم روسیه دهغوی ددیپلوماسۍ نه ملاتړ کوي او زه هم تري ملاتړ کوم کومه چې طالبانواوس پلي کړې پکاروه چې دا دوی ډیره مخکې پلي کړې وای، اړتیاده چې دا دیپلوماسي نوره هم وغځوي که څه پخوا هم طالبانو داسې کومه اراده هیڅکله نه درلوده چې دسیمې په کچه چاته کوم ضرریا ګواښ پیښ کړي داچې اوس طالبانو دسیمې هیوادونه قانع کړل چې دوی هیچالپاره هم ضرر یاګواښ ندي نوهغه دی دسیمې هیوادونه هم دهغوی دسولییزې طرحې سره موافقت ښیې نو روسیه په دغه لړکې دطالبانو د دریځ نه ملاتړ کوي اودا دافغانستان اوسیمې لپاره هم ښه زیری دی

طالبان په رښتیا هم موجوده اساسي قانون نه مني هغوی وایي: چې دادیرغل زیږنده دی امریکایانو پخپل راتګ سره دافغانستان وړاندیني قوانین لغوه کړل او دخپلې خوښې سره سم اساسي قانون یې جوړ کړ چې طالبان یې منلوته ځانونه ژمن نه بولي

په ورته قسم دسیمې دچارونو کتونکي هم دمسکوپه غونډه کې د طالبانو ترټولو عمده لاسته راوړنه دابولي چې وړاندې به نړۍ او امریکایانو پلمه کوله چې یوازې څو دګوتوپه شمار طالبان د دوی مخالف او ورسره جګړه کوي نور اکثریت افغانان ددوی شتون غواړي، خود ماسکو اعلامیي دغه کاذبه پلمه نوره دتل لپاره دفن کړه ولې هلته د نړدې ټولوبرخو سیاسي شخصیتونو اودبیلابیلو توکمونو مخورو په اتفاق سره دخارجي ځواکونو دوتلو غږوکړنو اوس ویلی شو چې وړاندې یوآځې طالبانو داغوښتنه کوله اوس ټول ملت داغوښتنه کوي چې خارجي عسکر دي له افغانستانه ووځي آن هغه حامد کرزی چې امریکا راوستی او دلته دولسمشرۍ په څوکۍ کینولی و دهغه مړ ضمیراوپریوتی وجدان هم راویښ شو اوله افغانستانه یې دخارجي ځوکونوناره پورته کړه هغه قانوني، محقق اتمر اسماعیل خان اونورچې دامریکا دیرغل په ټانګونوسپاره هیوادته راستانه شول او دامریکا دشتون څخه یې بې شمیره مالي ،سیاسي اوپوځي ګټې ترلاسه کړې هغوی هم دامریکایې ځواکونو دویستلو دریځ نه ملاتړو کړ اودطالبانو داعیه یې برحق اوګڼله نو پرته دشک نه چې دخارجی ځواکونو دویستلو شعار یاغوښتنه اوس دکومې ډلې یالوریغوښتنه نده دایو ملي شعار اویه ملي غوښتنه ده، چې هرو مروباید امریکادي ځواکونه له افغانستانه اوباسي چې دکتونکوپه اند: دا دطالبانو یوه لویه تاریخي اوسیاسي بریا ده چې هغه خلک یې هم دامریکا په ضدراپورته کړل څوک چې دامریکا دمتو په زور دافغانستان په سیاست اونظام کې مطرح ګرځیدلي او دهغې په مرستو پالل شوي وو .

مصاحبه مفصل محترم ذبیح الله مجاهد،

سخنگوی امارت اسلامی

با روزنامهء انگلیسی پاکستانی «دان» که بر گفتگوهای صلح تمرکز دارد

ترجمه : حبیبی سمنگانی

سوال : آیا می توانید دستور و منشور خود را با ما شریک بسازید ؟

جواب : تا اکنون دستور مدون و چاپ شده نداریم، اما اهداف ما مشخص است، اهداف ما پایان اشغال در افغانستان، حاکمیت نظام اسلامی، برقراری صلح و آرامش، بازسازی کشور و خدمت به هموطنان است.

سوال : نمایندهٔ شما شیر محمد عباس ستانکزی قانون اساسی دولت کنونی کابل را نادرست، کاپی شده از غرب و حایل در برابر صلح خواند، آیا دلیلی برای این مدعا دارید ؟ کدام مواد این قانون اساسی را طالبان نمی پذیرند، اگر مشخص بسازید ؟

جواب : حرف های ستانکزی صاحب دقیق است، واقعاً قانون اساسی ادارهء کابل زیر چتر اشغال امریکایی ها و به فایدهء آن ها ساخته شده است. شاید هیچ کشوری چنین قانونی را نپذیرد که یکجا با بمباران ها، ساخته و تحمیل شده باشد. جامعهء ما کاملا اسلامی است، قانون اساسی ما در روشنی شریعت اسلامی ساخته و عملی می شود. هرگاه ما نظام اسلامی بسازیم، در قانون اساسی کنونی دست به تعدیلات لازم می زنیم و همه آن جاهای را اصلاح می کنیم که غیر شرعی باشد. فعلا نمی توانم آن ماده ها را به شما نقل بکنم. زیرا به تشخیص و بررسی علما نیاز دارد و سپس نواقص آن مشخص می شود.

سوال : نیز ستانکزی گفته است که طالبان قانون اساسی اسلامی را می خواهند که از سوی علما ترتیب داده شود. پس در قانون اساسی شما چه می باشد ؟ با قانون اساسی کنونی در کدام مواد فرق می داشته باشد و آیا طالبان چنان علمای را در نظر گرفته اند که آن ها چنین قانون اساسی را بنویسند ؟

جواب : بلی، دقیق است که ما قانون اساسی را می خواهیم که طبق رهنمودهای شریعت باشد. جامعهء ما چنین علمای دارند که پس از استقلال گردهم می آیند، مشکلات قانون اساسی کنونی را تشخیص می دهند و بجای آن تعدیلات اسلامی می آورند. حالا نه از آن علما به شما نام گرفته می توانم و نه هم از جاهای که در تضاد با شریعت است. زیرا این کار علما است و ربط به همان زمان دارد.

سوال : طالبان در نظام آیندهء سیاسی افغانستان چه نقشی برای خود می بینند و هدف طالبان ازین چه است که می گویند ما نظام سیاسی افغان شمول می خواهیم ؟

جواب : ما در نظام سیاسی آینده نقش مهمی داریم که تشریح آن فعلا قبل از وقت است. هدف از نظام افغان شمول اینست که نماینده گان تمام اقشار افغانستان در نظام می باشند، همه اقشار کشور خدمت می کنند و بدون کدام جنجال، نماینده گان خود را در نظام می بینند.

سوال : آیا طالبان در مورد دولت موقت مذاکرات کرده اند، اگر بلی، پس از نگاه طالبان کیفیت آن دولت چگونه می باشد و چه کار های می کند ؟

جواب : در مورد دولت موقت نه ما گفتگو کرده ایم و نه هم این پیشنهاد ماست.

سوال : ستانکزیی این را هم گفت که طالبان به صلح و حقوق زنان متعهد هستند، اما در عین حال گفت که کلتور، سریال ها و فیلم های خارجی زنان را تشویق می کند که ارزش های افغانی را پامال بسازند و بر خلاف آن گام بردارند. زنان افغان و نهادهای حقوق زنان نگرانی دارند که امکان دارد آن ها دوباره به زمانی برگردند که بست سال پیش بودند، شما برای زنان در جامعه چه نقشی می بینید ؟

جواب : حرف های ستانکزی صاحب درست است، جامعهء ما جامعهء اسلامی است، ما آن چوکات زندگی را برای زنان و مردان می خواهیم که شریعت اسلامی رهنمای می کند، ملت ما بیش از دو ملیون شهید برای این هدف داده اند، البته مشکلات که در گذشته آمده بود، تمامی آن حقیقت نداشت، بیشتر آن محض تبلیغات است. اما اگر بعضی مشکلات وجود هم داشت دلیل اش این بود که یا ما بسیار نوکار بودیم و یا هم نیازمندی جامعهء آن وقت بود. زیرا جنگ های بسیار طولانی و فسادهای بزرگی بر (جامعهء ما) گذشته بود، بناءً اصلاح مجدد آن نیاز به جدیت داشت. حالا وضعیت تغییر کرده است، گراف درک و فهم مردم بالا رفته است و با تجربه شده اند. ان شاء الله، هیچ مشکلی در رابطه به حقوق زنان و مردان پیش نخواهد شد.

سوال : در حالیکه طالبان در دوحه و مسکو مذاکرات می کنند، چرا حملات خود را در افغانستان ادامه می دهند ؟

جواب : ما در دوحه مشغول گفتگوها با امریکایی ها هستیم، اما تا هنوز به نتیجه ای نرسیده ایم که به اساس آن باید بر امریکایی ها و دشمنان داخلی حملات صورت نگیرد. حاصل نشست مسکو نیز چیزی نیست که از روی آن باید جنگ یا فشار نظامی را متوقف بسازیم. ما به جنگ

مجبور هستیم، دشمن نیز در برابر ما حملات انجام می دهد و ما هم در برابر آن ها می جنگیم.

سوال : آیا این غیر اخلاقی نیست که طالبان با اداره‌ء کابل گفتگو نمی کنند ؟ در چنین صورت، فیصله های را که با امریکایی ها انجام می دهند چطور می توانند در افغانستان عملی بکنند ؟

جواب : گفتگو با اداره‌ء کابل از نگاه حقوقی مشکل دارد، اگر به نام دولت با اداره‌ء کابل صحبت بکنیم، معنایش اینست که ما آن رژیم مزدور را که به زور بمباران طیارات اشغالگران بر ما تحمیل شده، به حیث یک رژیم مشروع می بینیم. پس ما باغی خوانده می شویم و باید در برابر آن نجنگیم. در حالی که نظام های تحمیلی بیگانگان را کسی هم نمی پذیرد. فیصله های را که مردم و مجاهدین ما بخواهند، حتما عملی می شود.

سوال : آیا طالبان خلاف آتش بس و گفتگوهای بین الافغانی اند، اگر بلی، پس چرا ؟

جواب : تا زمانی که اشغال باشد آتش بس و گفتگوهای بین الافغانی نتیجه ای ندارد، زیرا گفتگوها تحت شعاع اشغال قرار می گیرد، اختیارات نزد اشغالگران است، مسئولان ما آماج بمباران و حملات قرار می گیرند. در چنین وضعیت ما برای آتش بس و گفتگوهای بین الافغانی فرصت نداریم. نخست باید اشغال خارجی ها را ختم بکنیم و سپس برای حل مشکلات داخلی خود متوجه شویم.

سوال : آن کدام بزرگان افغانی اند که در اداره‌ء کنونی کابل کار می کنند و یا نمی کنند، اما طالبان می خواهند با آن ها یکجا کار بکنند ؟

جواب : ما با کسانی که در گذشته مخالف ما بوده باشند، اما اکنون در اداره کابل کار نمی کنند گفتگو و مفاهمه می کنیم. اما با آن های که در نظام وظائف رسمی دارند و جزو نظام اند گفتگو نمی کنیم. البته گفتگو با همه جهت های مخالفین برای حل معضل و اعاده‌ء صلح صورت می گیرد و این پروسه به معنای یکجا شدن با کسی نیست.

سوال : پاکستان در آوردن شما به میز مذاکره چه نقش بازی کرده است ؟

جواب : گفتگو با امریکا اراده‌ء خود ما بود. ما پیش از اشغال نیز به امریکایی ها گفته بودیم که بجای جنگ، به همرای ما گفتگو بکنید. سپس در سال ۲۰۱۳م برای همین که با امریکا گفتگو بکنیم، در دوحه دفتر سیاسی ساختیم. اما این امریکایی ها بودند که حرف نمی زدند.

اما حالا که حاضر به گفتگو شده اند، ما هم وارد گفتگو شدیم. بنابرین درین گفتگوها کشور دیگری نقش ندارد، بلکه این ابتکار و موقف سابقه‌ء خود ما است.

سوال : اگر طالبان شامل سیاست افغانستان شوند، پاکستان را به چه نظر خواهند دید ؟

جواب : پاکستان کشور همسایه‌ء ماست. در زمان جهاد در برابر اتحاد جماهیر شوروی، بهترین پناه گاه برای مهاجرین ما بوده است. حتی افغان ها پاکستان را خانه‌ء دوم خود می پندارند. بناءً ما در آینده با پاکستان به حیث کشور برادر و همسایه تعامل می کنیم و احترام متقابل را از آنطرف نیز امیدواریم. همچنان با کشورهای همسایه‌ء دیگر.

سوال : حمایت طالبان از بزرگان القاعده، سبب سقوط دولت شان شد. اگر طالبان دوباره به قدرت برسند آیا باز هم به چنین گروه ها جا می دهند ؟

جواب : در زمان امارت اسلامی، نگهداری و جا دادن به مجاهدین که در زمان جهاد شوروی به این جا آمده بودند و درین جا برای ما به میراث مانده بودند، مقتضای مذهبی و کلتوری ما بود. حالا کسی درین جا نمانده است که نیاز به پناه داشته باشد. اما یک چیز را بسیار به صراحت باید بگوئیم که امارت اسلامی به هیچ کسی اجازه نمی دهد که از خاک ما به کسی ضرر برساند.

میوند سادات

ملي اردو،

که دامریکایي ګټو ساتونکي ملېشې؟!

یرغلګرو افغانستان کې دخپلو ګټو لپاره جنګیدونکو وسله والو ته دملي اردو او ملي پولیسو نوم ورکړ،داردو او پولیسو په لیکو کې اکثر یت جذب شوي په مخدراتو روږدي، په غلاوو او قتلونو ککړ،په اخلاقي فساد کې غرق او تر ډېره له ټولنې شړل شوي کسان دي.

دامریکایي منافعو دساتنې لپاره رامنځته شوي اردو او پولیسو څخه افغانان ډېر په تکلیف دي، په بیلابیلو ولایتونو کې ددوی د غیر انساني کړنوپر ضد لاریونونه شوي .داردو او پولیسو دناوړه کړنو په اړه په کورنیو او خارجي رسنیو کې راپورونه خپاره شوي، خو ددغو وسله والو دجرمي کړنو پر ضد کوم قانوني ګام نه دی اوچت شوی ،څه یې چې زړه غواړي بې ډاره یې ترسره کوي.

افغانستان کې دامریکایي مصارفو دځار ډلې(سیګار) بار بار ویلي چې ددوی ملیاردونه ډالر په هغو وسله والو (ملي اردو او ملي پولیسو؟) مصرف شوي چې لویه مشغله یې دبشري حقونو تر پښو لاندې کول دي. د امریکایي ورځپاڼې نیویارک ټایمز دیو راپور له مخې له ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۶ پورې امریکایي پوځ دافغان عسکرو ۵۷۵۳ جرمي قضیې ثبت کړي، په دې قضیو کې شکنجې، بې محاکمې وژنې او دجنسي تیریو پیښې شاملې دي. د ورځپاڼې په وینا په ذکر شوو شپږو کلونو کې دکابل ادارې وسله والوهر کال تقریبا ۱۰۰۰ جرمونه ترسره کړي دي.

داجیري اردو او مزدورو پولیسو دجرمونو اوجنایتونو پورته ذکر شوي پیښې یوازې هغه ارقام دي چې امریکایانو ثبت کړي دي. هغه جرمي پیښې چې ثبت شوي نه دي تر ذکر شوو ارقامو څو چنده زیاتې دي.

دکابل ادارې ایله جارو ټوپکیانو ته دملي اردو اوملي پولیسو نوم باید ونه کارول شي، ځکه دې وسله والو دولس دخیر ښګنې لپاره څه کړي؟ دکابل رژیم وسله والو نه یوازې داچې افغانستان او افغان ولس ته یې کوم خیر نه دی رسولی، بلکې دافغانستان داشغال لپاره یې په خورا اخلاص سره د یرغلګرو چوپړ ته ملاتړلې ده، پر خپل ولس دامریکایي ګټو دساتنې لپاره بمونه او راکټونه اوروي، خلګ شکنجه کوي او په مختلفو پلمو یې بندي کوي او لوټي.

دکابل رژیم پر وسله والو دملي اردو هیڅ یو تعریف هم نه صادقیږي، ځکه ملي اردو دخپل هیواد دحریم ساتنه کوي،ارضي تمامیت حفظ کوي،ملي استقلال اعاده کوي او په ټولنه کې دخپل هیواد او خپل ولس دیني ارزښتونه او ملي منافع خوندي کوي،دکابل رژیم ملي اردو دیادوشوو صفاتو برعکس چلند کوي، ټول زور او زیار یې د امریکایي اشغال پایښت ته وقف کړی دی.

د مسکو د غونډې جانبي عوارض !!

عابد مجاهد

دروانې فروري دمیاشتې په ۵ او ۶ مه نېټه په ماسکو کې داسلامي امارت او کابل مېشتو نادولتي مخکښو افغاني څېرو ترمنځ دتفاهم او پوهاوي غونډه دایره شوه، چې په مجموع کې یې دافغانستان دراتلونکي لپاره ښې مثبتې هیلې لرلې او په خلاصه آزاده فضا کې د آراوو تبادله وشوه .

سره ددې چې په ټولیز ډول دغه غونډه داسلامي امارت په کټه تمامه شوه او دطالبانو د اوولسو کلونو داعیه د غونډې ټولو ګډونوالو په یوه خوله ومنله او قسماً یې دهغې ملاتړ وکړ ، چې په حقیقت کې دطالبانو مخالفینوهم په دې ګډون سره په خپل هغه مخالفت دبطلان کرښه راکاږله چې دا اوولس کاله یې له امریکایانو سره څنګ په څنګ د دوی په ضد روانه کړې وه .

ولې په عین حال کې بیا هم په غونډه کې ځینو ګډونوالو جارحانه خوله وخوځوله، داسې یې ښوولې چې ګواکې داسلامي امارت مسلحانه مبارزه بې نتیجې وه او وروسته هم نتیجه نه شي ورکولای، داچې دوی ویل" مونږ په دې عقیده یو چې دجنګ له لارې هیڅ طرف هدف ته نه شي رسېدلای " یاهم " په یوه او په بل نوم مقاومت ! او دمقاومت کړنې ..." هغه ټکي او نکتې وې چې دغونډې جانبي عوارض یې بللی شو ، که داشغال په وړاندې مسلحانه مبارزې نتیجه نه لرلای اودجنګ له لارې خپلواکي نه ترلاسه کېدلای ، نو نن به کوم عمده لامل و چې دا او دې ته ورته غونډې رامنځته شوې وای ؟

دغه راز غونډې یا د بین الافغاني تفاهم په فورم باندې د ښلا ښلو جهتونو او سیاسي څېرو رایوځای کېدل خو دهغه مسلح او پربکنده جهاد برکت دی چې امریکایان یې په قطر کې د طالبانو مېز ته په ګونډو کړل او دهمدغسې یوه لوی بدلون په نتیجه کې دمسکو غونډه رامنځته شوه .

د دغې غونډې په څنډو کې دجارحانه اظهاراتو او نا سمو څرګندونو په غبرګون کې د حقیقت اظهار او خپلو احساساتو څرګندونه هم دیوه طالب په حیث خپل حق بولم او وایم :

دغربي کټو شرقي مزدوره! څنګه دې غربي اشغال ته خپله عقیده او ملي غیرت تر پښو لاندې او په خومره هوا او هوس زما په مرګ پسې لالهاند وې ؟! څنګه دجهاد او مجاهدپه نوم او دیني شعارپسې لېونی وې، چې په پیداکېدو به دې غربي بادار ته ځان پرې نږدې کاوه او په له منځه وړلو کې به یې ترهغوی څو ګامه ړومبی وې ؟!

زما ښه په یاد دي دامریکا دغرور په نیلي سپور وې اوله هر لحاظه لرې دې دخپلې سیمې په طالب پسې بدې راوهلې وې چې د نوین قرن دیمکرات یادشې او دیمکراسۍ ته دوفا ښېلګه وړاندې کړې، داسلام شعایر او دیني صبغه دې ډېره ژر ژر له ځانه لرې کړه چې بین المللي جامعه دې ومني او مترقي یادشې !! داهر څه دې وکړل او تردې دې هم لاډېر څه وکړل، خو بادار در څخه راضي نه شو اولکه تاپې چې تعبیر کاوه د" پیپسي بوتل په څېر یې وغورځولې" !!

نن چې مې له ښه نیته په یوه نوم یادکړې او دومره لوېدلی مې هم ونه لورېدې ! ٥ بیا هم په هماغه خره سپور وې او هماغه شخوند دې واهه، د عبرت اوپند په ځای دې زما له ښه نیته بده ګټه اخیسته اوپه داسې یوه مجلس کې دې چې په هیواد کې دسولې او ارامۍ هیلې ورپورې تړلې وې بیا هم جارحانه خوله خوځوله اودخپلو هغوکړنوستاینه دې کوله چې نن بایدپرې پښېمانه اوشرمېدلی وای ؟!

دغربي اشغال دپیل ټوله تکیه پرتا وه او تر ننه په هیواد کې د ټولو وحشتونو، بربادیو، ډماریو او دربدریو مسؤلیت ستا پر غاړه دی، هیڅکله به دې نامه نه شي خلاصېدلای چې د یوه اشغال په مخنیوي کې به دې کردار اداکړی وي، که داسې وي هم، په بل اشغال کې دې دغلامۍ او بردګۍ نه بښل کېدونکی جرم ترسره کړی .

نن دا زما احسان ومنه او زما ښه مه هېروه چې په دغسې یوه ناسته کې مې ومنلې، که په دغه اشغال دې دمنفي کردار او ناسم رول هره خوا راسپړم، شاید قلم یې دلیکلو حوصله ونه لري، خو دومره به ووایم چې که اوس دې سد سرته راغلی وي، یواځې په دې سوچ وکړه چې په اشغال کې به کوم کردار وي چې مثبت وبلل شي او ویاړ پرې وشي ؟!!

نن ټولو افغانانو ته په کار دي چې داشغال په وړاندې دطالب په مبارزه وویاړي او د دغه ستر افتخار نسبت دافغان مسلمان غیور ولس په ځای بل چاته ونه کړي .

دمسکو کانفرانس

د افغانو لپاره ولې زيات مهم و؟

شهيد زوی

د شوروي اتحاد د ړنګېدو نه پس ددې اتحاد دوارثې روسې ته په نړۍ کې هغه مقام ورپاتې نه شو کوم يې چې ورنګېدونه او خصوصاً پرافغانستان ديرغل نه وړاندې و ؛ دشوروي اتحاد دړنګېدو کابو درې لسيزې تېرې شوې ؛روسې دخپل مقام دبياترلاسه کولولپاره ډېرې پټنې لاسونه ووهل خوترلاسه يې نه شو کړای .

خو له دې هم انکار نه شي کېدای چې حيثيت؛ ارزښت او نظامي ورتيا ته يې د سيمې يو هېواد هم نه شي رسېدای.

پدې موږ تول پوهېږو چې دافغانستان سره دروسانو روابط ډېر پخواني دي دا بيا ښله خبره ده چې دروابطو تاريخ يې له ځان سره خواږه کم او ترخه ډېر زيات لري.

په۱۳۵۸ هـ ش ـ ۱۹۷۹ م کال کې روسانو افغانستان اشغال کړ چې تر۱۳۶۷ هـ ش ـ ۱۹۸۹م پورې دې ناروا اشغال دوام وکړ.

افغانان ددې اشغال په مقابل کې راپورته شول چې داشغال نه دخپل هېواد د آزادۍ لپاره دافغانانو دا پيل کړې سپېڅلې مبارزه تولې هغې نړۍ تائيد او ورسره يې مالي مرستې وکړې چې دشوروي اتحاد نه په وېره کې وه .

دافغانانو ددې سپېڅلې او تاريخي مبارزې په مقابل کې روسانو ستره ماتې وخوړه او شوروي اتحاد يې توته توته شو خو دروسانو ددې تېري او دآزادۍ پدې سپېڅلي جنګ کې دافغانانو يو نيم مليون قيمتي نفوس قربان شول؛هېواد مو په کنډوالې بدل شو افغانان دخپلو پلرونو او نيکونو له مېنو بې ځايه شول؛دنړۍ ګوډ ګوډ ته خپاره او ښه در بدره شول او ورته دنړۍ دترټولو سترو کډوالو لقب ورکړل شو.

دروسانو دوتلو نه پس طوائف الملوکي پيل شوه؛هېواد په کورني جنګ اخته شو؛اداره ړنګه شوه بدامني عامه شوه ؛ اقتصاد صفر شو خلک دسختې ولګې او فقر سره مخامخ شول او دافغانستان حيثيت دخاورو سره خاورې شو.

بيا دالله تعالی فضل وشو چې دطالبانو اسلامي تحريک راپيدا او هېواد ته يې ددې سترو بدبختيو نه نجات ورکړ؛که دطالبانو اسلامي تحريک نه وای رامنځته شوی اوس به دنړۍ نقشه کې دافغانستان په نوم هېواد شتون نه درلودای بلکې په سمتونو؛قومونو ؛ژبو او نورو دويشل شوي افغانستان له خپتې نه به په لسګونو هېوادونه راوتي وای اوپړه به يې توله دروسانو په غاړه وای ځکه چې ددې تولو بدبختيو اصل لامل ددوئ په لمسون دلاسپوځو کمونستاو کودتا اوددوئ مستقيم تېری و .

نو دروسانو سره دافغانانو په روابطو کې داسې ترخه شته چې دهېرولو ندي او نه به يې افغانان هېر کړي خو دافغانستان په واک کې چې هرڅوک وي په کال کې ايله يو ځل دجدي په ٦ مه دروسانو ددې يرغل او وحشت يادونه کوي او بس ځکه چې دروسانو ديرغل او وحشت له رايادولو پرته دنور څه ، نه افغانان توان لري او نه يې هم په بلې خبرې کې څه گټه شته؛افغانان پدې پوهېږي چې داسبابو پدې نړۍ کې لا موږ له دې ډېر وروسته يو چې ترمسکو ولاړ شو او له روسانو خپل انتقام واخلو نو ځکه افغانانو دروسانو سره دښو اړيکو لرلو ته ترجيح ورکړيده .

سره له دې چې دافغانستان نه دوتلو نه پس روسانو دافغانانو سره ډېره لويه جفا کړيده؛ددوئ په لاس د وران شوي افغانستان په ابادولو کې دبرخې اخستلو لپاره يې کوم کوچنی اقدام هم ونکړ او نه يې هم په سختو وختونو کې دافغان ولس په اړه دښه نيت ښکاره کولو لپاره کوم گام گام پورته کړ خو سره ددې هرڅه افغانان بيا هم دروسانو سره ښو اړيکو لرلو ته ترجيح ورکوي؛ دا له دې امله نه چې ورسره افغانان دزړه مينه لري بلکې له دې امله چې روسيه په ډېرو لحاظونو دسيمې خورا مهم هېواد دی نو ورسره ښې اړيکې لرل دافغانانو اړتيا ده.

په افغانستان کې دشکست نه پس روسيه دډېرې سترې سياسي بې ثباتۍ او داقتصادي بدحالۍ سره مخامخ وه خو روسي دپوتين په مشرۍ کې په سياسي او اقتصادي لحاظ دخورا دې بدحالت نه ځان راويستلو لپاره ډېرې زياتې هڅې وکړې چې پکې بريالۍ شو ؛ روسيه دسيمې او نړۍ په سطحه دخپل بايللي حيثيت په ترلاسه کولو کې دکاميابۍ پرلور روانه ده.

دشام دروانو حالاتو په اړه چې دروسي کړنلارې ته وکتل شي دروسي هوښياري؛په نړيوالو مسايلو کې دراپورته شويو نگونو په اړه دمناسب عکس العمل ښکاره کولو او دمواقعو نه دسمې فايدې پورته کولو لويه وړتيا يې ترې له ورايه ښکاري.

په نړيواله سطحه دمنځني ختيځ په ترټولې مهمې او ستراتېژيکې سيمې شام کې دټولې نړۍ مخالفت باوجود دبشارالاسد نه خپل حمايت ته دوام ورکړ او ترهغې يې ترشا ودرېده ترڅو يې چې دشکست خوړلې حالت نه راوويست او خبره تردې راورسېدله چې امريکا دشام نه دخپلو فوځونو ويستل هم اعلان کړل.

ددې ترڅنگ چې دبشارالاسد له حمايت نه يې هيڅ لاس وانخست دترکې،سعودي عربستان او ايران درې واړو سره يې خپل روابط هم متوازن وساتل چې دا دروسې دوزارت خارجه دډېر فعاليت او دامريکا د بانډنيو چارو دوزارت دسخت تمبلۍ او غفلت اوددې هېواد ناکام سياست لوي دليل دی.

اوس چې روسيه دافغانستان دستونزې حل لپاره په مسکو کې کانفرانسونه جوړوي دا هم دمناسبو موکو نه دروسې دښې استفادې او دامريکا د پاليسۍ دډېرې سترې ناکامۍ لويه نښه ده.

پرافغانستان داسلامي امارت دواکمنۍ پرمهال به په واک کې دنويتوب او داوږدې تجربې نه درلودلو له امله داسلامي امارت ديپلوماسۍ کې هم څه نا څه کمزوري وه خو له دې هم انکار نه شي کېدای چې نړۍ هم ډېره ستره جفا کړې وه چې روسيه پدې هکله ترټولو وړاندې وه.

غرب چې دافغانستان اسلامي امارت په رسميت نه پېژندلو ؛ پرضد يې تبليغات کول ددښمن په نظر يې ورته کتل او بيا لا امريکا پرافغانستان کروز توغندي هم وتوغول نو دا دروسې لپاره داسلامي امارت سره دښو اړيکو جوړولو ښه موکه وه خو روسې دډېرې بې اغتنايۍ اظهار وکړ او نه يوازې داچې داسلامي امارت سره دښو اړيکو جوړولو لپاره يې هيڅ ديادولو وړ اقدام ونکړ بلکې داسلامي امارت

دهغومخالفینوسره یې له مختلفولارو مرستې وکړې کوم چې په نړۍ کې سخت بدنام اودبریالیتوب هیڅ چانس یې نه و چې دا دروسې ډېره ستره اشتباه وه؛له دې نه هم ستره اشتباه او خرابه خبره دا وه چې دشوروي اتحاد په پوله پروت هغه افغانستان چې کابو یوه لسیزه دروسانو تراشغال لاندې و په هماغه افغانستان کې دطالبانو داسلامي تحریک په هکله روسانو ځان ته دمعلوماتو دترلاسه کولو زحمت نه و ویستلو نو همدا وه چې کله پرافغانستان امریکا یرغل کاوه او دخپلو غلامو رسنیو په زور یې چې دطالبانو نه ډېره ستره بو،بلا جوړه کړه نو روسې هم دافغانستان اسلامي امارت ته په همدې نظر وکتل او حالت یې هم دسیمې دکمزورو هېوادونو په څېر و .

دخپلو ټولو غربي اتحادیانو په ملتیا چې امریکا سیمې ته دجنګ په اراده په کوم جاه او جلال راغله دا دروسې لپاره ډېره دخطر نه ډکه خبره وه خو رښتیا دا ده چې روسیه هم تردېره حده مرعوبه وه او هم داسلامي امارت ړنګېدو ته خوشاله وه

نو نه یوازې دا چې دامریکا دراتلو سره یې مخالفت یا تشویش ښکاره نکړ بلکې دخپلو ګټو دتضمین نوم یې هم وانخست بلکې امریکا ته یې دراتلو په لار کې داسانتیاوو برابرولو ډاډ هم ورکړ.

دامریکا پرضد دافغانانو په تېر ۱۸ کلن جنګ کې دپیل شپې ورځې خو داسې ورځې نه وې چې چا دامریکا پرضد ددې جنګ ددوام ګومان کړی وای ،دافغانانو سوبه خو بیخي له امکان نه وتلې ګڼل کېده نو که دجنګ دپیل په ورځو کې روسانو امریکا ته دتاوان رسولو په اړه فکر نه کاوه معذوره به وګڼل شي خو د ۲۰۰۳ کال نه پس چې ورو ورو دافغانانو مقاومت زور واخست او د ۲۰۰۷ م کال نه پس چې امریکایي فوځي مشرانو او ملکي لوړپوړو دطالبانو دځواک اعترافونه وکړل نو دا هغه وخت و چې روسې باید دموکې نه په ګټې اخستلو امریکا ته دښه ډېر تاوان رسولو په موخه داسلامي امارت سره داسې پټې مرستې کړې وای چې هیڅکله پرې هم نه شوای ثابتېدای خو رښتیا دا ده چې روسې دلته هم په خپلې کړنلارې کې ډېره ستره اشتباه وکړه؛دامریکا پرضد داسلامي امارت سره مرستې خو لرې خبره وه؛اسلامي امارت چې کوم وخت دوسلو دسخت کمښت سره مخامخ و هغه مهال یې خپلې وسلې توربازار ته هم وراندې نکړې.

خو اوس چې امریکا له خپل لورې داسلامي امارت دروازه وټکوله او ورنه یې دمذاکراتو غوښتنه وکړه نو دنورې نړۍ ترڅنګ روسیه هم پوه شوه چې امریکا ښه په جهر خپل شکست ومانه او نور پکې دلته دپاتې کېدو هیڅ توان پاتې ندی او واک ته د اسلامي امارت رسېدل یقیني دي نو یې دموکې نه په استفادې حیرانونکي اقدامات وکړل ؛هماغه روسیه چې دطالب نوم اخستل یې دځان لپاره ستر خطر ګڼلو اوس یې مسکو ته راغواړي؛ورته په لنډ وخت کې یو په بل پسې کانفرانسونه جوړوي او په ډېرې خوښۍ یې کوربه توب کوي.

دامریکا دشکست اورېدونه پس روسیه اوس دومره زړوره شویده چې دتورو او سپینو لستونو پرواه هم نه ساتي او نه دا پوښتنې کوي چې څوک دلته راځي او پرچا پکې په نړۍ کې دسفر کولو بندیزونه دي؟

اسلامي امارت ته د روسې دعوت او دمسکو په کانفرانسونو کې ګډون داسلامي امارت لپاره په سیاسي لحاظ ډېر زیات مهم و نویې د ډېر ستر ترسیاسي بصیرت نه کارواخست ښه په جرأت یې پکې ګډون وکړ او په ښه مورال او قوي موقف یې نړۍ له هغو حقایقوخبره کړه چې دتېرو ۱۸ راهیسې یې خبرول غوښتل خوپرې نه و توانېدلی .

که په غور وکتل شي دمسکو دواړو کانفرانسونو کې روسې اسلامي امارت ډېر ښه استقبال کړ چې پدې سره په

نړیوال ډګر کې داسلامي امارت قانوني او اخلاقي حیثیت مسلم وګرځېد .

دېره مهمه لاسته راوړنه یې دا ده چې که بالفرض دامریکا سره داسلامي امارت خبرې ودرېږي نو په سیاسي لحاظ به یې تاوان امریکا ته رسېږي نه اسلامي امارت ته ځکه چې دمسکو دکانفرانسونو له لارې سولې ته داسلامي امارت ژمنتیا او هڅې ټولې نړۍ ته ښکاره شوې او پدې هم نړۍ پوه شوه چې طالبان دهیڅا لپاره هم ګواښ ندی.

خو دا باید ومنل شي چې دمسکو دطالب استاذو کوم ښه استقبال ترسترګوشو او پکې یې لاسته راوړنې ولرلې دا ټول دامریکا سره په مذاکراتو کې دطالبانو د کامیابې دیپلوماسۍ نتیجه وه.

دامریکاسره دطالبانو دمذکراتو دپیل کېدو پرمهال طالبان په خپل موقف کلک ودرېدل ؛ امریکا او یو شمېر نورو هېوادونو په مذاکراتو کې دکابل اداري په ګډون اصرار وکړ خو اسلامي امارت یې له ګډون نه انکار وکړ ؛اسلامي امارت پدې شرط هم کلک ودرېدلو چې دکابل لاسپوڅې اداري کې دګډون او ورسره دګډ دولت جوړولو خبره به نه مطرح کېږي؛خبره به یواځې دبندیانو دراخوشي کولو او دخارجي قواوو دوتلو پرسر وي ؛ امریکا چې داسلامي امارت هغه شرطونه ومنل چې په ښکاره دمنلو نه وو نو ټولې نړۍ ته

اسلامي امارت قوت او مقام د لمر په څېر روښانه او نړۍ پدې پوه شوه چې د افغانانو دسپیڅلي او سترو قربانیوو نه د ډک جهاد په مقابل کې امریکا خپل شکست ومانه.

ددې ترڅنګ چې داسلامي امارت اتلو مجاهدینو دجنګ ډګر خورا ګرم کړی؛دغلام د ناپاکه وجود نه دېرې سترې سترې سیمې په تصفیه کېدو دي او ورخطا لوړ پوړي ګوډاګیان دولایتونو دسقوط وېرې ښکاره کوي داسلامي امارت دیپلوماسي له تمو نه هم پورته په دېر داسې کامیاب شکل مخ په وړاندې روانه ده چې بیان ته اړتیا نه لري؛ټوله نړۍ یې مني؛او مسکو ته دکابل نه راغلي هغه خلک یې هم مني چې اوس دکابل اداري رسمي غړي ندي خو همدوئ داسلامي امارت درنګېدو نه پس درامنځته شوې غلامې اداري لوی ارکان وو.

حالات چې دقیق مطالعه شي داسې ښکاري چې لویدیځه نړۍ به هم دېر ژر داسلامي امارت موقف تائید کړي او هغه هېوادونه به هم داسلامي امارت سره د اړیکو جوړولو په موخه دسولې په نوم په خپلو هېوادونو کې کانفرانسونه جوړ او دامارت استازي به ورته ور وغواړي کوم هېوادونه چې دامریکا اتحادیان او عملاً داسلامي امارت په مقابل کې په جنګ کې اخته وو.

بیا به دکابل غلامه اداره دتورو او سپینو لستونو دېرې چغې ووهي خو دملګرو ملتونو داداري په شمول به یې څوک خبره نه اوري؛ په همدې چغو،شکایتونو او فریادونو کې به په خپل ولس او خپلو بادارانو دواړو کې مردودوي بیا به ارمان کوي چې ولې مو داسلامي امارت مخالفت کاوه؟

خو وخت به ځنې تېر وي.

هو! دا ملت به د لویې فتح دجشن لمانځلو شاهد وي !!

منیر احمد ازاد

افغانستان کې دمیشت امریکایې ځواکونو ویاندډګرمن (ډیوډبټلر)ویلي:امریکایې ځواکونه له افغانستانه نه درومي،اونه یې په شمیر کې کموالی راځي،میډیا سره په خبرو کې ډګرمن بټلرویلي:تراوسه دوی دوتلو پریکړه نده کړې او موږ دکابل رژیم سره مرستوته دوام ور کوو.

لیکن د امریکا ولسمشر ټرمپ چې کانګریس ته یې خپله کلنۍ ویناکوله هغه افغانستان کې روانې جګړې ته په اشاره وویل په افغانستان او عراق کې زمونږ ۷۰۰۰ سرتیري وژل شوي ، ۵۲۰۰۰ ټپیان شوي او اووه تریلونه ډالره مالي خساره موکړې،نوربايد مونږ خپل عسکر را وباسو او روانې جګړې ته دسوله ییزو هلوځلو په مټ د پای ټکی کیږدو.. ټرمپ بیا بیا دافغانستان جګړه یادوله خو دخپل لاسپوڅي رژیم نوم یې ترپایه یاد نه کړ دکتونکوپه اند:داکار دسیاسي او دیپلوماتیکه پلوه دکابل رژیم او دامریکا ترمنځ د مناسباتوکړکیچ ښیي چې ټرمپ تري په دوه پوزو راغلی ان په نوم یادولویې هم شرمیږي

په ورته توګه ټرمپ په یوبله ویناکې وویل: ماولیدل چې ددې جګړې له امله زموږ په خلکو څه تیریږي؟هلته زموږ پوځیان دکوم حالت سره مخ دي، دهغوی دماغي حالت ټکان لیدلی اوچې کله هغوی دلته راځي نوپه ذهني توګه مفلوج شوي وي اوبیا دهغوی میرمنې، میندې اوپلرونه،راځي موږ ته وایي: زموږ ځامنو اولونوته داڅه پیښ شوي ؟چې داډیرډارونکی حالت دی ایا موږ هلته نورهم دنولس کاله جنګ وروسته په جنګ کې پاته شو. اوس وخت راغلی دی دخبرو دلارې ستونزې حل کړو زکه طالبان هم سوله غواړي هغوی هم ستړي شوي دي اوموږ هم ستړي شوي یو اونورجنګ اودول نه غواړو

راخو دیته چې دامریکا دولسمشر- په سویه دپورته څرگندونو وروسته افغانستان کې دامریکا دپوځ دویاند څرگندونې کومه معنی هم نلري بلکې پخپله دامریکا ولسمشر وايي چې دوی نور دلته جنگ اودول نه غواړي

دکتونکو په نظر شاید دامریکا دپوځ ویاند هدف داوي چې غواړي دکابل رژیم ځواکونو ته مورال وبښي خودا دسیلاب په مخکې دشگو بندونو دجوړلو مرادف عمل دی

بل فکر دادی چې څنگه امریکایي جنرلان اوپوځیان په جنگ کې شخصي گټې لري هغوی نه غواړي چې جگړه پای ته ورسي نوردامریکا حکومت سیاسي مشران په دې قانع دي چې دوی جگړه بایللې زکه هغوی وینې چې لمر په دوه گوتو نه پټېږي او دامریکا یې جنرالانو شکست اظهر من الشمس دی او دامریکاجرنلانوته تشې لاپې شاپې ورپاته دي او په دې سره غواړي د خپلو زړونو براس وباسي حتی په افغانستان کې دامریکایي ځواکونو قومندان جنرال میلر هم دطالبانو سره دامریکا مرکچې ټیم په ترکیب کې ځوځله گډون کړی او هغه دهرڅه نه پوره خبردی چې د دوی او طالبانو ترمنځ په کومو مسائلوتوافق او هوکړه نیږدې شوې ده

نوحتمي ده چې دامریکا ځواکونه به له افغانستانه وځي اوپه دې کې دشک اوشبهې ځای ندی پاته، اونه افغانستان کې دامریکا دپوځ ویاند پورته څرگندونې دامریکا روان شکست په بري سره بدلولی شي معقولیت دادی چې امریکاجنرالان او دهغوی نوکران دزړو نه خپل شکست اومني اونورپه افغانستان کې دجگړې اوشغال د دوام خوبونه ترک کړي اونه د کوم چل ول اوتزویر دلارې په افغان ولس باندې دخپلې بري سوچ وکړي

افغانستان یو ازاد اوناپیلې هیواد دی، پکې میشت ولسونه اوپرگنې تاریخي ازادې لري، همیش یې دنړۍ مغرور او کبرجن نړیوال ځواکونه پرځولې ، ښکاره مثال یې په دې څلورو لسیزوکې دنړۍ دوه لویوامپراطوریوته شکست ورکول دي وراندې په نوي یمه لسیزه کې دشوروي ځواکونو سرولښکروته یې شکست ورکړ اودادی اوس یې امریکاته شکست ورکړ په داسې حال کې چې دنړۍ ټول اسلامی اوکفري هیوادونه دامریکا دیرغل په ملاتړ اوبدرگه ولاړوو او په څلور کونجه نړۍ کې ددطالب لپارهدپښې ایښودوځای نه و خو ددې باوجودامریکا ته غاښ ماتونکی شکست ورکړ نوامریکایي جنرلان او دهغوی ویندویان دي دزړونه تسلیم کړي چې له افغانستانه د دوی وتل حتمي اویقیني دي هغه ورځ عنقریب راتلونکې ده چې افغان ملت به دخپلې شاندارې فتحې د جشن لمانځلو شاهد وي ان شاء الله

زما په ژوند کې افغانانو دوه نړیوال قدرتونه مات کړل!!

دنومیالي پاکستاني ژونالست حامدمیر دلیکنې تلخیص
صمیم بریالی

دختیځ شاعرعلامه اقبال دخپلي شاعري یوکتاب(پیام مشرق)دافغانستان دپخواني پاچا امیرامان الله خان په نامه معنون کړی، داقبال ناقدین پرهغه دا تورلگوي چې گواکي اقبال داکاردیوپاچا دخوشالولولپاره کړی،اوس داچې غازي امان الله څوک و؟ هغه په ۱۹۱۹زکال کې د دنړۍ دهغه مهال نړیوال ځواک بریتانیې ته شکست ورکړاوپه دې توگه یې افغانستان کې دبرتانیې ټول غروراوکبردفن کړ، یوځل ډاکټرعبد الله چغتائي دعلامه اقبال پوښتنه وکړه چې: تادپیام مشرق انتساب ولې دامان الله خان په نوم کړی؟ ځواب کې اقبال وویل: ماغوښتل خپل کتاب یوه ازاد مسلمان ته منسوب کړم، او په دې اړه راته دامیرامان الله خان نه سیو بل څوک موزون ښکاره نشو، امان الله خان چې دکوموخلکواوعلماووپه مرسته برتانیې ته شکست ورکړی وپه هغوی کې یودمجددیه سلسلې روحاني پیشوا دشوربازارملاصیب (نورالمشائخ) اودهغه مریدان وو، لیکن واک ته دامان الله خان په رسیدو داصلاحاتو په عنوان افغان ټولنه کې دځینې بدلونو راوستو تابیا وکړه، دې سره دشوربازار ملاصیب(حضرت صیب) له هغه څخه

ناراض شو اوکله چې په ۱۹۲۹ زکې امان الله خان داروپا پـه سـفرلاړو دلتـه یـې پرضـد پـاڅون پیـل شواوافغانستان په کورنۍ جګړه کې ښکېل شو، دامان الله خان ملګری نادرخان چې هغـه مهال پـه فرانساه کې سفیرو، له هغـه ځـای نـه لاهـور تـه راغـی او دلتـه علامه اقبال هغه ته دکومک په توګه لس زره کلدارې وړاندې کړې خو نادرخان دهغـه نـه په مننه هغه تـه بیرته ورکړې، نادرخان شمالي وزیرستان علي خیـل سیمې تـه لاړاوهلتـه یـې دوزیـرو او مسـودوقومونوپه یوځـای کولویولښـکرتیارکړ او هـم پـه لاره کـې دنوروقومونو لښکرې یوځـای شـوې اوبیـایې پـه کابل حمله وکړه اودلړمقاومت وروسته دسقاوځوی شکست وخوړاوپه تیښته دکابل نه هغه ووت

دتاریخ او سیاست ځیني زده کوونکي او ستادان له مانه پوښتنه کوي چې ته کلـه نـه کلـه شـوربازارملا (حضرت صاحب ژباړن) یادوي دا څوک و؟ اودکشمیرپه تحریک کې دهغه څه ونډه وه؟زه هغوی تـه پـه ځـواب کـې وایـم چـې شـوربازار مـلا نـوم مـا پـه لـومړي ځـل دبرتانیې پرتش کتابتون (لندن) کـې دجنـوبي ایشـیا په اړه په خوندي شوي ریګارډ کې ولید، چې کابل کـې دبرتـانیې سـفارت لخـوا پـه ۱۹۴۷زکـې داګسـت پـه یوولسمه نیټه برتانیې ته په یولیک کـې اطلاع ورکـول کېږي چې دشوربازارملاځوی (غالبا اسماعیل مجددي ژباړن)افغانـان دهنـدوانو اوسـیکانوپخلاف جهادتـه تیـاروي ځکـه چـې دهنـد پـه سرهنـد شریـف کـې دیومزار(حضرت مجدد الف ثاني رح)بیحرمتـي شـوې ده، اوبیا دهمدې شوربازار ملاصیب پـه حکم قبـایلو دکشـمیرپه جنـګ کـې ګـډون کـړی وو چـې داټـول تفصیل دتاریخ په کتابونو کې شته راځم بیرتـه علامـه اقبـال تـه دسقاوځوی دشکسـت نـه څوکالـه وروسـته نادرخان علامه اقبال ته کابل ته دورتلو بلنه ورکړه

علامـه اقبـال د هغـه (نادرخـان) بلنـه اومنلـه او کابل ته لاړ،هلته یې په نادرخان اونورو سربیره دضیاء المشایخ صیب ترڅنـګ دترنګزوحـاجي صیب سرهـم ولیـدل، څـوک چـې دشـبقدر دسـیمې اوسـیدونکی و اوپه۱۹۱۹ز د انګریزانو نـه دافغانسـتان داسـتقلال پـه ګټلوکې امان الله خان سره یوځای په جهاد کـې ونډه اخیستې وه او دغه مهال یـې دهنـد دنیمـې وچـې نـه دانګریزانو دشړلو لپاره دنادرخـان پـه کومـک ملاتړلـې وه ، له دې جریان څخه دانتیجه ترلاسـه کـول اسـان دي چې دعلامه اقبال په زړه کې دامیرامان اللـه خـان اودنادرخان لپاره ژوره مینـه وه اوبـل پـه دې بـاوروچې افغانان هیڅکله هم دچا په وړاندې سر ښکته کوي نـه لکه چې وایي:

افغان باقي کهسار باقي

الحکم لله الملک لله

یعنـې افغانـان همـیش پـه تـاریخي ازمایښـتونو اوستونزو کې سرخرویه شوي ،داقبال پـه شـاعرۍ کـې نه یواځې دکابل، غزني او کندرهار نومونـه وینـو،بلکې هغه داحمدشاه ابدالي، خوشال خـان خټـک سره هـم بې پایه مینه ښکاره کـړې ،اقبـال داورنګزیـب پـر ضـد توره پورته کونکی خوشال ستایلی او دهغه پـه اړه یـې ویلي:

قبایل ملت کی وحدت می ګم ـــ که هو نام افغانیو کا بلند

محبت مجهـی اُن جوانـو سـی هـی ـــ ستارو په جو ډالتی هی کمند

پـه ستورو دکمنـدغورځوونکوځوانانو سره داقبـال محبـت ناجایزنـه و،زکـه داقبـال پـه ژونـد کـې افغانانودبرتانویانو لوی سلطنت ته شکسـت ورکـړی و، اوزموږ پـه ژونـد کـې افغانـانو ړومبـی شـوروي اتحادتـه

شکست ورکړ اوپه۱۹۸۹زکې له افغانستانه دشوروي ځواکونو انخلاء پیل شوه،څوک یې مني او که نه، برتانیې اوشوروي ته دشکست ورکولو وروسته افغانانو دادی امریکا ته هم شکست ورکړ اوپه دې توګه افغانانو دنړۍ یوبل لوی ځواک مات کړاوافغانستان دیوبل نړیوال ځواک هدیره هم شو؛ لیکن دافغانستان پیژندګلوې یواځې په هدیره جوړیدو نده اقبال ویلي:

اسیا یک پیکر آب و گل است
ملت افغان درآن پیکر دل است
از فساد او فساد آسیا
از کشاد او کشاد اسیا

ایشیا یوتن دی اوپه دې تن کې دشته زړه نوم افغان قوم دی اقبال وایي:دافغانانو دفساد مطلب دایشیا دفساد دی او دافغانانو ترقي دایشیا ترقي ده

په ۱۹۸۹زکې له افغانستانه دشوروي اتحاد ځواکونو دوتلووروسته کورنۍ جګړه پیل شوه، دکومې له امله چې نه یوازې افغانستان بلکې ټوله سیمه دامن څخه محرومه شوه چې پرضد یې دطالبانو اسلامي تحریک پورته شو په پیل کې امریکا هم دهغوی په اړه خوشبینې و ښوده خو ډیر ژرامریکا هغوی ترهګر وګرځول نن امریکا دهم هغو ترهګرو سره مذاکرات کوي او دخپلې خولې تف کړې لاړې بیرته څټې، امریکا له افغانستانه دبیرته وتلو لپاره غواړي ځان لپاره داوړو پوزه جوړه کړې او دخپلو متحدینو هیوادو(پاکستان، سعودي عربستان او عربي اماراتو) له لارې په طالبانو فشاراچوي څوهغوی دامریکا غوښتنوته غاړه کیږدي لیکن داوسني حالت نه زیاته ګټه ایران پورته کړه چې هغه ځان طالبانو ته ډیرنیږدي کړاوددې یوه وجه داده چې طالبان او ایران دداعش په شکل کې دیو ګډ دښمن سره مخ دي

طالبان بایدله یاد ونه باسي چې دامریکائي ځواکونو دوتلو وروسته به په افغانستان کې دکورنۍ جګړې پیل دافغان لس لپاره دبل ډیربدناورین پیل وي؛ دکوم له امله به چې ټوله سیمه او ګاونډیان هم متضرر شي، په دې لړکې پاکستان دې هم دامریکا ګټو دساتنې پرځای خپلو ګټو ته پام واړوي اوبیطرف دې پاته شي،په هیڅ کوم اړخ دې دامریکا دارادې تحمیلولو کوښښ نکوي، یواځې دسهولت کار په حیث دې رول اداء کړي اودسهولت کارپه حیث د شکست خوړلي سترځواک دژغورلو کوښښ دې هم نکوي کنه پاکستان به دنورې رسوایي سره مخ شي په دې وجه پاکستان ته زیات احتیاط پکار دی څو موږ دتاریخ په دې نازکه مرحله کې افغانانو سره دعلامه اقبال دبې پایه مینې درناوی وکړو.

د سلواغې ۲٦ د نجات او ویاړنو ورځ

معین احمد (معین)

د سلواغې ۲٦ زمونږ د هیواد په جهادي تاریخ کې یوه نه هیریدونکې ورځ ده.

په همدې ورځ سره پوځ له خپل ټول وحشت او غرور سره افغان جهادي عظمت ته د ماتې او تسلیمي سر ټیټ کړ.

د شوروي ځواکونو د وخت تر ټولو متکبر قومندان جنرال بوریس ګروموف له حیرتان پله څخه د اوښتلو په مهال پر افغانستان یرغل خپله لویه اشتباه وبلله او د کرملین له سره د کمونیستي امپراتوري د برم بیرغ د تل لپاره راولیده.

د سلواغې ۲٦ زمونږ د هیواد په تاریخ کې د زمري د ۲۴ مي په څیر د باتورو اتلانو د جهادي مقاومت د سربښندنو او قربانیو د لاسته راوړنو ورځ ده ، هغه سربښندنې چې له برکته یې نه یوازې افغانان، بلکې د منځنۍ آسیا ټول محکوم ولسونه آزاد او په مجموع کې ټوله نړۍ د کمونیزم له شره وژغورل شوه.

هوکې ! له افغانستان څخه د اشغالګرو ځواکونو ذلیلانه پرشاتګ اغیزې یوازې ترمسکو پوري محدودې نشوې پاتې ، بلکې د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسیدې، منځنۍ آسیا ټوله لـه شـوروي اسـتعمار څخـه وژغـورل شـوه او پـه ختیځـه اروپـا د کمونیستي زبرځواکي واکمنۍ وشړیده.

خلاصه دا چې د سلواغې ۲٦ له شوروي ښکیلاک څخه یوازې د افغانستان د آزادۍ ورځ نـه ، بلکـې لـه کمونیسـتې یرغلګرې زبرځواکي څخه د ټولې نړۍ د نجات ورځ ده .

هغه افغان جهادي اتلان چې د سربښندنو له برکته یې ټوله نړۍ وژغورل شوه په تاریخي لحاظ د آفغانستان د خپلـواکي او په مجموع کې د ټولې نړۍ د ژغورنې اتلان دي.

افغان مجاهد ولس او په مجموع کې ټوله نړۍ د دغو اتلانو د سربښندنو او قربانیو مرهونه ده.

د دغو اتلانو ویاړلي نومونه به زمونږ د هیواد په تاریخ کې په زرینو تورو لیکلې او کارنامې به یې زمونږ لپـاره د جهـاد، مقاومت او مبارزې سرمشق وي.

فرهاد اتل

دمسکو دناستي پیغام!

د فبروري په ۵مه او٦مه نیټه دمسکو میشت افغانانوپه کورېتوب او دهغوی په بلنه مسکو دیوبین الافغاني کانفرانس شاهد و،په رښتیا هم دایو سترتاریخي گام و، کوم ته چې داسلامي امارت استازو په وروغوښتو دټولو مهمو احزابو استازي، تجربه کار سیاسیون، مخور شخصیتونه اودبیلابیلوتوکمونو نماینده گان هم په زیات شمیرکې بلل شوي وو البته دکابل رژیم په استازیتوب ورته هیڅوک نه و و ردعوت شوي.

دکابل رژیم چې ځان له ډیروخته منزوې حسوي، پخپل ټول وس یې هڅه وکړه اوزیار یې وویسته چې دمسکو یاد کانفرانس دجوړیدو مخه ونیسي- اوبیرون ته بې تاثیره اوبې گټې توجیه کړي خو دکانفرانس جوړونک یې ترفشار لاندې راغلل او هغوی اخر په جوړولو یې موفق شو

دمسکو غونډې ترټولو یومهم اوبارزجهت د افغانستان اسلامي امارت واوبل څرگند جهت دکابل څخه دحامد کرزي په مشرۍ دبیلابیلو احزابو،سیاسیونو او مخورو پلاوی یا ډله وه چې رسنۍ یې دکابل رژیم لوی سیاسي مخالف اپوزیسیون هم بولي.

دشک پرته دادافغانو ترمنځ لومړی مخامخ ډیالوک یا دبحث لومړۍ مرحله وه، ترډیره یې په اړه یې دا اندیښنو هم شتون لاره: زکه پکې دفکر،مزاج او اهدافو له پلوه ورته مختلف او ویشلي خلک وربلل شوي وو په دې وجه دا اندیښنه وه چې شاید دا دبیلابیلو ذهنیتونو، مزاجونو اوطبعیتونو لرونکي سیاسیون کومې نتیجې ته سره ونه ورسي اوډیرژرپه څوساعتونو کې به اخلال او گډه وډه شي

خو مهال چې دکانفرانس دپیل شیبې لا نه وې راغلې یواځې دغونډې مقرته دمختلفو جهتونو خلک رسیدل هلته دمتخاصمو لوریو داشخاصو اواستازوترمنځ چې په کومه اسلامي روحیه او افغاني دودسره هغوی روغبړونو اویوبل ته په اخلاص ورغاړیوتل،نړیوالو لپاره دامنظرهیښونکی و اوباور وړنه و، او هغه ټولې کنگوسې اواندیښنې غلطې ثابتې شوې چې وړاندې دیادکانفرانس په اړه دډیرو سره وې اوبیا دکانفرانس تالارکې دصمیمیت نه ډکې فضاء

اویوبل ته د احترام په الفاظو او کلماتو سره خطاب کولو دجګړو ځپلوافغانانو په زړونو کې نوري هیلې راوټوکولې او ورسره امیدونه پیداشول چې رښتیاهم دسولې اوخبرو دلارې افغانان که پرېښودل شي اوهغوی پخپلو کې سره یوځای او جرګه شي درواني معضلې دپای ته رسولو لپاره معقول حل راویستلی شي

دافغان ولس د توقع او امید سره سم کله چې دغونډې په وروستۍ ورځ دټولو طرفونو په خوښه کومه اعلامیه اعلان شوه،د مبالغې پرته هغه تاریخي اعلامیه ده او په ټوله معنی هیله بښونکې اوقناعت بښونکې اعلامیه ده اوجوته شوه که افغانان پخپل منځ کې سره په یو ټغر راټول اوکیني د روان ناورین دپای ته رسولو ظرفیت لري او هم دیوبل په وړاندې دزغم او برداشت حوصلې لري دلته داعلامیې څو مهم بندونه په لنډ ډول خپلو لوستونکو سره هم شریکوو:

لومړی ټکی چې دکانفرانس دګډونوالو ترمنځ وربادنې اتفاق راغلی اوپه اعلامیه په زغره ده ځای اومنل شوی هغه داسلامي نظام دنفاذ اوملي ارزښتونوڅخه ددفاع ټکی دی چې په افغانستان کې دالله تعالی دراليږل شوي نظام په نفاذ ټولو خواوو بشپړ اتفاق ښودلی او هم ټولوپه ګډه دملي ارزښتونو او دافغانستان دارضي تمامیت نه ددفاع هوډ پکې څرګند کړی .

دوهم ټکی له هیواده دخارجي یرغلګروعسکرو دانخلاء اواشغال دپای ته رسولو په غوښتنه دټولو جهتونو داتفاق دی چې دغونډې ټولو ګډونوالو په یوغږ په هیوادکې دمیشت خارجي ځواکونو دویستلو غوښتنه کړې،ددې وروسته دافغانستانه دبهرنیو عسکروغوښتنه نه یواځې ددطالبانو غوښتنه ده بلکې داټول ملت ملي غوښتنه هم ده.

دریم په قطر کې دامریکایانو اواسلامي امارت ترمنځ دخبرو د روان بهیر نه دټولو ګډونوالو له لوري ملاتړ کولو اعلان ښیي چې دمسکو کانفرانس ګډونوال دطالبانو او امریکا ترمنځ دخبرو په روان جریان ډاډ لري او په دې لړکې دکابل رژیم چې دطالبانو او امریکا ترمنځ مخامخ خبرو مخالفت کوي په کلکه رد کړ

څلورم: داسلامي امارت دقطر سیاسي دفترپه رسیمت پیژندلو په غوښتنه توافق کول ،چې داشرف غني حکومت یې مخالفت کوي او اسلامي امارت یې غوښتنه غونډې ته ټولو ورغلیو پلایو، سیاسي اوعلمي شخصیتونو له یادې غوښتنې ملاتړ وکړ

پنځم: دبندیانوپه اړه دمسکو غونډې په اعلامیه کې راغلي هغه بندیان چې زیات عمرلري، یاناروغان دي اویا هغه چې دبند مودې یې پای ته رسیدلې اوبیا هم بندیا ن دي هغوی دي دځنډ پرته پرېښودل شي

شپږم اساسي قانون چې اسلامي امارت یې غیر شرعي بولي او دیرغل ددورې محصول یې ګڼي دمسکوغونډې ګډونوالو هم اومنله چې دغه قانون رښتیا هم مشکلات لري او دوخت په راتلو سره باید هغه اصلاح او تدوین شي .

که سړی واقعبینانه نظر وکړي نوپه ټوله کې دغونډې مخالف جهت داسلامي امارت دریځ منلی او ورسره یې توافق ښودلی چې دا دافغانستان او افغانان ولس مړاوو شویو هیلوته تازه ګۍ شبنم ښښي باوردی که په راتلونکي هم افغانان سره یوځای په ورته خلوص، زغم برداشت اودیوبل منلو په ذهنیت سره جرګه شي نوپایلې به یې ددینه هم ګټورې اومثمرې وي اودافغانستان په راتلونکي به مثبت تاثیرات ولري نوپه ټوله کې دمسکو ناسته دافغانانو ترمنځ په افغاني تاریخ کې یومثبت پرمختګ اودراتلونکي په اړه مثبت پیغام و نوضرورت شته چې ورته بین الافغاني ناستې نورې هم جوړې شي څو افغانان وکړای شي دیوبل سره دواقعي سولې راوستلو په لړکې قناعت بښونکې نتیجې ته ورسي .

این هم شکست سیاسی دشمن

ابو زبیر

در اوائل اشغال امریکایی، هرگاه مجاهدین انگشت شمار امارت اسلامی به مبارزه و مقاومت نظامی پرداختند، از هر طرف نکوهش و سرزنش شدند که آیا مقابله با این دشمن دیو پیکر و قوی هیکل و آن هم با دستان خالی، امکان دارد ؟ حتی بسیاری از علمای غیر درباری نیز صف آرایی و پنجه آزمایی مجاهدین را سادگی، نادانی و حتی خودکشی تعبیر می کردند. مختصر- اینکه ایستادگی و ستیزه جویی در برابر امریکا و ناتو بالاتر از مکلفیت های دینی و بشری پنداشته می شد. اما آن چند تن مجاهدین آشفته و سرگشته با ایمان بر نصرت و کمک پروردگار جانفشانی ها و قربانی های باورنکردنیِ را متقبل شدند، رزمیدند، جنگیدند و سرانجام کمر دشمن را شکستند. امروز همه باور دارند که طالبان به نیروی شکست ناپذیر مقاومتی تبدیل شده اند و از چیرگی و بالادستی نظامی آن ها در برابر دشمن ابرقدرت انگشت به دندان هستند.

همچنان در سال های ۲۰۱۱ و ۲۰۱۲ میلادی زمانی که طالبان به گفتگوها و دیپلماسی آغاز کردند و بالاخره در تابستان سال ۲۰۱۳م دفتر سیاسی یا ارتباطی خود را در کشور قطر گشودند، بسیاری ها این عمل طالبان را تکرار تجربه های تلخ و اشتباه تاریخی خواندند و بعضی ها به این فکر بودند که طالبان شاید بر پیروزی و توانایی مقاومت خود باور ندارند، از همین سبب از مسیر اصلی خود یعنی جهاد مسلحانه انحراف می کنند و راهی برای یکجا شدن با نظام نا مشروع و تحمیلی کابل تلاش دارند. اما مبارزهء نظامی طالبان در سال های بعدی تب و تاب بیشتری گرفت و نگرانی های که در اذهان مردم و مجاهدین جا گرفته بود خود بخود به زودی زائل شد.

طالبان با گفتگوها و دیپلماسی خود، قدرت فوق العادهء منطقی و کمال بصیرت سیاسی شان را به نمایش گذاشتند. داعیه و موقف بر حق امارت اسلامی با روی کار شدن نیروی منطقی و دیپلماسی طالبان، خوب درخشید و جامعهء جهانی پی برد که هدف از مبارزه و مقاومت افغان ها چیست و آن ها چرا می جنگند. بلی، آن تبلیغات دروغین و زهرآگین رسانه های استعماری غرب که می گفتند افغان ها تنها از روی خصلت و سرشت جنگجویانهء شان می جنگند و کدام هدف مشروعی ندارند، بی تاثیر شد.

در واقعیت، درخشش بی اندازهء طالبان در کارزار سیاسی از عوامل عمدهء شکست امریکا در افغانستان پنداشته می شود. زیرا بیشتر کشورهای غربی که دوشادوش امریکا در افغانستان می جنگیدند و بخشی از مصارف نظامی و مالی این جنگ را می پرداختند، با درک واقعیت ها از جنگ افغانستان دست کشیدند و اجماع جهانی امریکا در برابر افغان ها که

تحت پوشش «جنگ در برابر تروریسم» به وجود آمده بود از بین رفت و به تدریج کشورهای زیادی بر پالیسی و تعامل خصمانهء خود در قبال افغانستان نظر ثانی کردند. در نتیجهء مساعی خستگی ناپذیر نظامی و سیاسی طالبان، اکنون دیگر آن وضعیت باقی نمانده است که هر آنچه امریکا بگوید دیگران بدون اگر و مگر لبیک بگویند.

نیز دگرگونی وضعیت منطقه در برابر سیاست استعماری امریکا دست آورد بزرگ امارت اسلامی در عرصهء سیاست پنداشته می شود. امروز دشمن توسط رسانه های شیطانی خود پروپاگند می کند که طالبان از سوی کشورهای منطقه همکاری نظامی و مالی می شوند. اما واقعیت اینست که امارت اسلامی بجای جلب مساعدت های نظامی و مالی، تلاش کرده است کشور های منطقه را قناعت بدهد که حضور نظامی امریکایی ها در افغانستان نه در سود ما و نه هم در شما است، بلکه امریکا برای حفظ منافع استثماری خود، می خواهد از افغانستان در برابر تمام منطقه بحیث پایگاه استفاده بکند. پذیرایی این موقف منطقی طالبان، حضور نظامی امریکا در افغانستان را مشکل تر ساخته است.

کامیابی دیگر طالبان اینست که بر خلاف تبلیغات و پروپاگند دشمن شکار رقابت های منفی و غیر سالم منطقه یی نشدند. بلکه با تمرکز بر پایان اشغال افغانستان، بدون اینکه ابزار سیاسی یا نظامی برای کشور دیگری قرار بگیرند داعیهء تغییر ناپذیر خود را در هر جا مطرح ساختند. نشست های پیهم دوحه، ابوظبی و مسکو و همچنان سفر به ازبکستان، چین و ایران (و آمادگی سفر به پاکستان) ثابت ساخت که طالبان تحت شعاع رقابت های کشور های منطقه قرار نگرفته اند.

حمدالله محب، مشاور امنیت ملی ادارهء کابل در حاشیهء نشست امنیتی میونخ گفته است که طالبان هدفی برای جنگیدن ندارند. اما آفتاب با دو انگشت پنهان نمی شود. حقیقت اینست که طالبان عملا ثابت ساخته اند که هدف بسیار مقدس، واضح و روشن دارند که پایان اشغال و حاکمیت نظام اسلامی در افغانستان است و درین راستا از هیچگونه تلاش های مشروع نظامی و سیاسی دریغ نمی ورزند. اما این ادارهء فاسد، بوسیده و از پا ماندهء کابل است که پس از شکست در عرصهء نظامی، اکنون برای جلوگیری از فعالیت های سیاسی طالبان دست و پا می زند، تا امریکا و سازمان ملل مانع سفرهای نماینده گان طالبان به کشورهای مختلف شوند. این نشان می دهد که رژیم رو به زوال کابل از دست آوردهای سیاسی طالبان به شدت سراسیمه است و تاب مقاومت سیاسی را هم از دست داده است.

ثمر ته رسیدونکی باغ

او د طالبانو له خوا يې ساتنه

ملا عبدالسلام "ضعیف"

په اسلام اباد کې د افغانستان پخواني سفير

طالبانو ته د هغه باغ ساتنه او څارنه (چوکیداري) نوره هم گرانیږي چې ثمر ته رسیږي، زه کله هم د دې هڅه نه کوم چې د طالبانو په سیاسي لیډلوري کې ورگډ او یا وربانديډ داسي انتقاد ونیسم چې زه په هغه انتقاد سره ځان ته د طالبانو سياسي چارو کې د مداخلې حق ورکړم؛ ځکه زه اوس د هغه کاروان سره په سياسي پریکړو کې، چې د ژوند په دغه حساس پړاو کې په کومه طریقه مزل کوي، گډون او برخه نه لرم، او نه هم د طالبانو د هغو تگلارو څخه معلومات لرم چې د دغه مزل د لارې پیروي کوي. زه د هغه حساسیتونوڅخه پوره معلومات هم نه لرم چې د دغه اغزن پیچومي په وړاندې پراته دي، خو دا ویلی سم چې په رښتیا سره دا اوږده مبارزه ډېره ستونزمنه او پیچلې وه، او کابو کول يې ساده او اسانه کار نه دی.

زه د دغه کاروان د یوه پخواني غړي، د هیواد د خواخوږي او د سولې د یوه ملاتړي په توگه، هیواد او خلکو ته د خیر په نیت ځان مسؤل گڼم چې حد اقل د خیر هغه خبره چې زه يې درک کولای سم، یا يې تجربه لرم، د مسؤلیت له درک سره يې هڅه وکړم، او کله نا کله که څوک وغواړي، زما د پوهې، تجربې او معلوماتو مطابق د خیر مشوره ور سره شریکه کړم.

زه د یو مسلمان او افغان په توگه غواړم او هیله لرم چې د رښتیني سولې شاهد و اوسم، د همدې له پاره زما لید لوری او حل لاره په لاندې ډول ده:

څنگه چې په ۲۰۰۱ ز کال کې د طالبانو د اسلامي امارت نظام د لویدیځ زبرځواکو په اشر او د امریکا په مشری د یوې سازشي او کاذبې داعیې په مدعی په زور ونړیدی، دا هغه حقیقت دی چې جنگ ور څخه سرچینه اخیستې ده، او د اور لمبې يې تر اوسه هم بیچاره او بې دفاع افغانان په یو او بل نامه سوزوي، لا هم دا لړی د امریکا په مشری په خونړی توگه دوام لري، اړینه ده چې د همدغې سرچینې سره د اعتماد، حساب او قوي ضمانت په باور دا لړی ودریږي، تر څو دغه پړاو یو مثبت مرحلې ته رسیدلی نه وي، هیڅوک د هر ډول هڅو د نتیجو او بریا پایله نسي تضمینولای، په دغه مرحله کې امریکا او طالبان د مخامخ مذاکراتو نتیجه کې داعتماد او باورحالت ته، د قوي تضمین په لرلو سره دحل لارې په نښه کولای سي، دا د طالبانو حق دی چې د راتلونکې له پاره، تر څو چې ملي اوسیاسي مرحلې ته په عملي توگه داخلیږي، د عدم مداخلت، د خنډونو دلیري کولو، د سیاسي ادرس په لرلو او رښتوني ملي اقتدار په اړه

ډاډ ترلاسه کړي، او له هغه ورسته بیا په بشپړ ډاډ او قوت سره دویمې مرحلې ته ور ننوزي.

طالبانو ته په کار ده چې دغه لوی هدف ته د رسیدو په لاره کې ځینې مرحلې په پام کې ونیسي:

الف: هغه مذاکراتي ډله چې مشرتابه ته د اعتماد وړ او د پوره صلاحیت لرونکي وي، هغوی ته د مشرتابه له خوا، په مذاکراتو کې سرې کرښې وټاکل سي، څکه په هره مسئله او خبره کې مشوره او نه صلاحیت درلودل، دا رنګه پرته له دې مذاکراتي ډلې؛ د ځینو نورو غیر ضروري مشورې، هغه څه دي چې هم دریځ ته تاوان رسوي، هم پرمختګ ټکنی کوي او هم د مذاکراتو پروسه اوږدوي.

ب: په مذاکراتي ډله کې شاملو اعضاوو ته دي زمینه برابره سي چې د مذاکراتو ټاکلي ځای ته د خپلو کورنیو سره یو ځای ولاړ سي، ترڅو ذهناً ارام او پریکړې په پوره صلاحیت او سړه مغزو ، پرته د کوم چا او لوري د فشار او مداخلې وکولای سي.

ج: په اوله مرحله کې، تر څو طالبان او امریکا د تصویب مرحلې ته رسیږي، هیڅا ته دې د مداخلې حق نه ورکول کیږي، تر څو مذاکرات په سم ډول او بریا سره پر مخ ولاړ او د سیمې هیوادونو له منفي رقابت څخه په امن کې پاته سي، څکه ټوله سیمه او په ځانګړي ډول ګاونډي هیوادونه کوشش کوي چې په خپله ګټه د مذاکراتو له جریان څخه استفاده وکړي.

د: دا چې د هیواد په دننه او د باندې کې ټول هیواد وال منتظر او ځیني کسان د امریکایې او ناټو قواوو د وتلو وروسته د داخلي ناورین څخه اندیښنه لري، پکار ده چې د افغاني تفاهم سلسله چې د مسکو د غونډې څخه یې پیل سوی؛ بشپړه او دوامداره کړي، تر څو د خلکو اندیښنو ته جواب او د افغانانو خپلمنځي سیاسي جوړ جاړي ته لاره هواره سي.

پاملرنه:

ښه به دا وي که د ملکي تلفاتو، د بندیانو د ضرورتونو او انساني حقونو له پاره، د پرمختیایې پروژو او ملي تأسیساتو د ساتنې، د روغتیایي اړتیاوو او نورو ملکي خدمتونو لپاره، هراړخیز او واکمن کمیسون جوړ سوی وای، تر څو په یو ډول سره د جنګ سرې لمبې را کمې، اړمن او محروم خلک د خپلو حقونو څخه برخمن سي.

همدارنګه ښه به وي که پر داسي طرحه فکر وسي چې د سیاسي قُوې مرکزیت په هیواد کې دننه ځای په ځای سي،که دا کار شونی سي، کیدای سي دغه کرونده (فصل) چې میوه یې تقریباً پخېدو ته ډیره نږدې سوې ده، د غیرمترقبه افتونو څخه په ښه طریقه سره خوندي وساتل سي.

پایله:

زه په دې عقیده یم چې اوس مهال د سولې او سیاسي نوښت ګین (توپ) د طالبانو خواته پروت دی، هیواد وال او نړیوال ټول ورته منتظر دي چې دوی به دا ګین څنګه خپل هدف (ګول) ته ورسوې.

د طالبانو تر ټولو لویه بریا به دا وي چې په ډیر حکیمانه تدبیر سره هم راغلي یرغلګر له هیواده وباسي او هم د مظلومو افغانانو روانه او بهیدونکي وینه ودرول سي، که دغه هدف ته په تحمُل او ښه تدبیر سره ورسېدل، هم به یې د خپلې اوږدې او سختې مبارزې ثمره لاس ته راوړې وي او هم به یې تاریخي ویاړ د تل له پاره ساتلی وي.

د سوکاله او خپلواک افغانستان په هیله

ګلورینې پاڼې

غزل

ملت مرګونو دی ځپلی یاران څه پیژني
له پټو سوړو راوتلي ماران څه پیژني

د آس سورلي یې کړې نه ده پرې پوهیږي کله
قدر د ښه وزیري آس خرکاران څه پیژني

هر یو د دروغو په وعدو قوم ته دهوکه ورکوي
دوي په تن پټ، په نس ماړه دي خواران څه پیژني

په زړه یوه په خوله ئې بله د مشرۍ دعوه کړي
ساده ملت دی دا دوه مخي مشران څه پیژني

دلته د یوې خبرې کلکې پیره وان اوسیږي
دا پردي پاله بې وفا مزدوران څه پیژني

مونږه تباه برباد نا اهله رهبرانو کړلو
د وطن مینه دا د بل نوکران څه پیژني

سوله د ټولو پرګنو یواځینۍ هیله ده
واقعي سوله دا د بل مزدوران څه پیژني

د قیادت معیار معلوم دی طلائي کبیره
تش په نامه له عقله خلاص رهبران څه پیژني

مجنون د ازادۍ یې امام کړی

حمزه حسیني

مجنون دازادۍ یې امام کړی دی دې خلکو
یو سپین سری یې مخته درولی دی دې خلکو

راځئ چې مقتدا یې په دې نورو چارو هم کړو
کفري ځواک یې په هر میدان مات کړی دی دې خلکو

پرون ترېنه منفور وو او په کانو یې ویشتلو
خو نن یې چې زړه ولې پرې بایللی دی دې خلکو

ممکن چې سترې شوي دتیارو له مزلونو
ممکن چې بل مشال یې نن موندلی دی دې خلکو

غیور افغانستان کې بلواکي په ګونډو شوې
زوال دباطل هر وختې لیدلی دی دې خلکو

(حمزه) که خدای کول بیا به په خپلو کې ځاریږو
مسیر یې له باطل را جدا کړی دی دې خلکو

اکرم الدین مفتون

اذان او باران

کوچیانی ژوند خرې کېږدی په بیابان او باران
ډېر مې خوښېږي پسرلی، ګډې، اوښان او باران

په یوه زړونه ابادېږي په بل دښتې غرونه
خدایه یو ځای راوله کلي ته جانان او باران

دا د کوم ستړي مجاهد په مخ خولې رادرومي؟
که نا ؟ په خپلو کې مستي کوي ګلان او باران

دوه غبرګ سپېڅلي رحمتونه دي په تا وریږي
افغانستانه مبارک شه! طالبان او باران

د وطن دا مست ماځیګر به له چا څنګه هیر شي؟
شور د آسونو او د جنګ ستړي غازیان باران

زړه کې لرم د هجرت هاغه نازولی انځور
پیاده مزل، لوږه او تنده ماشومان او باران

د مدرسې جنتي ژونده ارمانجن دې یمه
مسافري او وظیفې او خلاص ګرېوان او باران

هاغه خیرن پیرن لمدې جامې او وېره له مور
ډېر مې یادېږي ماشومتوبه ستا دوران او باران

مفتون رنګ جومات چې وګورم رایاد شي راته
زمونږ د کلي د شهید ملا اذان او باران

غزل!

طالب الهام

هلته ناقوس دلته اذان خاموش
ښايي قیامت شو ټول جهان خاموش

شیطانان بیا تر اسمانونو ولاړل
ستورې ویده دي کهکشان خاموش

د پاک اسلام ستې به ونړیږي
که شي زمونږ افغانستان خاموش

د وخت بادشاه یې سفارش نه مني
یوسف بندي دی او زندان خاموش

ملالې بیا ویده ننګونه ویښ کړه
ژوندی کړه غبږ د یه قربان خاموش

چې اوس طالب الهام غزل نه لیکي
د الهامونو یې کاروان خاموش

طالبان د سیاسي ځواک

استاد محسن

ترڅنګ یو غوره اداري وحدت

هغه ملي غورځنګ نه ماتېږي، نه مورال له لاسه ور کوي، نه یوه لوېشت له خپلو غوښتنو، موخو او ارزښتونو شاته کېږي، نه د وخت ستونزو او شرائطو ته تسلیمېږي او نه هم خپلو قربانیو او ارزښتونو ته شا او پرې معاملې کولو ته تیارېږي چې تر یو مدبر، نوښتګر او مبتکر مدیریت لاندې د افغان غوندې مظلوم خو غیور ملت په ملاتړ ملي بنه خپله او د هغه اصلي بچیان په یو غښتلي انسجام سره راټول او را ټینګ کړي، بلکې د وخت هر ډول ستونزمن پړاونه او سخت شرائط په اوږو وړي او په زړه یې ځایوي، د دې او پربله هره بیه خپلې غوښتنې په نورو مني او خپل ارزښتونه او موخې لاس ته راوړي.

د دې د اثبات لپاره که څه هم تاریخ ډېري خواری کړې او په خپله پراخه لمنه کې یې ډېر څه راټول کړي، خو هغه یې پوهمېنو خلکو ته ساتلي، د نن سبا ځیني بې سواده خلکو ته افسانې ښکاري، تاریخي خلک ـ پیښې ـ وختونه له اوسنیو هغو سره په ژور توپیر کې ګڼي، له تمدن څخه د مسلمانانو لېرې والی احساسوي او... نو ځکه موږ دومره لېرې نه ځو بس همدغه د خپل هېواد په دننه د یوېشتمې پېړۍ د طالبانو غورځنګ او د هغه دوه نیمې لسیزې پخه او خونړۍ جګړه لنډه را أخلو تر څو مو هم په تاریخ کې ساتلې او هم مو نورو ته د خپلې شاهدۍ سره سم یوه ژوندۍ بېلګه وړاندې کړې وي.

یو غورځنګ چې سر راپورته کوي ورسره سم یو نوم هم خپلوي، خو د طالبانو غورځنګ چې د یو نوم ورکي خو عظیم دیني طالب (ملامحمدعمر مجاهد رح) پر سپېڅلي احساس ولاړ و نوم یې نه درلود، وروسته د همدې طالب په نوم تحریک او خوځښت و نومول شو، که څه هم د دې غورځنګ ټول غړي علی الاستیعاب طالبان نه دي بلکې له ولسي- ملاتړه برخمن او ډېری غړي یې افغان وګړي دي، خو چې بنسټ یې یو طالب له دیني طالبانو کېښود، د هغوی د خواریو او سرښېندنو په رنګ کې ولسي- ملاتړ ورسره شو اوس نو یو غښتلی ملي غورځنګ دی چې د هېواد شموله خپلواک او اسلامي نظام او حکومت لپاره هلې ځلې کوي او طالبان نومول کېږي.

دغه غورځنګ که څه هم ځینو به له خپلو ځانګړو زاویو ورته کتل او تر اوسه به یې لاپوره نه پېژاند، خو اوس ټولې نړۍ له خپل ټول جګړه ایز او سیاسي تاریخ سره د یو سیاسي ځواک په توګه پېژندلی او پېژني یې، د خپل هېواد، هېواد والو او هم د اشغال په موخه راغلیو باندېنیو اشغالګرو او د هغوی د کورنیو ګوډاګیانو د وروستي برخلیک ټاکونکې دي، او دا د همغه عظیم طالب د دوه نیمې لسیزې پخواني سپېڅلي احساس رېښتونی تعبیر دی.

په ۲۰۰۱ زېږدېزکال د امریکا په مشرۍ پلان شوې جګړې په پیل کې د طالبانو مشر مرحوم ملامحمد عمر مجاهد د ناټو غړو هېوادو په ګډون نږدې ۵۲ هېوادونو دغه ائتلاف ته د سوله ایز حل له بلنې وروسته د نن ورځې د سولې تر پوښښ لاندې د امریکایانو د تېښتې روان بهیر یوه تاریخ جوړونکې وړاندوینه هم کړې وه چې اوس غربي رسنۍ هم پر غږېږي.

د طالبانو د مشر ساده خبري د مانا لـه مخې ډېري ژوري او بې توله درنې وې، د هغه نظر د پېښو په څرنګوالي نـه بلکې په پایلو یې و، چې پـه تېرو دوو لسېزو کې یـې پـه زړه پـوري عملـي مصـداقونه لـرلي، همدارنګـه د هغـه پرېکړې او تـاکنې بېخي پرځای وې، څوك هم چې یې پر کوم پوستې ګـمارلي پـه تولـه مانا یې وړ و لکه د همدې لپاره چې یې کلونـه روزلي وي، دا له هغه را وروسته تولو ته ښه جوته شوه چې امریکایـانو یـې نظام و نړاوه او طالبان د جګړې یو سخت پړاو ته ننوتل.

مـلا عبـدالغني بـرادر یـې دوهـم مرسـتیال کـړ چـې د اشغالګرو پروړاندې د تېرې ۱۸کلنې جګړې په ګډون د طالبانو د مدیریت د تقریباً تولو چارو مخکښ طراح او پـه هغـه کې د محوري رول څښتن و، اوس خو دنیا ویني چې د هغه ازادېـدل، د سیاسي دفتر غړیتوب او بیا یې د مشر پـه توګـه ګمارنـه مـاتې خوړلی دښمن هم یو ښه ګـام ګڼـي، همـدا راز یـواځې پـه مـلا اختر محمد منصور یې د دوو مرستیالانو ځای ډك کړ، او بیا دنیا ولیدل چې هغه یو ترټولو ځیرك، مستعد او مدبر مشر ـ وځلېـد او د هېواد یو روښانه تاریخ یې پـه خپـل نـوم کـړ، مـلا عبدالسـلام ضعیف یې په پاکستان کې افغان سفیر کـړ چـې اوس هـم د یـو غښتلي سیاسـتوال او د لـوړې سـویې یـو بریـالي سـفیر رول ادا کوي او ماتې خوړلی دښمن هم ترې په خوندې توګه د تېښـتې سلا مشورې اخلي.

دې چارو دا په اثبات رسولې چې د طالبانو مشر یو د ژور فراست څښتن، درونـد روحاني شخص، د هر اړخیز، جهادي او سیاسي مکتب او فکر سرچینه وه چې نن لا هم طالبان د هغـه ساده پرېکړو او څرګندونو په رڼا کې پر چټکی سره منزل ته پـه رسـېدو دي، پـه هېـواد کـې لـه اتلـس کلنـې اوږدې جګـړې وروسته د هغې رانږدې شوې پایلې لکه څنګه چې یې د طالبانو مشر وړاندوینه کړې وه هغسي وینو.

د پام وړ دا چې طالبانو د خپلو تورو تر برك لاندې اېسارو امریکایانو برخلیـك اوس خپلـو هغـو چـارواکو تـه پـه لاس ور کړی چې (په نړیواله سطحه ځیرك او له ژور فکر څخه بـرخمن ډیپلوماټان بلل کېږي) همدغو امریکایانو یوه لسېزه اسیر کـړي، توهین کړي، له هرډول انساني حقونو بې برخي کـړي او پـه دې وروستیو کې طالبانو ترې بېرته فاتحانه راخوشي کـړي و.

طالبانو په خپلو نـو یـو ابتکـارونو لـه وخـت، چاپېریـال او شرائطو سره سم د خپل لـومړي مشر ـ لـه پرېکـړو او څرګنـدونو څخه پر زړه پوري ګټه پورتـه کـړې، پـه دې وروسـتیو کـې پـه داسي تـاریخ جـوړونکي پـړاو کـې چـې د قطـر سـیاسي دفـتر چـارواکي یـې لـه امریکایـانو سره د۱۸کلنـې جګـړې پـای تـه رسولو، په هېواد کې له ۴۰کلنی جګـړې وروسته د یـو اسـلامي نظام راوستلو په چاره بوخت او د هېـواد، یـو بشـپړ ملـت، خپـل دوه نیمي لسیزي غورځنګ، یرغلګرو امریکایانو او د هغـوی د کورنیو ګوډاګیانو وروستی برخلیك ټاکي ورسره په یـو وخـت د مشرـتابه لـه لـزوم دیـد سره سـم د همـدې دفـتر پـه ګـډون د کمېسیونونو او لویو ادارو نـږدې ۴۰لـوړ پـوړو چـارواکو تـاکنې ترسره شوې او ځینې نور له پخوانیو دندو ګوښه شول، خـو نـه د قطر دفتر، نه د کوم کمېسیون او اداري چارې ذره هومره ټکنـی شوې او نه هـم کـوم طالـب چـارواکي ناخوښـي څرګنـده کـړه، همدا راز په دې وروستیو کې د قطر دفـتر مشر ـ مـلا عبـدالغني برادر له لوري د څـوارلس کسیز مـذاکراتي ټیـم ټاکنـه چـې پـه نـږدې او لېـري تـاریخ کـې بېلګـه نـه لـري د هغـو ژور سـیاسي بصـیرت څرګنـدوي چـې اوس بایـد طالبـان د سـیاسي ځـواك ترڅنګ په یو غوره اداري جوړښت هم و پېژندل شي.

د ټولنیز لېدلوري له مخې دا په یو تر ټولـو حسـاس مهـال چې طالبان ورسره مخ دي د یو بشپړ نظام ترټولو مهمـې چـارې دي چـې طالبـانو د خپـل نـیم فعـال نظـام د نوښـتګر او مبتکـر مدبریت په لرلو له پوره ډاډ سره د یو مکتوب په صادرولو ترسره کړې، خو فعال جمهوري نظامونه یې پـه مسـاعدو حـالاتو کـې هم په اوږده موده کې په لوړه بیه سرتـه رسـوي، لـه سرغړونـو او نانـدریو سره پکـې مـخ کېـږي او پایلـه کـې یـې حتمـي ځینـې چارواکي د رایو په ډېرښت، ناقانونه چـارو او لـه پټـولارو داسي رتبې ته پورته شي چې هېڅ وړتیایي نه لري.

د طالبانو په وړاندې په افغانستان کې د امریکایانو له ماتې وروسته چې هغوی د سولې په نـوم د تېښـتې هڅـه وکـړه داسي فشار یې پرې نښود چې په طالبانو یې نه وي راوړی، خو په هـر یوه جلا له داسي ځواب سره مخ شول چې دهغه تمه یې هم نـه لرله، طالبانو د امریکایانو فشارونه په خپله ګټه تغیر او هغه ټولي کمزورتیاوي دنیا ته رسوا کړې چې امریکایان په افغانستان کـې

ورسره مخ شوي او دوی له رقيبو هېوادونو او په ټوله کې له نړيوالو پټولې، او ورسره يې دا چې طالبان لـه جگـړې ستړي شوي او د افغانستان جگړه گټونکی نلـري غـبرگ بې اساسه ثابت کړل چې هم يې جگړه و گټلـه او هـم لا ستړي نه دي.

دا چې طالبان د گټنې ترڅنگ نه ستړې کېدونکې دي همدېته په کتو امريکايان وېره لري چې که په هر نـو م و تبنتي چېرته به يې هم طالبان پرېنږدي، نو ځکه نـور هېڅ نـه غـواړي يـواځې دا چې پـه پـرده کـې ووزي او طالبان ورته په راتلونکې کې گواښ جوړ نکـړي، خـو د طالبانو دريځ له پيله هم څرگند و چې نه په تېر کې کـوم هېـواد تـه گـواښ و اونـه هـم پـه راتلـونکې کـې گـواښ جوړېدل غواړي.

طالبان له امريکايانو سره روغې جوړې ته د هېـواد او ولس د گټو په بنسټ تيار شوي، خو بيـاهم د جگـړې جـاري سـاتلو لامـل شـايد دا وي چـې د سـوله کـونکې جهت په توگه د هغو د ځواکمنې نبنـه او د افغـان ولـس په لاس کې د فشار يواځنی لاره ده چې بهـرني اسـتعمار گر پرې وشړي، د جگړې دَرَوَل د همدې يوه فشـار هـم له منځه وړل او د طالبانو له لاسه د وسلې اخېستلو په مانا دي، نو ځکـه دوی نـه مخکـې لـه روغـې جـوړې، نـه د هغې په جريـان کـې او نـه هـم لـه هغـې وروسـته ترهغـه اوربند ته تيار دي ترڅو چې وروستی اشغالگر پوځې لا نـه وي وتلی.

په قطر کې له طالبانو سره د خليلـزاد او ورسره لـس کسـيز امريکايي پلاوي شپږ ورځنی اوږدې ناستې وروسته د هغـې پـه پرېکړو او څرنگوالي کې ابهام تقريباً نږدې وه څېنـې خلـك پـه شکونو کې واچـوي، خـو د هغـې پـه اړه طالبـانو ښـکاره کـړې خوښي، خوښبيني او ورسره د دوی پر ابتکار د ټولو ټينگ بـاور يې مخه ونېوه، طالبان ښه پوهېږي چې نـاوړه پرېکـړې زيـاتر د راتلونکو جگړو پيلامه گرځي، لکه له لـومړی نړيـوالي جگـړې وروسته د بريالی غاړي شريك غړي له ماتې خوړلې المـان سره د فارس په ورسای کې په تسـلمېدو او د شـويو زيـانونو د بـدلې پرېکـړه چـې د المـان پـه سـپکاوي او د هغـه پـه حـق تلفـی را څرخېده د دوهمې نړيوالې جگړې لامل شوه.

طالبانو هر وخت د خپل مقابل لوري هڅې په خپلـه گټـه تغېر کړې او بيا نه يواځې دا چې هغه ته خپلـو هڅـو گټـه نـه ده کړې بلکې په لويو جنجالونو ورته اوښتې، په دې وروستيو کـې د امريکا د سولي سـړي! لـه طالبـانو سره د تـاکلې اجنـډا څخـه وروسته کېدو د طالبانو ډيپلوماسی لا غښتلې کـړه چـې خليلـزاد په خپلو تگيو برگيو کې ناکام قطر ته مخه کړه او بيا دنيـا ولېـدل چې گټه يې چاته وه؟ طالبانو په هره برخه کې د نوښـت الهـام د مقابل لوري له همدې ناکامو هڅـو أخېسـتی چـې هغـوی د يـو مبتکر او نوښتگر قشر په توگه راپېژني.

په دې وروستيو کې د طالبانو او افغان سياسـيون، گونـدې مشرانو، ازادو لېکولانو، پخوانيـو دولتـي چـارواکو، لـه پاکسـتان

ځخه د۳میلیون مهاجرېنو په نمائندګۍ پلاوي او... ترمنځ په مسکو کې د غونډې په مهال ټولو د طالبانو داعیه او قوي موقف وستایل او له هغه یې ټېنګ ملاتړ وکړ چې د طالبانو یو له مهمو ابتکارونو یې بللای شو، د هغوی روان نوښتونه، قوي ډیپلوماسي او په نړیواله کچه منل شوې داعیه په اسانۍ سره کولای شي په راتلونکې کې افغانستان د نړیوالو او سیمه ایزو هېوادونو له هرډول ګواښ څخه خوندي کړي.

خو یوه خبره چې باید د سولي په روان بهیر کې ورته ځانګړې پاملرنه وشي دا چې له طالبانو سره د نورو هېوادو مسلمان ولسونه او هلته میشت افغان وګړي هم د افغانیت، جهاد او اسلام پالنې ژوري رېښې لري، هغوی ورپوري له هېلو ډک زړونه تړلي او د ټولو مظلومو مسلمانانو په اړه یې ورته سترګې را اوړي، لکه په قطر کې د شپږ ورځنۍ ناستې په مهال دا اوازه وه چې ګڼې طالبانو د خپلو بندیانو په لړ کې د پاکستان کراچۍ ښار یوې مېرمنې (عافیې صدیقي) د ازادولو وړاندېز هم کړی دی، نو چې خدای مکړه کوم داسي څه صورت ونه مومي چې له مسلمانو ولسونو، اسلامي نړۍ او هلته پرتو افغانانو سره د طالبانو واټن رامنځته کړي، طالبان دي د هغو دربدریو او په دوی پوري یې تړلو هېلو په پام کې نېولو سره بیدار اوسي ترڅو داسي څه رامنځته نشي چې ترې په ټوټه کېدو راځرخي.

د سولي په دې نازک پړاو او د طالبانو د ډیپلوماسۍ په رڼا کې خو نه پوهېږو، دا چې د عافیې په بند د دې هېواد ولس له زړه خواشیني او اندېښمن دی، له بل لوري که څه هم د هغوی فکر د طالبانو په اړه تحریف او اړول شوی، خو دا مهال یې د عافیې د ازادولو سترګي ورته را اوړي، نو که طالبان د چانس په لرلو د هغې په را ازادولو ورسره خواخوږي وښیي دابه ډېره ګټه او د سولي د بهیر یوه بله لاسته راوړنه وي.

په پای کې حضراتو طالبانو ته ورپه یادوو چې ستا سو پر ډیپلو ماسۍ په ټېنګ باور ولس او خواخوږو په تېر وار شپږ ورځنۍ ناسته کې ستاسو پرېکړې که څه هم مبهمې پاتې دي په سترګو منلي، دوی اوس پوهېدلي چې طالبان څومره چې مهمه ده تر وسلوالي جګړې به هم په لوړ ابتکار د سولي پروسه په مخ بیايي او ښکاره فضاء یې نوره هم تمه پخه کړې، نو د سولي په روانه پروسه کې امریکایي لوري ته تر بیا ناسته، همدا راز د مشورې او پر اجنډا د بیاکتنې باید یواځې دومره وخت هغه هم پر معقول استدلال ور کړل شي چې اړتیا یې لېدله کېږي.

بل دا چې وړمه ورځ روېټرز د خلیزاد په حواله یو راپور خپور کړی چې پکې هغه یو ځل بیا د طالبانو له لوري د کابل له اداري سره خبرې او د اوربند شرائط د امریکایانو د وتلو په مخکې دوه مهم خنډونه ښودلي، هغه ویلي امریکا د باور رامنځته کېدو لپاره اوربند او له وتلو مخکې د طالبانو او کابل اداري ترمنځ ډیالوګ پیلېدل غواړي، د دې ترځنګ یې له دواړو څخه د طالبانو شاته کېدو لاملونه هم دا ښودلي چې طالبان په اوربند کې د خپلو جنګیالیو د مورال کمزوري کېدل ویني او له کابل اداري سره خبرې د هغو له لوري د یادې اداري په رسمیت پېژندلو په مانا ګڼي، که څه هم نه دا په خلیلزاد کومه اړه لري او نه هم واقعي همدا لاملو نه کېدایشي.

خو طالبان دي جدي په پام کې لري چې سیاسي ځواک یې د فشار یواځېنۍ وسیله او د بریا راز دی خو د اوربند په نوم یې له لاسه ور نکړي، امریکایان تر اوسه د ګڼ شمېر فشارونو څخه یواځې په ولسي وګړو شپني چاپې او د ټولوژني بمباری هم نه بندوي، د طالبانو د اوربند په شرط که خپل ټول فشارونه ختموي هم باید ونه منل شي، بلکې د هلمند، کونړ میدان او...د پیښو د ښو چاغو بدلو په بڼه زورور او دروند چپاونه پکار دي ترڅو یو خوا فشار شي او بل خوا امریکایان خپل د عام وژنې فشار د ماتو او زیانونو تسلسل و بولي.

له کابل اداري سره ناسته د مانا له مخې تر اوربند هم زیاته ګواښونکې ده چې په تېر کې د هغې د ټولو کړنو د رسمي منلو، د طالب لوري پر خپل هرڅه د بطلان کرښه او پر بغاوت د اعتراف په مانا ده او د افغانستان د راتلونکې لپاره ستر ګواښونه او ننګوني را و لاړولای شي، خو طالبان دي بیا هم نه هېروي چې سولي ته د تیارېدو مقصد د هېواد او ولس ګټې او د اشغالګرو ابرومندانه اېستل و، له دې پرته هرڅه باید پروخت او ژور و ارزول شي چې ترکومه بریالي دي؟! ان شاءالله تعالی بری به زموږ وي او هرډول ازادي به ترلاسه کوو.

وما ذالک علی الله بعزیز.

د مسکو په غونډه کې

د اسلامي امارت د استازي د وینا بشپړ متن

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلي علی الرسوله الکریم وعلی آله واصحابه اجمعین أما بعد:

تر هر څه د مخه له ټولو ښاغلیو او آغلیو ګډونوالو څخه مننه کوم او کور ودانی ورته وایم چې زمونږ د ګران هیواد افغانستان او مظلوم افغان ولس د ستونزو د هواري په اړه د بحث او نظر شریکولو لپاره دلته سره راغونډ شوي، په ځانګړي ډول د روسیې د فدراسیون د حکومت څخه مننه کوو چې پخپل هیواد کې یې ددې مهمې ناستې لپاره آسانتیاوې برابرې کړې دي.

اوس غواړم چې د خپل ګران هیواد د روان وضعیت په هکله ددې ناستې له ګډونوالو سره معلومات او د افغانستان د اسلامي امارت موقف شریک کړم.

د افغانستان اسلامي امارت د االله تعالی په نصرت او بیا د افغان مسلمان ولس په مرسته، د تیرو تقریباً دوو لسیزو راهیسې د امریکې او د هغې د متحدینو د یرغل په وړاندې جهاد کوي. پدې موده کې یې د سر او مال هر ډول قربانی ورکړې. ټولې نړی ته یې په کراتو ویلي چې د هیواد نه بهر اجنډا نلرو خو د هیواد خپلواکي او هلته زمونږ د دیني او افغاني ارزښتونو سره سم اسلامي نظام جوړول زمونږ حق دی. د همدې مقصد لپاره په نظامي او سیاسي برخو کې هلې ځلې کوي. د قطر هیواد پلازمینې دوحه کې د افغانستان د مسئلې د سوله ایز حل لپاره سیاسي دفتر شتون لري ترڅو امریکې او نورو هیوادونو ته یې دا پلمه په لاس ورنشي چې اسلامي امارت یوازې په نظامي حل باور لري، د مسئلې سیاسي حل نغواړي او یا دا چې وواییمو د مسئلې سوله ایز حل غواړو خو د اسلامي امارت ادرس معلوم نه دی.

لکه څنګه چې تاسې ته معلومه ده، د اسلامي امارت سیاسي دفتر د نورو هیوادونو ترڅنګ د امریکې هیواد د هئیتونو سره پرله پسې غونډې کړې دي. دا غونډې د امریکې د تیرې اداري په وخت کې پیل او تر اوسه پورې دوام لري. د روان کال د جنوري په وروستیو ورځو کې د امریکایي ټیم سره اوږدې خبرې وشوې. دا ځل د تیرو غونډو په خلاف چې اجنډا به یې پراخه وه، په مشخصه توګه په دوو ټکیو خبرې وشوې چې هغه له افغانستان څخه د ټولو خارجي قواوو وتل او د نورو په خلاف د افغانستان د خاورې نه استعمالول ؤ. د اوږد بحث وروسته دواړه خواوې توافق ته ورسیدې چې په پورتنیو دوو برخو کې به د موافقو د مسودو د جوړولو لپاره دوه ګډې کاري ډلې وټاکي، دغه ډلې به په راتلونکو نږدې ورځو کې خپل کار پیل کړي.

باید ووایو د اشغال ختمول د ټولو افغانانو ګډ کار او مسئولیت دی. ددې ویاړ هم ټول ملت ته راجع کیږي. د اشغال خاتمې وروسته اسلامي امارت د قدرت د انحصار په فکر کې نه دی بلکې غواړي د ټولو افغانانو سره په مشوره، په ګران هیواد کې یو افغان شموله اسلامي نظام قائم کړي.

سوله:

- **د سولې اړتیا:**

سوله د هرې ټولنې لومړی اړتیا ده، په تیره بیا د مظلومو افغانانو تر ټولو مهمه غوښتنه ده، له سولې پرته

آرام ژوند او اقتصادي، تعليمي، فرهنګي، اجتماعي او سياسي پرمختګ ناشونی دی، يوازې په سوله کې ولسونو او هيوادونو پرمختګ کړی، لاکن سوله يوازې په ويناوو او شعارونو منځ ته نه راځي، لکه په تيره يوه نيمه لسيزه کې چې د پروژې په توګه استفاده ترې شوې ده، بلکې کلکې ارادې او ښکاره عمل ته اړتيا لري، هر چيرې چې د ولسونو څخه د آزادی حق واخيستل شي، ظاهره ده چې هلته به سوله له منځه ځي او ځای به يې جنګونه او جګړې نيسي.

جنګ د افغانستان په اسلامي امارت او افغان ولس تپل شوی دی؛ ځکه چې هيواد يې اشغال شوی، او اشغالګرو يو اسلامي خپلواک نظام له منځه وړی، نو تر ټولو د مخه بايد هغه عوامل له منځه لاړ شي چې په افغانستان کې د سولې د منځه تګ او د جګړې د دوام باعث ګرځيدلي دي.

- **د سولې لپاره مقدماتي اقدامات:**

زموږ په نظرد سولې خبرو لپاره بايد ځينې مقدماتي ګامونه پورته شي، چې هغه د سولې لپاره ضروري دي او د اعتماد سازي برخه ده لکه:

- **تورليست ختمول:**

د سولې پروسه او تورليست دوه متضاد مفاهيم دي، چې يو له بل سره اړخ نه لګوي؛ نو په کار ده چې دغه بې بنياده تورليست او د جايزې ليست چې د خپلو ګټو لپاره د فشار په توګه کارول کيږي ختم شي، تر څو د اسلامي امارت استازي وکولای شي پرته له ستونزو د سولې اړوند خبرو کې په بيلابيلو ځايونو کې برخه واخلي.

دا هم ضروري ده چې د سولې دواړه خواوې په آزاده فضا کې چې د دوی طبيعي حق دی او د هر ډول فشار پرته، د سولې پروسه پر مخ بوزي، نه دا چې يو لوری په تور ليست کې وي، او بل لوری آزادي ولري، دغه بې انډوله پروسه مطلوبه نتيجه نه ورکوي.

- **د بنديانو آزادول:**

د مجاهدينو او د بې ګناه افغانانو نيول او زندانونو ته اچول د سولې ضد عمل دی، امريکا او د دوی تحت الحمايه رژيم په لسګونو زره افغانان او مجاهدين په خپلو پټو او ښکاره زندانونو کې اچولي او له هغوی سره د ټولو قوانينو خلاف ناوړه او بد چلند کوي، دا څنګه کيدای شي چې يو څوک دې له يو طرف نه د سولې چيغې وهي او له بل طرفه دې داسې ناوړه او غير قانوني کړنې ترسره کوي؟ دا په خپله د سولې اړوند يو مانع دی، د واقعې سولې راتلو او فاصلې کمولو له پاره بايد جانب مقابل د اسلامي امارت مجاهدين او عام بې ګناه افغانان چې له مجاهدينو سره د تړاو په تور زندانونو کې دي، آزاد کړي شي.

- **په رسمي توګه د دفتر پرانيستل:**

د خبرو لپاره ځای او د ارتباط محل چې د دفتر په شکل کې وي د سولې لپاره ضرورت دی، اوس د خبرو ځای په توګه د افغانستان اسلامي امارت ښکاره او رسمي ادرس چې يو ابتدايي ضرورت دی، نشته، بايد وواييو د سولې اړوند منظم مجلسونه يوازې د رسمي دفتر په شتون کې ترسره کيدای شي، رسمي دفتر د دې لپاره هم ضرور دی چې د سولې اړوند مطبوعاتي بيانونه ورکړي، د خلکو پوښتنو ته د يوه مسئول جهت په توګه ځواب وواييي او د ولس او نړيوالو انديښنې ليرې کړي، همداراز د سولې ضد کړيو ته به دا بهانه په لاس نه ورځي چې د اسلامي امارت رسمي ادرس نه دی معلوم.

- **د افغانستان اسلامي امارت په خلاف زهرجن تبليغات بندول:**

ټولو ته جوته ده چې د اشغالګرو په ملاتړ د افغانستان اسلامي امارت خلاف پراخه زهرجن تبليغات کيږي، په اسلامي امارت پورې بې بنياده تورونه پورې کيږي ، چې دا په خپله د سولې د پرمختګ مانع ګرځي، ځيني استخباراتي کړی ناوړه پيښو ته لاس اچوي، مثلا: پلونه الوزوي، د ښوونځيو په شاګردانو تيزاب پاشي او مسموم يې، د سرک تر غاړې په ملکي موټرونو چاودنې کوي، اختطافونه او داسې نور جنايات تر سره کوي، او بيا په پټو سترګو دغه پيښې د اسلامي امارت په خلاف د تبليغاتو لپاره د خامو موادو په توګه استعمالوي، او هغه نتايج هم نه اعلانيږي کله چې د تحقيقاتو په پای کې ثابته شي چې دغه ډول ناوړه اعمال د اسلامي امارت د

مجاهدینو نه بلکې د استخباراتي کړیو دي، دا ځکه چې دوی فکر کوي په دې ډول به د افغانستان اسلامي امارت له ولس او نړۍ څخه منزوي کړي، نو دغه زهرجن او بې بنیاده تبلیغات باید د سولې په خاطر و درول شي؛ ځکه د داسې زهرجنو تبلیغاتو په څپو کې حقیقت او سوله دواړه قرباني کیږي.

د سولې په وړاندې خنډونه:

- **اشغال**

د واقعي سولې لپاره باید د ولس ارادې ته غاړه کیښودل شي، اشغال پای ته ورسول شي، ځکه تاریخ ثابته کړې چې افغان ولس هیڅ وخت اشغال ته غاړه نه ده ایښې، اشغال د ټولو غمیزو مور ده، په افغانستان کې سوله او د خارجي قواوو وتل یو له بل سره تړلي دي؛ ځکه چې د خارجي قواوو وتل د سولې لپاره عملي زمینه برابروي، خو متاسفانه لا تر اوسه سوله په افغانستان کې د یو تکتیک په توګه کارول شوې او دا د ولس په سترګو کې خاورې اچول دي.

د اسلامي امارت تر شا افغان مجاهد ولس ټینګ ولاړ دی، یرغلګر او اډیوالان یې باید ومني چې د نړۍ هیڅ متجاوز قوت ولسي قوت له مینځه نشي وړلای، او نه ستونزه په غیر واقعي استراتیژیو هواریږي، اصلي خبره دا ده چې د سولې لپاره پخې ارادې او په واقعیتونو ولاړې ستراتیژۍ ته اړتیا ده چې په هغې کې د اشغال خاتمه مهم جزء دی.

- **د یوه اسلامي خپلواک نظام نه شتون**

په افغانستان کې د سولې او ثبات لپاره باید د داسې افغان شموله خپلواک اسلامي نظام په رامنځته کیدو توافق وشي چې افغانانو ته د منلو وړ او د اسلامي او افغاني ارزښتونو ځرګندوی وي؛ ځکه چې اسلام د افغان ولس دین او د هیواد د اقتصادي ترقۍ، اجتماعي عدالت او ملي یو والي ضامن دی.

- **د سولې د توافقاتو د تضمین نه شتون**

د سولې پروسه تضمین ته اړتیا لري؛ ځکه د دې پرته د سولې د توافقاتو مادې په سمه توګه نشي پلې کیدای، لهذا ملګري ملتونه، لوی قوتونه، داسلامي کنفرانس غړي او تسهیلاتو برابروونکي هیوادونه باید د توافقاتو د عملي کیدو تضمین وکړي.

- **فعلي اساسي قانون**

اساسي قانون د هر هیواد لپاره مبرم ضرورت دی؛ ځکه چې له هغه پرته د ولس او هیواد د پرمختګ چارې له ګڼو ستونزو او ګډوډیو سره مخامخ کیږي، د اساسي قانون له لارې د افغانستان د هر وګړي شخصي، مدني او سیاسي حقوق تنظیمیږي، د حکومت او ولس په مینځ کې د اړیکو ځرنګوالی روښانه کوي، د حکومتي درې ګونو قواوو پر توازن رڼا اچوي، تشکیلات او واک مشخصوي، په مجموع کې د افغانستان د کورني او بهرني سیاست په اړه تګلاره ټاکي.

د کابل اداري موجوده اساسي قانون د اعتبار وړ نه دی؛ ځکه چې د غرب څخه کاپي شوی، او د اشغال تر سیوري لاندې د افغانستان په مسلمانې ټولنې تپل شوی دی، نه د افغانانو غوښتنو ته ځواب ویلای شي، او نه عملي کیدای شي؛ ځکه چې مواد یې په خپلو کې متضاد او مبهم دي، خپله د کابل اداري د لوړ پوړو چارواکو له خوا په پرله پسې ډول نقض کیږي، بلکې فعلي اداره خپله د اساسي قانون خلاف ده؛ لهذا اوسنی اساسي قانون په فعلي بڼه د سولې په وړاندې یو لوی خنډ دی.

له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت د خپل ګران هیواد او غیور ولس د پرمختګ، هوسا ژوند او د چارو د بهبود لپاره یو داسې اساسي قانون ضرور بولي چې د اسلام د مبارک دین د اصولو، ملي ګټو، تاریخي ویاړونو او ټولنیز عدالت پر بنسټ ولاړ وي، انساني کرامت، ملي ارزښتونو او بشري حقوقو ته ژمن وي، د هیواد د ځمکنۍ بشپړتیا او د ټولو هیوادوالو د ټولو حقوقو ضمانت وکړای شي .د داسې اساسي قانون مسوده باید د حریت په آزاده فضا کې د افغاني علماوو او پوهانو لخوا ترتیب او بیا تصویب شي.

د ځینو مهمو موضوعاتو په هکله د افغانستان داسلامي امارت موقف:

د نورو هیوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کول:

د افغانستان اسلامي امارت د خپل هیواد د خپلواکۍ لپاره مشروع هلې ځلې کوي چې دا د افغان مسلمان ولس طبیعي او انساني حق دی. د خپل هیواد آزادي غوښتل او هلته د خپل ولس د عقیدې مطابق اسلامي نظام جوړول په هیڅ قانون کې ترهګري نشي ګڼل کیدای. غواړو ووایو چې موږ خارجي جنډا نه لرو. اسلامي امارت له همغه پیل څخه عملاً ثابته کړې چې په نورو هیوادونو کې یې هیڅ ډول لاسوهنه نه ده کړې. همداراز، بل چاته هم اجازه نه ورکوو چې د افغانستان خاوره دګاونډیو هیوادونو په ګډون د نورو هیوادونو په خلاف استعمال کړي. زموږ ترجیح دا ده چې د افغانستان مسئله له سولیزي لارې حل کړو. امریکا باید اشغال ختم کړي او د افغانستان ولس ته د خپلې عقیدې سره سم د حکومت جوړونې په ګډون د هغوی په مشروع حقوقو قائل شي. له خپلواکۍ وروسته، موږ غواړو دګاونډیانو په ګډون د نړۍ له هیوادونو سره مثبت او تعمیري اړیکې ولرو او د هیواد په بیارغونه او پرمختګ کې د هغوی مرستو ته هرکلی وایو. همداشان غواړو د سیمې او نړۍ په ثبات او سوله کې رغنده رول ولوبوو.

د مخدره موادو د قاچاق، کښت او استعمال مخنیوی:

د اسلامي امارت د علني واکمنۍ په وخت کې د کوکنارو کښت صفر ته راټیټ شوی و او د افغانانو په منځ کې پر هیروئینو د معتاد کسانو کچه بلکل د نشت برابر وه. خو په افغانستان تر امریکایي یرغل وروسته د کوکنارو د کرل شوي ځمکې مساحت ۳۲۸ زره هکتاره ځمکې ته رسیدلې او د ۱۸ کلن اشغال تر سیوري لاندې اوس په افغانستان کې د معتادینو شمیر تقریباً ۴ ملیونو کسانو ته رسیدلی دی.

د ملګرو ملتونو له نشه یې توکو سره د مبارزې سازمان راپور له مخې په ۲۰۱۷ کال کې د نشه یي توکو تولید ۸۷ سلنه او کښت یې ۶۳ سلنه لوړ شوی دی چې د تولید شویو نشه یي توکو پیمانه ۹۰۰۰ میټریک ټنو ته رسیدلې ده. د اسلامي امارت پالیسي د کوکنارو د کښت او مخدره موادو د قاچاق مخنیوی دی. که په افغانستان کې جګړه ختمیږي، د افغانستان اسلامي امارت مصمم دی چې په ټول هیواد کې د کوکنارو کښت او د مخدره موادو استعمال او قاچاق صفر ته راټیټ کړي او پدې برخه کې له ګاونډیو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو سره مرستې او هماهنګۍ ته آماده دی.

د ملکي تلفاتو مخنیوی

مونږ ګورو چې په دې ورستیو کې په افغانستان کې د روانې تپل شوې جګړې له امله د ملکي تلفاتو کچه مخ په زیاتیدو ده، د خپل ولس دغه حالت نه یواځې مونږ بلکې هر با احساسه افغان ډیر ځوروي، افغان ولس زمونږ وجود او تن دی او په تلف یې زمونږ خپل وجود ته تاوان رسیږي.

حتی زموږ زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخندازاده حفظه الله په اختریزو پیغامونو کې مجاهدینو ته جدي لارښوونې کړې چې په کومه سیمه کې د ملکي تلفاتو اندېښنه وي هلته باید د عملیاتو څخه ډډه وشي. ددې علاوه، اسلامي امارت پخپلو تشکیلاتو کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي په نامه مستقله اداره تأسیس کړې ده چې د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره کار کوي، او په هر ولایت کې خپل نماینده ګان لري چې پیښې له نږدې څخه په دقت څیړي. دغه اداره د کال په اوږدو کې څو وارې د ملکي تلفاتو په اړه مؤثق راپورونه نشروي.

ډیری وختونه اسلامي امارت خپل عملیات له دې امله ځنډولي چې هلته د ملکي تلفاتو اندېښنه وي، خو امریکایان او ددوی ملګري په ملکي کورونو د شپې چاپې وهي، ړندې بمبارۍ کوی او په ملکي سیمو درنې وسلې استعمالوي او حتی د ښارونو څخه خلک په اشتباه نیسي او بیا یې تر تعذیب او شکنجو لاندې وژني. اوس د امریکې د نوې پالیسي سره بمبار او شپني عملیات نور هم ډیر شوي چې ورسره د ملکي تلفاتو ګراف هم لوړ شوی خو ډیرې رسنۍ بیا داسې خبرونه، نه نشروي او دغه ډول

پیښې بې ثبته پاتې کیږي. ځینې رسنۍ او جهتونه کوښښ کوي چې د ملکي تلفاتو اصلي عاملین پټ کړي، چې دا کار نور هم مرتکبینو ته جرأت ورکوي چې خپلو جنایاتو ته ادامه ورکړي.

د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د امریکا ځانګړې څارونکې اداره یا سیګار وایي چې د دوی څیړنې موندلې چې په ۲۰۱۸ کال کې پر افغانستان د امریکایي ځواکونو بمباري په بیساري ډول زیاته شوې او د همدې کال په لومړي دریو میاشتو کې یې دوولس سوه بمونه غورځولي. د ۲۰۱۸ کال د اپریل په دویمه نیټه یې د یوې بیرحمانه هوایي برید په نتیجه کې ، دکندز ولایت د دشت ارچي ولسوالۍ په یوه مدرسه کې ۱۰۰ تنه د قرآن کریم تنکي حافظان شهیدان او سل تنه نور ټپیان کړل. دا د داسې دردوونکو پیښو یوه نمونه ده. کنه نو په تیرو اتلسو کلونو کې دغه شان په سلګونو پیښې شوې چې یا د خلکو کورونه او یا تعلیمي مراکز په نښه شوي دي.

اسلامي امارت د ملکي تلفاتو مخنیوي لپاره لاندې عملي اقدامات کړي او کوي یې:

۱: د ملکي تلفاتو د مخنیوي په موخه په منظم ډول مجاهدینو ته د علماوو له خوا لارښووني کیږي او په دې هکله باقاعده سیمینارونه دائریږي.

۲: د مجاهدینو لیکو ته وخت په وخت هیئتونه ځي ترڅو د ملکي تلفاتو پیښې وڅیړي او مرتکبین یې محاکمه کړي.

دا هم باید ووایو چې اسلامي امارت د عام المنفعة تاسیساتو جوړول او ساتل د خپل هیواد او هیوادوالو د هوسا ژوند لپاره یو مبرم ضرورت بولي. پلونه، تونلونه، د اوبو بندونه، بریښنا کوټونه، د بریښنا د انتقال مراکز، د کانونو د استخراج او د نفتو د تصفیې مراکز، او سامان الات یې، تعلیمي ادارې، مدرسې، مساجد، ښوونځي، پوهنتونونه، صحي مراکز، کلینیکونه، روغتونونه، او داسې نور عام المنفعة ځایونه اسلامي امارت بیت المال او د ولس مشترک مال ګڼي او ساتنه یې خپله وجیبه بولي. مور دیني او عصري زده کړې د ټولو افغانانو او افغاني ټولنې د کامیابۍ لپاره اړینې بولو.

بشري مرستې

د افغانستان اسلامي امارت که له یوه اړخه د هیواد د خپلواکۍ لپاره په مبارزه بوخت دی له بله اړخه د امارت تر کنټرول لاندې ساحو کې د هیوادوالو د امنیت، خوندیتوب او سوکالۍ په اړه هم جدي ګامونه پورته کړي دي.

روان وضعیت ته په کتو سره افغان ولس تر بل هر وخت زیات بشري مرستو ته ضرورت لري، ددغه ضرورت د پوره کولو لپاره اسلامي امارت نه یوازې دا چې د بشري مرستو په رسولو کې د بشر دوسته هیوادونو، ملګرو ملتونو ادارې، نړیوالو مؤسساتو، ملي سوداګرو او نورو بشري بنسټونو امنیت ته ځان ژمن بولي بلکې په دوی باندې غږ کوي چې د بشري خواخوږۍ له مخې د افغانستان اسلامي امارت په ساحو کې مستحقو خلکو ته بشري مرستې ورسوي.

اسلامي امارت د خپل کنټرول لاندې ساحو کې ددوی د بشري فعالیتونو لپاره زمینه برابره کړې ده، چې تر ټولو ښه دلیل یې دا دی چې د افغانستان د اسلامي امارت محترم زعیم د تیر کال په اختریز پیغام کې په مؤسساتو باندې غږ وکړ چې د اسلامي امارت دکنټرول لاندې ساحو ته راشي، مونږ یې د امنیت تضمین کوو.

د ښځو حقوق

اسلامي امارت ښځه د مسلماني ټولنې معماره بولي او د ښځو ټولو هغو حقوقو ته قایل دی چې د اسلام مقدس دین ورکړي دي.

اسلام ښځو ته ټول بنیادي حقوق، لکه د تجارت او د ملکیت، د میراث، د تعلیم، دکار، د خاوند د اختیار، د امن، د صحت، او د ښه ژوندانه حق ورکړی دی. همداراز نبي کریم علیه الصلاة و السلام د ژوندانه په اخري لحظاتو کې د ښځو په اړه د ښه چلند توصیه وکړه چې دا ټول هغه موارد دي چې ښځه یې د جاهلیت د دودونو د

وحشتناکو کندو څخه راوویستله او د معرفت، اخلاقو او عزت لوړو مرتبو ته یې ورسوله.

په دې کې هیڅ شک نشته چې په افغانستان کې د ښځو دحقوقو په وړاندې د اشغال له امله ګڼې ننګونې شته دي، ښځې د ډېرو ناخوالو سره لاس او ګریوان دي، د ښځو د حقوقو ناړې وهونکو په افغانستان کې ۱۸ کاله تیر کړل، په دې موده کې په ملیاردونو ډالر افغانستان ته راغلل خو اوس هم افغانستان د نړۍ په کچه لوموړی هیواد دی چې د صحي مراکزو د نه شتون له کبله د اولاد زیږدنې پر وخت زیاتې ښځې مري، اوس هم زمونږ هیواد کې د کیمیاوي بمونو د استعمال له کبله تر بل هر ځای زیات معیوب ماشومان زیږول کیږي، اوس هم افغانستان د نړۍ په کچه د لومړیو هیوادونو څخه دی چیرې چې د ښځو اوسط عمر یوازې ۴۵ کاله دی، د نړۍ په کچه د لومړیو هیوادونو څخه دی چېرې چې تر یو ملیون زیاتې ښځې کونډې دي، د ښځو په نامه راوړل شوي او مصرف شوي لګښتونه ټول په اداري فساد کې بیرته د ښځو د حقوقو د نارې وهونکو جیبونو ته تللي دي.

د ښځو د حقوقو تر نامه لاندې د بد اخلاقۍ، بې حیایۍ او غیر اسلامي کلتورونو د رایجولو لپاره کار شوی. د غربي او غیر اسلامي او غیر افغاني سریالونو خپرول، اخلاقي جرمونو ته لاره هوارول او افغاني عنعناتو پایمالولو ته ښځې تشویقول نور هغه موارد دي چې د ښځو د حقوقو تر نامه لاندې په افغاني معاشره باندې تپل شوي دي. د روان اشغال په موده کې په افغانستان کې د ښځو د خشونت په زرګونو پیښې شوې چې د اسلامي امارت د واکمنۍ په وخت کې یې هیڅ وجود نه درلود.

د افغانستان اسلامي امارت له پیله د ښځو د حقوقو په هکله ډېره واضحه او شامله تګلاره لري، لکه څنګه چې اسلام او بیا افغانیت د افغانستان د مجاهد ملت دوه ستر ارزښتونه دي نو اسلامي امارت هم د اسلام او افغانیت په چوکاټ کې د ښځو ټولو حقوقو ته ځان ژمن بولي. د اسلامي امارت تګلاره دا ده چې د ښځو حقوق په داسې ډول خوندي شي چې نه د هغوی روا حقوق تر پښو لاندې شي او نه یې انساني کرامت او اسلامي او افغاني ارزښتونه له ګواښ سره مخ شي. همداراز اسلامي امارت ژمن دی چې د ښځو په خلاف ټول هغه ناروا رواجونه او دودونه چې د ښځو حقوق تر پښو لاندې کوي او د اسلامي اصولو سره سمون نه لري له منځه یوسي او د ښځو لپاره مصؤن چاپیریال وړاندې کړي.

صحت

د افغانستان اسلامي امارت د صحت لپاره یو مستقل کمیسون لري چې په ټول هیواد کې په فعالیت بوخت دی. دغه کمیسون په هر ولایت او هره ولسوالۍ کې خپل نماینده لري تر څو له یوه اړخه د امارت خپلې داخلي صحي چارې پر مخ بوځي اوله بله اړخه، د صحي خدماتو وړاندې کوونکو ټولنو او مؤسسو سره همکاري وکړي او د هغوی امنیت خوندي کړي.

اسلامي امارت هر وخت په مخامخو لیدنو کې او همداراز د مطبوعاتو له لارې نړیوالو ته دا پیغام ورکړی چې د صحت کارکوونکي دوی بې پرې ګڼي، په جګړه کې د ټپي شویو ملکیانو او د طرفینو ټپیان باید ټول له کوم توپیر پرته روغتون ته ورسول شي او تداوي یې وشي، په دې لړ کې اسلامي امارت نړیوالو صحي مؤسساتو، لکه د سره صلیب، ایمرجنسي او بې سرحده ډاکټرانو سره تفاهم لري. اسلامي امارت تل د بشري مرستندویه ادارو او حقوق بشر د ادارو څخه غوښتي چې د کابل اداره او بهرني ځواکونه هم دې ته اماده کړي چې د اسلامي امارت په شان د ټپیانو او بندیانو سره ورته چلند وکړي.

اسلامي امارت تر خپله وسه هڅه کړې چې په خپلو سیمو کې روغتونونه او کلینکونه جوړ کړي، صحي پرسونل ورته اماده او وروزي، خو متأسفانه چې اشغالګر یې د ځان لپاره مشروع هدف بولي او تل یې بمباروي، چې له امله یې څو ځله زمونږ پر روغتونونو چاپې اچول شوي، بمبار شوي او حتی زمونږ په سیمو کې د نورو مؤسسو په مرسته چلیدونکي روغتونونه او کلینکونه بمبار شوي دي. په کندز ولایت کې د بې سرحده ډاکټرانو پر روغتون بمبار او دوردګو ولایت کې پر روغتون باندې چاپه یې ښکاره مثالونه دي.

اسلامی امارت د ټولو اړخونو د صحي او تعلیمي پرسونلو د خوندیتوب په اړه اعلامیې خپرې کړې او مجاهدینو ته یې توصیې کړې چې نه یوازې دا چې دا خلک هدف ونه ګرځوي بلکې امنیت یې تأمین کړي تر څو خپل کار په ښه توګه وکړای شي، خو متأسفانه چې اشغالګر زمونږ روغتونونه هدف ګرځوي، امبولانسونه مو په نښه کوي، د نورو مؤسسو د امبولانسونو څخه زمونږ ټپيان کښته کوي، په روغتون کې زمونږ تر علاج لاندې ټپيان بندیانوي او زمونږ په بندي ملګرو باندی د رنګا رنګ شکنجو سربېره د هغوی معمولي تداوي هم نه کوي.

اسلامی امارت له دې فورم څخه یو ځل بیا ټینګار کوي چې اسلامي امارت تل په صحي برخه کی د خپلو هیوادوالو ټولو حقوقو ته ځان ژمن بولي او تر خپل وسه هڅه کوي چې هغوی ته ټول صحي خدمات په ښه توګه ورسوي. همداراز د حقوق بشر په ادارو غږ کوي چې اشغالګر او د کابل اداره هم دې ته مجبوره کړي چې بشري حقوقو ته په درناوی ، د اسلامي امارت تر کنترول لاندې روغتونونه په نښه نه کړي او د بهرنیو مؤسسو څخه تمه لري چی ټولو افغانانو ته په یوه سترګه وګوری او خپل خدمات وروړسوي، بلکی د اسلامی امارت تر ولکې لاندی سیمو ته ځانګړې پاملرنه وکړي ځکه چې د ښاري سیمو په پرتله په کلیوالو سیمو کې د خلکو اړتیاوې زیاتې دي.

اسلامی امارت د ملګرو ملتونو، د صحت د نړیوال سازمان او نورو صحي مؤسسو سره پوره همکاري لري او دغو همکاریو دوی ته زمینه مساعده کړې چې د افغانستان په ټولو برخو کې خپل کارونه په ښه توګه ترسره کړي. په دې لړ کې د پولیو او نورو واکسینونو پروګرامونه چې د افغانستان په ډیرو برخو کې د اړوندو مؤسساتو سره د اسلامي امارت په مستقیمه همکاري پرمخ بیول کیږي د یادونې وړ دي.

د افغانستان اسلامي امارت یو ځل بیا د صحت اړوند ټولو مؤسساتو او ادارو ته د همکاری په اړه پوره ډاډ ورکوي.

په پای کې زه له ټولو ګډونوالو څخه مننه کوم چې د افغانستان د اوسني ناورین په هکله یې زمونږ نظر او موقف توجه سره واوریده. مننه.

۱۴۴۰/۵/۳۰هـ ق

۱۳۹۷/۱۱/۱۶هـ ش ـ ۲۰۱۹/۲/۵م

داسلامي نړۍ خپلواک
او مجتهدانه کردار

وروستۍ خبره

■ داسلامي نړۍ مفکر او ثقه عالم مولاناسید ابو الحسن علی ندوي
■ ژباړه: ابوطهیر

دمشرق یو باهمته او حوصله لرونکي هیواد (جاپان) د دي اقدام نهایت محدود او داسلامي لید له پلوه دیوه ټیټ معیارتجربه وکړه ،هغه دمغرب نه په علم و صنعت کې داسې استفاده وکړه چې داستاد او شاګرد ترمنځ توپیرکول ګران شو، ددې ترڅنګ هغه خپل معتقدات او خپل کلتوري خصائص او روایات هم پرځای وساتل، خو له بده مرغه دهغه دیني معتقدات او تهذیب د اوسنۍ زمانې سره سمون نه خوري او نه یې دننه کوم افادیت او د بشري خدمت کوم اړخ شته ، نه په هغه کې دنړیوال پیغام کیدو وړتیاشته،د څو دېخوانیو او فرسوده معتقداتو اودودونو ټولګه دی، کوم چې نوي اوپرمختللي جاپان تر سینې پورې کلک نیولي او همدادهغه ارادي ځواک اودخپلې ماضي سره دتړون کرشمه ده، چې تراوسه یې ترک کړی ندی، لیکن داسلامي هیوادو معامله ددینه یومخ جلاده هغوی سره داسې دین ، داسې شریعت او داسې قانون شته دکوم لپاره چې دقدیم و جدید اصطلاح کارول بې معنی ده! داسې تهذیب چې دهغه اساس په ابدي حقایقو ایښی دایوه ځوبهار لرونکې ونه ده، کومه چې هیڅ وخت د تازه ګۍ ، نمو، او برګ و بار نیولو څخه محروم نده، په دې وجه ددې هیوادو لپاره نوي علوم ، صنعت او خپلو ابدي عقائد و حقایقو په منځ کې په اتحاد او تعاون کولو کې کومه دوشواري نشته او ددې نتایج د هغو نه ډیرې انقلاب پارونکې او نړیوال اغېزو لرونکې ثابتیدای شي کومې چې دجاپان له تجربو راوتې جاپان اوپه هرروایت پرست هیواد کې داکوښښونه دشیشې وسپنې،پنبې اواوردیوځای کیدومرادف دي، خودیومسلمان هیواد په اند دې کې هیڅ تناقض اوتضاد نشته، دهغه په اند دصحیح دین اودصحیح علم ترمنځ ټکر ناشونی دی اوپه نظریې حکمت دومومن ورک مال دی اویواځې همدی یې حقیقي څښتن دی دهغه په نظر:دخیروشرفیصله په دې پورې منحصرـ ده چې هغه ترکوموقاصدولاندې کارول کېږي، دهغه په اندهرځواک اوهر تحقیق،هرعلم او هره مؤثره زریعه ددې لپاره ده چې څو هغه دخدای ددین لپاره وکارول شي اودمخلوق دفایدې لپاره له هغې ګټه پورته شي، په هغه فرض ده چې د وران ویجاړمحل څخه یې بیرون کړي اوپه سم اوجوړمحل کې یې استعمال کړي اودتخریب پر ځای یې دتعمیرزریعه وګرځوي، لیکن ددې کار لپاره هغه ذهانت،جرئت ،هغه ایمان وخلوص پکاردی کوم چې دهر تقلیدي رحجان، دهرفیشن اودهرې شخصي۔ اواجتماعي غرض مقابله وکړای شي دکوم په خاطرچې زموږ داسلامي هیوادو چارواکي دهرڅه قربانولو ته تیاردي، کوم چې دهغوی لپاره مطلوب دی او دکوم پایلې اویا انعام په توګه ړومبی هغوی ته پخپلو هیوادو کې دمحبوبیت هغه مقام په

برخه وي ،کوم چې د بلې هيڅ کومې زريعې نه هغوی نشو ترلاسه کولی اوبیا هغوی ته اوددې په زريعه د هغوی دهيواد دهدايت وامامت هغه لوړ منصب پـه لاس ورتـلای شي دکوم چې هغوی لا تراوسه خوب هم ندی ليدلی اوغربي تهذيب ته پوره داسې تنـدرپوري شـوی چـې هغـه اوس يـوائې دخپـل صلاحيت په استحقاق دڅوند ساه نه اخلي بلکې له بده مرغه چې بل کوم بل تهذيب دهغه دځای نيولو ته تيارندی!! اوس مهال چې څومره تهذيبونه يا قيادتونه شـتون لـري هغـوی يـا دغربي تهذيب پـه ليکـو ځغـلي اودهغـه يوپيکـه انځـوردی يـا دومره کمـزوری اوشکست خـوړلي دي چـې دغـربي تهـذيب سره سـترګې جنګـولی نشيـ ،اوس کــه چيـري اسـلامي هيوادونه اويا ټوله اسلامي نړۍ په مجموعي توګه ددې تشې ډکولو لپـاره صـلاحيت ترلاسـه کـړای شي کـوم چـې دغربي تهذيب دخاتمې نه پس په انساني نړۍ کـې رامنځتـه کېـږي نوورته ددنيا دامامت منصب دوباره تفويض کيـدای شي کـوم چې دسنة الله سره سم يـوجري، قـوي او تـازه دمـې ملت يـا قيادت ته سپارل کيدای شي ،اوس هغوقيادتونو ته دافيصـله کول پکاردي چې اياددتـل لپـاره دمغرب نـوکرې اودهغـه پـه درکې کچکول په غاړه ګدائي مناسب ده که ددنيا درهنمائي عالي منصب اودنړيوال انسانيت دهبرۍ عالي منصب، دکوم نـه (دنبـوت) وروسـته چـې بلـه سرلـوړې اوسرفـرازې نشـته او دهغه لپاره ظاهري نام ونمود، منصب،لذت وراحت اودمـادي وجسماني ترغيباتوقرباني هـم کـوم حقيقـت لـري؟ هـو! کـه ددې لپاره سل ځانونه هم قربان شي ،په حقيقـت کـې بـه دا دتاوان سودااودزيان معامله نه وي

ای دل تمام نفع هی سودائی عشق میی

اک جان کازیان هی، سوایسا زیان نهیی

اوس کتل پکار دي چې کوم اسلامي هيـواد ددې لـوی کار لپاره دهمت ملاتـړې، دکـوم نـه زيـات انقلابي، تـاريخي اوژوند بښونکی کاراوس مهال نشي ترسره کيدای، اودکوم په وړاندې چې داروپا دنشأة ثانيـه تحريـک(RENAISSANCE)دفرانسـې انقـلاب اودروس داشـتراکيت فلسـفه اومارکسيـ

دعوت په يادولوهم نـه ارزي، پـه دې کـې چـې کـوم ذهانـت وجرئت کوم عنصر اودنيکمرغی ژوند اوانقلاب خيز صـلاحيت مضمردی، دهغه نه يوائې هغه هيوادونه پـه کومـو کـې چـې داتجربه کيدای شي بلکې ټول انسانيت ته دفکروعمـل کـوم نـوی ميـدان پـه لاس ورځـي اودرښـتنولی اوسـلامتيا کـومې لارې پـه لاس ور تـلای شي هغـو تـه پـه کتـو دپخوانيـو هغوانقلابونو چې موږيې نومونـه يـادکړل ديـو [جرئتِ رندانـه اوحرکتِ طفلانه] نه زيات حقيقـت نلـري داسـتر کـار يـوائې هغه اقوام وملل اوهغه ډلې اوافراد سرته رسولی شي کوم چې دابراهيمي ملت حلقه بګوش دي او کوم چې د دين دتکميل او دختمِ نبـوت دانعـام او بشـارت نـه بـرخمن ګرځيـدلي، داسـلامي نـړۍ دنړيورهبرانـو اوقائـدينو لپـاره هـم هغه[سرودِازلي) دی دکوم سره چې دلومړي قرن دمسلمانانو غوږنه اشنا شوي وو:

وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ ۚ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ۚ مِّلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ ۚ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ ۚ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ هُوَ مَوْلَاكُمْ ۖ فَنِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ (٧٨)

اود خدای (لاره) کې جهاد وکړئ څنګـه چـې دجهـاد کولو حق دی ، هغه تاسو غـوره کـړي ياست او پـه تاسـو يـې ددين (کومه خبره) کې تنګـې هـم نـده کـړې، ستاسـو دپـلار ابـراهيم ديـن(يـې خـوښ کړی)هغـه پـه وړومبنـو(يعنـې پـه ړومبنو کتابونوکې) ستاسو نوم يې مسلمان ايښی و اوپـه دې کتاب کې هم (هغه نـوم ايښـی نـو جهـاد وکړئ)څـو پيغمبر ستاسو په اړه شاهد وي اوتاسو په نورو خلکو شـاهدان وئ او لمونځ وکړئ زکات ورکوئ او دخدای ددين (رسۍ) ونيسئ ، هـم هغـه ستاسـو دوسـت دی او ښـه دوسـت دی او ښـه مرسـته ورکونکی دی . پای

۱۴۴۰ دجادي الاولی ۲۶مه ۲۰۱۹ز دفروري ۲مه نيته

«الیاس فاتح»

مولوي بدرالدین حقاني!

د ملت د قربانیو او قهرمانیو انځورونکی شاعر

دکمونستي بدمرغې کودتا او شوروي وحشي تاړاک پر وړاندې دمقدس دین او ګران هېواد دخپلواکۍ په پار دوه ډوله سنګرونه تاوده شول، چې په یوه کې دتورو په خرپ سره ددښمن هډونه ماتیدل او په بل کې د قلم په ملکوتي غږ سره دغلیمانو د زړونو مراندې شلیدلې.

دتورې او قلم دغو دواړو ګرمو ډګرونو د اتلانو د قربانیو،مقاومتونو او قهرمانیو په برکت نه یوازې دسرولښکرو د اشغال بدبویه مړي په افغانستان کې پاتې شو، بلکې د جهاني مستکبر داستبدادي زنځیر کړۍ هم ماتې او ډېری محکوم ولسونه یې ازاد کړل.

ددغه تاریخ له ویاړمنو انځورګرانو له ډلې یو هم مولوي بدرالدین حقاني دی، چې له یوې خوا یې دسره ښامار پر ضد د سترغازي الحاج مولوي جلال الدین حقاني-رحمه الله- ترقیادت لاندې عملي جهادکې توره هم چلوله او. بلخوا یې دقلم مورچل هم تود ساتلی و، چې هر شعر یې دغشي نه هم تیره دغلیم د زړه نه پورې وت

دا چې دبدرالدرین شاعري نړدې ځلوېښت کلونه په بر کې نیسي، په داسې حال کې چې دانسانیت،اسلامیت، افغانیت،مقاومت او دژوند بېلابېل ابعاد یې راسپړلي او هره سپړنه یې په هنري بڼه ادبي او ابدي کړې؛ طبعي ده چې په هر اړخیزه توګه پرې رڼا اچول په یوه مقاله کې نشي ځاییدای،البته هڅه کووچې « مشت نمونه خروار» په توګه دنوموړي دشاعرۍ په زمزم خپله تنده ماته کړو.

ادبپوهان د شعر پر واحد تعریف لا هم یوه خوله نه دي، البته دې خبرې ته د ډېرو نظرونو ورخونه ورمات دي چې دشاعر علمي پانګه او پر تخیل یې لاس برې؛ د غني شعر لومړنۍ تومنه ده. او د بل پلوه دشعري جوړښت پېژندنه کې دا خبره هم تواتر او توافق ته رسیدلې چې شعر د درد زېږنده دی؛له همدې ځایه ده چې دبدرالدین د علمي هستې او پرهرژلي ملت له دردونو سره دشعر مزي داسې سره غړلي،چې: دهغه د شعر انګازو په هر غره اوتاتاره کې لارې باسلې او د انساني روح په هره کرونده کې دفکر زړي کرلي،دی وایي:

دباردو لمبې دي رضا دجانان
ناتوګۍ رنګوم له صفحې دجهان
چې له قافه راتلل، دا دیوان په غرور
څه حقیر یې ګڼل افغانان په غرور
له پامیره شمشاده وځوان په غرور
ناخبر وو، زموږ دایمان په غرور
راته یاد دی منتر دبابا سلیمان
ناتوګۍ رنګوم له صفحې دجهان

دشاعرۍ معنوي اړخ يې خورا پاکمن دی، دالفاظو ذخيره يې ترلاس لاندې ده، هرډول پرګنو ته په جلا رنګ او جامه کې شعر وړاندې کوي؛ ترډېره بريده په ساده لفظونو پېيلو سره، سطحي کلام کې بامعنا انځورنې کوي، او کله شعرونو کې د رنګينيو له سمندره، د تخيل ناشنا مرغلرې راباسې او دلغاتو په صيفونو کې يې خوندي کوي،دبېلګې په توګه لانديني بيتونه يې چې په ۱۹۹۰کال يې ليکلي :

تمامو شرايطو دقياس نه مستجمع وې -
مطلوب دې موجيبه وه نتيجه دې سليبه شوه

صنعت داسلحې دې مقدم و په نړۍ کې -
لاسو او پښو کې خپله اسلحه دې زولنه شوه

ځپو داسلامي انقلاب وړي انګريزان دي -
تر نن يې دافغان له خير وشر څخه توبه شوه

تړلي په زنځير دشريعت دي بدرالدينه -
ملل متحد ته يې عجيبه ننداره شوه

شعر دنثر پرتله ډېر اغېز لري،خو کله چې شعر حماسي او انقلابي بڼه خپله کړي،بيا نو روحيات او جذبات په ځپو راولي. په خاصه توګه هغه شاعر چې دژوند زياتې شيبې يې د اشغالګر پر وړاندې د جګړوپه ډګرونو، د اور په لمبو او دګوليو په ګالۍ کې تيرې کړې. هلته يې د شعر ژبه چليږي،چېرته چې مناقشه داور په خوله دبمونو او ټوپکو په منطق کېږي،او هلته چې يوازې دمرګ پرېکړې کېږي،دوينو په ډنډ او مرګ پر پوله قدم کېښودل کېږي.

هو! د بدرالدين په همدغسې صحنو، دجګړو په ټکنده غرمو کې دشاعرۍ چينې رواني ساتلې، ځکه چې يوازيني هدف او ارمان همدلته مونداى شو، د ده ارمان او هدف څه و؟

نه عذاب دنيران نه شکلا دجنت
نه هدف دي علمان نه دحورو زينت

اوامر دقران دي اعـــلی حاکميت
نذرانه مې خپل ځان دی په دې حقيقت
خلاصومه په دې شکنجه مسلمان

ازادي! چې دوجود په رګ رګ کې يې دوينې په څير خوره ده؛په ډېره مينه يې د سر او مال په قيمت پالي، دا ورته له خپلو اسلافو په ميراث پاتې دی، چې دساتنې په لار کې يې هر خطر ته غېږه پرانيزي:

ضمير دازادۍ راته الهام کړی دی -
د لوړ قوت په مخکې مې قيام کړی دی

هنداره دتاريخ کې اسلاف مې بريمن دي -
ماضي پاڼه په پاڼه نامزد په بت شکن دي

دفتحې په مانۍ کې له پشته هستوګن دي-
دې صف کې مې لبيک دخپل امام کړی دی

دجنګ له ډګره دبدرالدين دا داور ترانې ، چې په زمزمه يې مجاهدين او جنګيالي ، پرلمبو ورختل، پرګوليو يې ورځغاستل. دا چې په دې لار کې قربانيو او سرښندنو ته په ورين تندي وړاندې کيږي، له سره ورته دزيان په سترګه نه ګوري بلکې په دنيا او اخيرت يې دالله تعالی په لار کې خپله سرلوړي او کاميابي ګڼي. دا نو دڅه دپاره؟ دقوميت،ماديت ، جاه طلبۍ او اقتدار ؟ او که په قراني ګېڼه د ازاد وطن سينګارولو په پار؟ په خپله وايي:

مونږ په قراني زيور خپل وطن زيبا غواړو
نه يو غلامان دچا دين د مصطفی غواړو
وينو دغيرت څخه ډک زمونږ رګونه دي
ننګ او شجاعت څخه ډک مو تاريخونه دي
بيا دحريت تاريخ نوی په دنيا غواړو
نه يو غلامان دچا دين د مصطفی غواړو

له شاعر سره يوه تنده ده، يوه تلوسه ده، او يو ارمان دی، چې اسلامي امت د ازادۍ او خپلواکي له نعمت برخمن شي، داسلامي اخوت په ورښمين تار سره وپېيل شي، څو يوې خوا دغوښو بدنونو کې دکاڼو زړونه نرم او

بلې خوا دنړۍ مظلوم ولسونو تنده دازادۍ په رڼو او خوږو اوبو ماته شي. که څه هم دغه شعر داسلامي امارت تر قيام مخکې او عالمي جهاد پرمهال کښل او زمزمه شوی، شاعر هاغه وخت د خپل ټوټې ټوټې امت دپيوندۍ په لټه کې د ورک اندلس په څېر ورکه بخارا ثمرقند، فلسطين...غواړي. اسلامي تمدن او جامعه دټولو مسلمانانو شريکه ، بلکې دخپل ديني هدايت له مخې ديو بدن په څېر دي، سره له دې چې طالبان دنورو هېوادونو په کورنيو چارو کې لاسوهنه نه کوي. البته انساني مرسته او ديني تساعد خپله انساني اواسلامي دنده گڼي،نو ځکه حق لري چې ووايي:

يو لاس کې مو توره ده، بل لاس کې قران لرو
نه کوو خطر له چا کلک عزم ايمان لرو
خلاص به فلسطين کړو، مسجد اقصی غواړو
نه يو غلامان دچا دين د مصطفی غواړو

په دې رابطه که د اسلامي امارت پياوړي نعت خوان ملا فقير محمد درويش يو ښادښت راوړو، بده به نه وي ،دی وايي:

دهندوکش په سر به رپي بيرغونه په پامير به وي
نه به وي محدود زموږ جهاد علمگير به وي

دغه ترانه مې د شوروي يرغل پرضد جهاد کې زمزمه کړې وه ، کله چې اسلامي تحريک ظهور وکړ، او له نيکه مرغه په دومره گړندۍ توگه گام په گام فتحې کېدلې،چې کفري نړۍ له يوې مخې وترهيدله، په خاصه توگه د مسکو حکومت. په همدغو وختو کې به خارجي ژورناليستان افغانستان ته راتلل،او په تکراري ډول به يې له متقي صاحب څخه دا پوښتنې گرويږنې کولې چې د دې شعر مطلب څه دی؟ ايا تاسې خپله جهادي مبارزه زموږ هيوادو ته هم راغځوئ؟ ورته کيسه د بي بي سي راډيو خصوصي پروگرام کې، چې د روسيې سفير او دامارت سرپرست سفير دواړه ميلمانه وو، دروسيې سفير راپورته کړه او همدغه شعر يې په گوته کړ.دغه شعر چې دگردې نړۍ پام يې را اړولی و، په خلاصه توگه يې اسلامي امت ته دوحدت او له وحشي منگولو څخه دبشريت خلاصولو پيغام ورکاوه.

ددوو انقلابونو نعتخوان شاغلي درويش صيب زياتوي: زما نعتخواني،داحمدغني،گوهري او بدرالدين شاعري سره همزولي ده،خو بدرالدين په هغه دوره کې ترټولو لوی شاعر و، چې په ټولنه کې د شاعرانو بابا په حيث پېژندل شوی و.او ماته چې دشعر ويلو پرمهال ډېرې خلک ژړيدلي او تر مليونو زياتو خلکو اوريدلي ، هغه دغه شعر و:

ننگ دې مبارک شه شهيده
ستا په بدن کفارو جوړ کړل پرهارونه شهيده

مولوي بدرالدين حقاني عالم دی، جيد اومدرس عالم، داسې عالم چې له روحانيت او طريقت سره يې اړيکه ده، په تصوف کې يې دزړه سکون موندلی ، او تر ډېره حده يې خواري پکې کړې،ځکه يې دحالاتو مطالعې او الهامي هېنداري له رويه دشعر په ژبه وړاندېينې کړې،لکه لاندې شعر، چې تر امريکايي يرغل مخکې يې د ماتې تصور ورکړی:

نه د استبـــداد ژونـــدون چـا پـه مـوږ منلـی دی نـه
مـــونږ داللـــه څخـــه بـــل قـــوت بللـــی دی

روس او دپیرنگ په شان ماته امریکا غواړو
نه یو غلامان دچا دین د مصطفی غواړو

شاعر دسیاسي بصیرت څښتن دی، ارزولـې یـې ده چې افغان ملت د خپل هر اړخیز ارزښتناک موقعیت لـه مخې د نړۍ سترو امپراتوریـو د هـوښ ښکار شـوی دی، څنگه چې دمشرق شاعر (علامه اقبال) ویلي:

آسیا یک پیکر آب وگل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از فساد او فساد آسیا
از کشاد او کشاد آسیا

دا چې کله دپیرنـگ ، کلـه د روس او اوس د صـلیبي ایتلاف دلاسه افغانستان دجگړې ډگـر گرځیـدلی او ټولـه نړۍ په ځانگړې توگـه اسیا هـم تـرې بې ثباتـه ده، ددې ربړې او مشکل دحل لاره شاعر لټولې، دی پـه دې عقیـده ده چې امن او ثبـات نـه مـارکس و لیـنن فلسـفې سره، نـه دیهود،هنود په وجود سره او نه هم پـه دیموکراسـۍ او یـا اشتراکي نظام سره راتلای شي، بلکې د اریانـا پرهسـک د سپین بیرغ له رپیدو سره به په ناامنه اسیا او گردې نـړۍ کې سوله خوریږي ، وایي:

سر او مال نه تیر یو مونږ مسلمانان یو –
کفر ته دیلیر یو ،ځکه افغانان یو
سپین دکلیمې بیرغ هسک په اریانا غواړو - نه
یو غلامان دچا دین د مصطفی غواړو

لکه دمخه مو اشاره وکړه نوموړی کلک باور لري چې د اللـه تعـالی پـه مرسـته او نصرت د نـړۍ پـر یـوه لـوی ښکیلاکي ځواک بری موندلی شي، مخکـې لـه دې چې او ددغه زبرځواک استعماري اهداف یې له خاورو سره برابـر شي، الهامي زیـری وایـي،او ورسره جوخت خپلـو انقلابي ملگرو ته د استقامت او صبر په سپارښتنو دمقاومـت مـلا وتړي چې ددین او وطن دازادۍ او فتحو دغه لار په اغزو ډکه، په سکروټو دپاسه او گړنگونو په غاړه تیره ده:

فتحې دبرجو مې له الهامه اوریدلي دي - وینمه چې ستا مناري رانړېدلې دي

مینه دجانان دزندان کلي ته تلل غواړي - کله به اشنا په لمبو کې سوځیدل غواړي

کله به په دین دطـایف لخوا ویشـتل غـواړي- غـړي دکاروان په دې اوصافو کې غښتلي دي

کله چې ددېرو قربانیو په بدل کې د افغان ملـت پـر ځانگړي نعمت (اسلامي امارت) ونازول شـو، نـو دی ورتـه تنبیه کوي:

مونږه قربان کړي دي دا دشریعت په کور سرونه
سپین بیرغه وواهه بیا دامارت په کور لهرونه

نوموړی دخپل کاروان ملگرو ته هم توصیه کوي، څو دوینو -اوښکو،زخمونو-دردونو او شـهادتونو پـه بـدل کـې ترلاسه کړي نعمت ناشکري ونکړي، او دا سپین سـپیڅلی پاڅون داغدار نشيـ ځکـه چـې ددې پـاڅون سرچینـه لـه مدرسو او جوماتونو څخه اخستل شوې، دزړه له پرانیستې درې دخواخوږۍ په کرښو کې ورته سپارښتنه کوي:

طالبه راغللې وطن ته دقدرت سره
خیال دحفاظت کوه نوم دامارت سره
خلک که لاړ شي جهنم ته
دگمراهۍ له مرکزونو
ځومره ذلت دی بدرالدینه
له مدرسو له مسجدونو
ځومره ذلت دجهنم دی علمیت سره

دفتحې او واکمنۍ په دروان کې دنومـوړي شـاعري دغرور او فخر تورو پرځای خپل ځان او گرانو ملگرو تـه د (موعظة الحسنه) او متعال ذات ته دتوجه بنه خپله کړې:

خدایه ته مې ساته له شرمونونه

اوس خو مې دغاړې امانت شولو

دومره به له ما څخه پوښتنه وي

څومره مې په خلکو چې قدرت شولو

اوس راپه غاړه دي خاونده

دخلکو وينې او مالونه

کوم دفاع به له مظلومه

ورته به غواړمه حقونه

خيال به يې ساتم له مفاسدو نه،

څکه چې مې نوم دشريعت شولو

له يوه پلوه د غوښې په بدن کې دکانې زړه لـري، خـو دکفري زبيښاکگر پروړاندې،له بله پلوه همدغه زړه دکانې اووسپنې زړه د وربښـمو پـه څېـر شي، او دمـوم پـه شـان ويلی کېږي، البته دمسلمان او مظلوم پـه مخکې،نومـوړی دژوند دټولو حوادثو په گـرداب کـې دومـره نـه دی څپـل شوی، لکه د يتيم ترمو اوښکو، تاندو اهونو او سويو سلگيو چې څومره څورلی دی، همدا يـې هيلـه وه چـې دژړيـدلي يتيم دشهيد پلار دمغرور قاتل سر پښو ته ورټيټ کړي، او ددې ارمان په پوره کيدو سره په ډېره خوشالی ديتـيم پـر شونډو موسکا ځلوي:

اوښکې پاکوه يتميه خوله باندې خندا وه

سوپر دې غلام کړلو نور يې تماشا کوه

اوښکې دې که توی شوې،انتظار دخوشالی کوه

وينې دې که توی شوې افتخار په قربانی کوه

دا دايمان توره باندې فخر په دنيا کوه

کله چـې پـورتنی شـعر ددوو انقلابونـو قايـد مولـوي حقاني –رح- ته ورسيد، نو دشعر په کړی کړی يـې وژړل ، بيا حقاني صاحب مولوي بدرالدين ته په خپلوگوتـو خـط وليکه چې د شعر سروکي ترڅنگ يـې ورتـه لـيکلي وو: دا شعر نور هم اوږد کړه.

هاغـه عـالم او شـاعر چـې د خـولې او عمـل تـرمنځ يووالی نلري،نه يواځې په کلام کې يې اثر نه وي،بلکـې پـه اړه يـې الهـي کتـاب او نبـوي احاديـث سـخت وعيدونـه ښودلي؛ سترڅښتن-جل جلاله- فرمـايي: « يَـا أَيُّهَـا الَّـذِينَ آَمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لا تَفْعَلُونَ » [سورة الصف: ٢-٣].

او يا د حضرت جنـدب -رضي اللـه عنـه- پـه استناد چې رسول اکـرم - صـلی اللـه عليـه وسـلم- فرمـايي: مثـل العـالم الـذي يعلـم النـاس الخـير وينسـى نفسـه؛ کمثـل السراج يضيـء للنـاس ويحـرق نفسـه» [رواه الطـبراني في المعجم الکبير، ١٧٨/٢]

نو بدرالدين هغه باعمله عـالم او صـوفي شـاعر دی، چې د سپينو لفظونو ترڅنگ يې عمل هم سپيڅلی سـاتلی، اود لاښه والي په پار خـدای تعـالی تـه دزاری لپـې پورتـه کوي،داسې مناجات کوي:

سپين مې کړه سبحانه لکه سپين مې چې لفظونه دي

بچ مې له توهين کړه داسلافو تاريخونه دي

کړه ترصد مې له مرصاده- ته مې حافظ شه له فساده

راز د کاميابی داستوا ته نسبتونه دي

داسـلامي امـارت لـه ځـان سره هيـواد تـه دامنيـت ترڅنگ نورنوښتونه راوړل، دامنيت او سوکالی ترڅنـگ د دابراهيمي ملت دتوحيد نښې نړی ته وځلېدې،او د هېواد دسـترو علـماوو د پرېکـړې لـه مخـې بـودا بوتـان مـات شول،چې په اړه يې ټولې کفري نړی داسلام دښمنه چيغـه پورته کړه چې د زمانې منافقانو هم ورسره بدرگه کـړه، نـو ځکه يې دشعر په کمان او پيغام پر غشو لاس وواهه :

کفري نړی چې کله زموږ توان ماتوي

بچيان دبوتشيکن به يې بوتان ماتوي

کوم وخت چې داسلامي نظام پرضد غربي بـلاک پـر استبداد لاس پورې کړ، نو پرخدايي نصرت ډاډمـن شـاعر دشعر په ژبه د مايوسی تلفظ نـدی کـړی، بلکـې پـه لـوی

جرئت یې د لکو غربیانو پر وړاندې دخپل ملت په ننګه دانتقام متې رانغاړلي:

دا منمه چې غربیان دې په لکو به وي

خو زما دانتقام کیسې په ورو به وي

او یا دا چې:

ړنګه به شي سپینې ماڼۍ دستا برجونه به ړنګیږي -

نه به وې لعینې ماڼۍ دغرور سر به دې ټیټیږي

تشبیهات او تمثیلات، په هرې ژبې کې دتعبیر او تفهیم، داظهار او بیان یوه مؤثره او راښکونکې ذریعه ده ، له الهي کلام وورسته ترټولو غوره کلام کلام رسول دی، او په نبوي کلام کې هم ډېر دتفهیم لپاره همدغه ذریعه ؛تشبیهات او تمثیلات غوره شوې دي، لکه نبي اکرم ص فرمایي: « مومن دمومن لپاره هنداره ده.» نو له همدې ځایه ده، چې د بدرالدین په شاعرۍ کې دتشبیهات اوتمثیلات په لویه پیمانه ننګول شوي، لکه مجاهدینو ورونو ته دنصیحت کرښو کې وایي:

ستا په موټر کې دشهید وینې دي

هسې په خیال کې دې ډیزل ښکاري

دا تور لوګي دي دډاسنې ګرانه

دیتیمانو له ګوګل ښکاري

بدرالدین نړدي ځلوېښت کاله پخوا په شاعرۍ کې جلا ابتکار او نوی بابا رامنځ ته کړ،چې دجهاد له پیل سره هغه پاک او خواخوږی درانه الفاظ لکه: فتحې،امن،ازادی ،قرباني،قهرماني،ننګ،غیرت، ګولۍ، ټوپک، پرهرونه، دردونه، یتیم، شهید ، وینې ، اوښکې صبر، استقامت ، اسلامي انقلاب ،پامیر، هندوکش، اسیا، ثمرقند، فلسطین، بخارا،او تمام انسانیت او مظلومیت په شعرونو کې راونغښتل. نوموړي چې تردې وخته تر ۳۰۰زیات شعرونه لیکلي، ګڼ شمیر اشعار یې په عربي ژبه هم لیکلي،لکه:

لایسکن دمائنا یفور فی البدن

اوصینا بالجهاد ولا ننکس لمن

او یوه بله ځانګړتیا یې دا هم ده چې هغو حالاتو سره لیکلي شعرونه یې اوسنیوحالاتو سره سمون خوري، او داسې هنري بڼه یې ورکړې، چې لسګونه سلګونه کالونه څه چې اسلامي جامعې وجود لري، دبدرالدین شاعري به ژوندۍ اوسي.

دبدر الدین په شعري اسلوب او درنو الفاظو په هنري بڼه اوبدلو کې په وجه یې دملګرو په منځ کې دخپلې زمانې درحمان بابا نوم مشهور شوی، رښتیا هم چې په ډېر مطابقتونه او مناسبتونه ورسره لري. له همدې ځایه ده ،چې دغسې یوه روحاني ځواک له برکت دملګرو پر زړونو او ذهنونو واکمني چلوي. په پای کې نوموړي ته درب کائنات څخه تلپاتې خوشالي او علمي، جهادي، ادبي ډګرونو ته دسترو خدمتونو انجامولو دعاوې کوم، او خپلې ماتې ګوډې کرښې، په دې پیرزوینه رانغاړم:

چې له پامیره ترانې وایي دسترو فتحو

دبدرالدین له طالب خیاله لاس نیوی کومه

ایراني انقلاب
ته یوه ځغلنده کتنه!

رحیمي

په ۱۹۷۹زکې زمونږ په ګاونډ(ایران) کې انقلاب راغی اودمحمد رضاشاه پهلوي شاهي رژیم ړنګ شو.ایرانیان دغه انقلاب ته داسلامي انقلاب اصطلاح کاروي، دکوم اساس چې د نورولومړیتوبونو اوبستېونو ترڅنګ دشیعه مذهب او فقهې په ساتنه او دعوت اېښودل شوی

دایراني انقلاب مؤسس اوفکري رهبر ایت الله خمیني و،هغه نه یوازې دایران دننه دانقلاب غځولو نظریه یا ایډیا درلوده بلکې هغه عملاً هم دا کوښښ وکړ چې دخپل انقلاب رېښې تر بهرنیو نړۍ هم وغځوي ، خودنوموړي په ژوند کې دې نظریې دعمل بڼه ونه مونده.او دهغه وروسته ځای ناستي او انقلاب ساتونکې ټیم په هم دریغ اومسیرروان لیدل کېږي.

شایدډېرولوستونکو سره داپوښتنه وې چې ایران کې دانقلاب څپه ولې راپورته شوه؟ هغه اسباب او لاملونه څه وو چې له امله یې دومره لوی اوقوي بدلون رامنځته شواو دشاهي رژیم ټوله هسته یومخ ونړیده؟ دې پوښتنې ته د ځواب مندلو په لړکې چې مونږ کله په هغواسبابوغورکوو دکومو په وجه چې دایران خلک دایت الله خمیني اودهغه دملګرو په ملاتړ اوننګه دشاهي نظام پر ضد پورته شول! یو ترټولوعمده اوقوي سبب یا لامل دایراني ولس دمذهبي اوکلتوري ارزښتونو اوغوښتنو په خلاف دایران دشاه جارحانه رویه په نظر راځي؛ چې دنوموړي پر ټولو پوځي ، داخلي اوخارجي لاسته راوړونو یې خاورې واړولې، دایران پیښوثابته کړه که څو دیوهیوادچارواکي دهیواد په پرمختګ او ترقۍ کې برلاسې ولري او دې لړ کې هرڅومره مقبولیت اوخدمتونه هم ولري خوچې د یوولس دیني او ملي ارزښتونوته ژمن نه اووسي اوهغه ترپښو لاندې کوي نوانجام به یې لکه دایران دانقلاب پشان وي

دشک پرته دایران شاه پخپل وروستي وخت کې دایران دپوځي ځواک له پلوه دومره پیاوړی اوفعال هیواد کړی وچې په ټوله سیمه اومنطقه کې یې ساری نه و،په دې علاوه د شاه په زمانه کې دنړیوالو ستونزو اوسیاست په برخه کې هم ایران دمؤثررول اوکردار څښتن و،هیواد یې دخوشالۍ او ترقۍ په لار روان و، دتمدن له پلوه هم ایران دنړۍ پرمختللو هیوادو کې شمارو، دتعلیم او سواد په برخه کې ایران دډیروهیوادوڅخه وړاندې و اولوی شمیرځوانوهلکانواو نجونو یې دبهرنیو هیوادو په پوهنتونو کې زد کړې کولې نوویلای شو چې داقتصادي،تعلیمي،اجتماعي، پوځي او سیاسي پلوه ایران بیرته پاته هیواد نه و. دغه وجه ده چې دایران دشاه نه دایراني ولس دنفرت سبب اقتصادي او سیاسي نه و اونه محض دشاهي نظام شتون دخلکو دنفرت اوبیزارۍ سبب و، زکه په یوشیمر پرمختللو هیوادو کې هم شاهي رژیمونه شتون لري اوپه رعایاوو او خلکو کې یې هیڅ ډول نفرت او بیزارۍ نه ترسترګو کېږي په دې وجه یوازې دشاهي نظام یاسیستم موجودیت هم دانقلاب دپاڅون او بغاوت اصل سبب نشي ګڼل کیدای اوبیا په خاصه توګه داچې ایراني ولس په مزاج کې دشخصیت پرستۍ اثرپه هردورکې لیدل کېږي نوشاهي نظام ددې مزاج سره عین مطابق ونو بیا اخر سیاسي سبب څه و؟

داسلامي نړۍ مفکرعالم مولاناسید ابوالحسن علی ندوي رح لیکلي: دایران په انقلاب کې کومې نارې چې ترټولو زیات مؤثررول درلوداودکومې په وجه چې په ټول هیواد کې دایران

دشاه په ضد انقلابي صفونه جوړ شول هغه داسلامي نظام ناره وه! اوهمدې نارې دروند گذار په شاهي نظام دومره قوي ونه لگید څومره چې دایران دشاه په مذهب اوپه دین مخالف سیاست ولگیده، دواک نه دایران دشاه لاس په سر کیدل ددغه نظام دساتلو لپاره مازې وسیله وه ددې لپاره په هیواد کې داسلامي نظام اواسلامي ثقافت خلاف کوم رجحان پیداشوی واوهغه دایران دشاه او دهغه ملگرودمغرب غلامی په نتیجه کې پیداشوی و

دایران دشاه پالنه اوروزنه چې په یوغیراسلامي ماحول کې شوې وه،دلویدیځ کلتوراودهغه دژوند تصورپه ایران کې دودول غوښتل اوایران یې په همدې رنگ کې رنگول غوښتل، هغه پخپل وخت داسې گامونه پورته کړل چې دهغو په وجه مذهبي رهبرانوته په پوره توگه جوته شوه چې دایران څخه مذهبي رجحان په پوره توگه ختمول غواړي او دخپل هیواد نظام،داسلام دښمنه خواکونوته په لاس ورکړل اوداسلام سره دایراني ولس رشتې ختمولولپاره هغسې وکړل څنگه چې دمصر واکمنو خپلو فراعنه وو څانونه منسوب کړل په ورته توگه دایران شاه خپل انتساب[سائرس] ته وکړاو ددې لپاره یې یوتاریخي جشن ولمانځه او په هغه یې ملیاردونه ډالرمصرف کړل داسلامي هجري تقویم په ځای یې ایراني تقویم دود کړ

خو داچې دایران ولس همیشه دعلماوو سره ولاړپاته وو اودواکمنوداسلام ضد پالیسیوترټولو قوي مخالفت علماوو وکړ، دعلماوو داثرختمولو لپاره دایران شاه داوقافو په نظام کې تغیرات راوستل مؤثراومنلي علماء یې دهیواد څخه جلا وطن کړل اوپه لوی شمیرېې بندیان کړل اوداسلامي نظام لپاره مبارزه کوونکو ته یې تعذیبونه ورکړل اوپه زرگونو ځاني زیانونه یې پیښ کړل، ددې تشدد په وجه په عامو خلکوکې احساسات اوجذبات راوپاریدل اودایت الله خمیني په مشرۍ چې دفاریس په یوکلي کې دجلاوطنیژوند کاوه ایرانیانو بیدریغه قربانۍ ورکړې په پای کې دایران دخلکو قربانیو رنگ راووړ دایران شاه دهیوادنه تیښتې ته مجبورشواوپه ۱۹۷۹زاپریل کې هغه د شیعه مذهب لارښوونو سره سم دیواسلامي شیعه حکومت بنسټ کیښود

ایت الله خمیني په ټولنیز ژوند کې دعباداتو نه زیات اهمیت اجتماعي نظام رامنځته کولوته ورکاوه، هغه وایي: عبادات په اسلامي لارښوونوکې شته او داسلام دجزپه توگه به په هروخت او هره زمانه کې جاري اوساري وي خوپه ژوندکې انقلاب دهغه په اند دسیاسي اصلاحاتو اوداجتماعي اصلاح راتلو پرته ناممکن دی،هغه وایي داسلام دعباداتو برخه که مسلمان واکمن وي یا کافر؛ یویې هم دځان لپاره خطر نه گڼي او ددې په مقابل کې سیاسي شعور اوپوهه بیا دځان په وړاندې خطر بولي وایي: دامپریلزم پلو یان غواړي چې موږ یوازې دلمونځ اوروژې عبادت وکړواو زموږ ژوند دې یوازې ترعباداتو محدود وي، څوزموږ سره دهغوی سیاسي تصادم او ټکرانشي اوزمونږپیطرول دې دوی قبضه کوي،زکه زموږ په لمانځه سره هغوی ته کوم زیان نه رسي، که زموږ بازارونه دهغوی دمالونولپاره، زموږ پانگه دهغوی دسوداگرواو مصنوعاتو لپاره وقف وي او دهمدې لپاره یې خپل قوانین اودژوند نظام په موږراتپلی دی اوموږ ته یې دادوکه راکړې چې اسلام دژوندلپاره دعمل وړندی او زموږ غوښتنې نشي-پوره کولی، هیڅ نظام اوحکومت نشي-چلولی اسلام دهغوی په نظرکې دحیض دمسائلو دمیږه اومیرمنې دازدواجي رشتې پشان دمسائلونوم دی

دادایت الله خمیني دافکارویوه نمونه ده،هغه دیته ورته نوراندونه هم لري هغه دانقلاب لپاره دنظراوعمل یوځایوالی دبریاقوي اومؤثرعنصر-بولي اوددې ترڅنگ دانقلاب دبري لپاره له دین څخه رهنمائي هم ضروري گڼي

خمیني په شیعه عقیده باندې کلک تاکید اوعمل درلوداوهم یې نورې نړۍ ته دایراني انقلاب دغځولو کوښښ کاوه دهغه وروسته یې ځای ناستي هم په دې کوښښونو اوعمل بوخت دي، دغه وجه ده چې دایران څخه دباندې د شیعیت پیروان که هغوی په هند، پاکستان، افغانستان،عربي هیوادو لبنان اومنځنی اسیا کې دي بشپړ اکثریت یې دایران انقلاب ته دیومنطقوي دیني او سیاسي انقلاب په نظر گوري اوتري پلوي کوي هرچې په نړۍ کې دسنیانو اکثریت دی هغوی بیا دایراني انقلاب منطقوي عزایم غندي او په خاصه توگه دعربي هیوادو رویه ورسره په همدې وجه مخاصمانه اوجارحانه ده اوهغوی

تل ایران دخپل انقلاب په صدور اوپخپلو کورنیو چارو کې په لاسوهنې تورنوي، دیته په پام دصدام حسین اوخمیني ذاتي رقابت اودښمنې چې کله داته کلن جنګ بڼه غوره کړه نودعربواوعجمودتکریوباب یې پرانیست چې وروسته په یوبل باندې دبري مندلو لپاره په یولوی منطقوي جارحیت بدل شوچې نن هم په لبنان اویمن کې یې سپرغۍ پورته کېږي

په نړیواله کچه نړیوال قدرتونه دایران په باب ویشلي دي امریکا اوبرتانیه ایران ته په ښه سترګه نه ګوري فرانسه،جرمني، ایتالیااوهسپانیه دنظریاتي پلوه ایران ته داجنبي په نظر ګوري خودومره هم قوي اجنبي یې نه بولي چې یومخ اقتصادي راکړه ورکړه هم ورسره نلري ،چین، روسیه اوهنددامریکا اوغرب په رقابت کې ایران یودتیلو اوپانګونې دامکاناتو څخه مالا مال هیواد بولي او دکورني نظام څخه یې قطع نظرپه نړیوالوچارو اورقابت کې یې یوګټور منطقوي ستراتیژک ملګري ګڼي ،پاکستان چې دسني اکثریت لرونکو هیواددی هغه دایران دانقلاب نه ځان لاتعلق بولي خو دپاکستان شیعه کړیو لپاره ایراني انقلاب یوماډل ضرور دی

اوس رازودیته چې دایران انقلاب څومره دهیواد دننه کامیاب اویومثبت انقلاب ثابت شوی اودایران دخلکوپه ژوند کې یې کوم مثبت تغیرات رامنځته کړي؟ دکتونکو په نظرانقلاب همیش یا تدریجي طرز حکومت یوازي په ناروتکیالرې خو دخپلوخلکوپه ژوند کې دکوم غوره بدلون په راوستوکې ناکام وي، ځکه یوازې دجالبو عنوانو اوشعارونو په وړاندې کولو اویا دپرلپسې انقلاب،انقلاب نارو وهلو سره دعام ولس په ژوند کې بهترې نه را درومي

هغه کارپوهان اومؤسسات چې دایران چارې څاري هغوی په تعلیمي اودورغتیا په دګرکې دځلوېښت کاله تیریدو باوجود دایران انقلاب خلکوته دیومثالي نظام په وړاندې کولو کې پاته بولي!! البته دروغتیا په ډګرکې دروغتیا نړیواله اداره له دې پلوه روغتیایي خدمتونه یې دیوځه د ډاډوړبولي چې دخپلوټولوعوایدو شپږ سلنه په روغتیایي چارو لګوي، چې په دې سره روغتیایي خدمتونه دښارونوترڅنګ کلیوالوسیموته هم غځیدلي او دهروزروتنو په سر یومعالج یاډاکترلري او هم دهروسلو ډاکترانوڅخه څلویښت یې ښځینه ډاکترانې دي

داصلاحاتو راوستو په نوم دایراني انقلاب ځینې کړنې په نړۍ کې تربحثونو لاندې دي اوپوهان یې داعتدال پرضدبولي چې له امله یې اسلام دښمنه څواکونوته دپلمو جوړولو فرصت په لاس ورغلی، په خاصه توګه دایران انقلاب وروسته دسنیانو احساسات او جذبات چې په څومره جبر سره زندۍ کړای شول له امله یې نن هم هلته داهلسنت سینې زخمي دي، په دې وجه هم دخمیني په مشرۍ انقلاب په عزایمو نړۍ کې نیوکې کېږي، کړه وړه یې دمذهبي اوعقیدوي توپیرونو زیرنده ګڼل کېږي ،هم دا سبب دی چې ایران دخلیج دیوشمیرهیوادولخوا ددوی په کورنیو چاروکې په لاسوهنې تورن اوپرېلل کېږي دکوم له امله چې همدا اوس په یمن او سوریه کې دشیعه او سني خونړۍ جګړه دوام لري.

البته که ایراني چارواکو له پیله دخپل انقلاب عزایم یواځي دایران ترجغرافیي محدود ساتلي وای او زیات ترکیزیې دایراني ولس دسوکالۍ او خوشالۍ په پلانو کړی وای په خاصه توګه دنوې ټیکنالوجي مندلوته یې خپل پام ډیر کړی وای، دعربي هیوادو سره یې دمخالفت او مخاصمت مسیر ترک کړی وای ، دایران په داخل کې یې داهلسنت والجماعت په وګړو مذهبي او علمي قیوادت نه وای نافذ کړي بدون شک دایران ولس به دانقلاب دثمراتو اوفوائدو نه په ښه توګه ګټه پورته کړې وه لیکن وینو چې نن ورځ ایران په یمن ، سوریه، اولبنان کې په لوی لاس ځان په یولوی فرقه یې جنګ کې ښکېل دی چې له امله یې دایران اقتصاد پښونشي-دریدای، اوهم دایراني انقلاب دثمراتونه دایران خلک هغسي-چې اړتیا وه دانقلاب په څلویښت کلنه اوږده موده کې برخمن نشول نواړتیاده چې دایراني انقلاب علمبرداران پخپله دغه تګلاره له سره کتنه وکړي او نورو هیوادو ته دخپل انقلاب صادرولو دعزایمونه تیر شي یواځي خپل ټول پام دخپل هیواد ترقۍ،خوشالۍ ته وګرځوي اوباور دی چې دا کاربه په نړۍ کې دسني او شیعه جنګولو هغه ارمان چې داستعمارپه زړه کې دی دخاورو سره خاورې شي

پای

طهارت ونظافت

د اسلام دامتیازنښه!

مفتی محمد عبد الله قاسمي
دهند حیدراباد دارالعلوم دفقهي او ادب استاد
محمد افاق

طهارت ونظافت یوداسې مهم عمل دی،چې دانسان لپاره دښایست،زیب وزینت باعث دی، د سلیم الطبع انسان لپاره دعزت او افتخارسرمایه ده دمتمدنو اومهذبو خلکو شعار دی،د مترقي او ژوند یوقومونو پیژندګلوې ده او داسلام اومسلمانانو د امتیاز نښه ده

پاکې او نفاست زړه ته خوشالي اوفرحت ښښي،ذهن ته تازه ګې اوطراوت ورکوي، قلب ودماغ معطرګرځوي، په صفایي اوسوتره ګی سره انسان ته انس اوسرورپه برخه کېږي، دلجمعي اویکسوئي حاصلوي، ذهني تشویش اوپراګندګي تري لري کېږي اودصحت په حفظان کې ورسره مرسته کوي.

داسلام څلانده لمردراختووړاندې ټوله نړۍ په تیاروکې ډوبه وه،په هرلوردتیاروخادرخورو،دطهارت ونظافت نه لا پرواهي اوبې اعتنائي وه، دبدن اوکالیوصفائي معیوب ګڼل کیده،غسل کول جرم شمارل کیده،په زړو، خیرنواوپیلتو کالیوکې ژوندلازم اوضروري ګڼل کیده، دترخګیواونوم لاندې وښتانوخریل ګناه ګڼل کیده دجاهلیت په زمانه کې څینونصراني راهبانوکالي په تن نه کول اودستروړاندامونه یې په غیرمعمولي اوږدوکړووښتانو کې پټول د[اتینس) په نوم دیوراهب وینا ده چې ده ټول عمرپښې په اوبوندې وینځلي ابراهام په نوم بل راهب وایي هغه ټول عمر په مخ اوپښواوبه ندې اچولي داسکندریه یوراهب چې کله عیسایان په غسل کولوولیدل نوډیرافسوس،غم وغوصه یې ښکاره کړه او ویلي څه موده وړاندې موږ پخپل مخ باندې اوبه تویول حرام ګڼل افسوس!نن موږپه ټول بدن اوبه تویوو(ماذاخسرالعالم بانحطاط المسلمین ۱ټوک۱۵۱مخ)

دلویدیځ خلک اګرکه څانونه مهذب اومتمدن بولي، دمتانت،تهذیب اوښائستګی‌لوړې دعوې کوي، خو څو پیړۍ وړاندې دهغوی حال ددینه مختلف نه و، دروم پوپ دجرمني په پاچافریډرک باندې دکفر فتوا ولګوله څکه په هغه لوی توردواچېهغه هره ورځ غسل کاوه،او دروم پاپاهره ورځ غسل کوونکي کافران ګڼل اوداسې کافرانوته دسزا ورکولولپاره دروم پوپ په ۱۴۷۸زکې یوه دیني محکمه هم جوړه کړې وه اوهغه خلک چې هره ورځ لمبیدل په لومړي کال یې دوه زره کسان ژوندي وسیزل او اویا زره یې بندیان کړل، دزړو اوخیرنو کالیواغوستلوپه وجه سپږې دومره ډیرې وې چې کله به دبرتانیې کوم پادري بیرون ووت دهغه په چپن به بې شمیره سپږې نښتي وې، کله چې په اندلس کې

داســـــــلامي
سـلطنت لمـر
ډوب
شواوعيسويانو
ته دواک واګي
په لاس ورغلې نـودوم فلب ټول حمامونـه وتـړل اوهغـه داشبيله والي په دې وجه معزول کړچې هغه به هـره ورځ مخ ولاس وينځل

ديتـه ورتـه حـال دهنـدوانوهم و، دهنـدوانوپيروانو لپاره دطهـارت او پـاکۍ هـيڅ تصور نلـري دهغـوی پـه کتـابونوکې دپـاکۍ او نظافـت لارې چـارې نـدي بيـان شـوي، دهنـدودهرم دننـه انسان دخپـل مـزاج ومـذاق مطابق دځـارويو پشـان ژونـد تيـروي څوکالـه وړانـدې دهندوستان يوه پخواني صدراعظم [مرارجی ډيسائي] دابيان په نړۍ کې مشهورشو اوپه ټولو ورځپاڼوکې چاپ شوچې زه هرسهارخپلې متيازې څکم!

سکان دسراونوم لاندې وښتان خريل دخپـل ديـن څخه خروج ګڼي هم دا رازختنه کول هم لوی جرم بولي

غـرض داچې داسلام پرتـه ټـول اديـان دصفائي اونظافـت دلارښـوونو څخه مکمـل خـالي دي بلکې پـه هغوکې صفائي کول جرم او ګناه ګڼل کيږي دايـواځي داسلام امتيـازې نښـه ده چې طهارت ونظافت تـه يـې غيرمعمولي پاملرنه کړې اوپـه اړه يـې بشريـت تـه اعلی درس ورکړی او په ښه شرح وبسط سره يې په اړه اداب اوطريقې ښـودلې چې دهغـوی پـه غـوره کولو سره يـو سليم الطبع انسان خوشالې او سرور محسوسـوي ورتـه غير معمولي خوښې پـه برخـه کيږي اوپـه مخ کې يې دخوشالۍ اونورانيت نښې ليدل کيږي

اسلام دطهارت اوپاکۍ په اړه زيات تاکيد کړی دی کله چې په رسول الله ﷺ دوهم ځل وحي نازل شوه، نو دنبـوت دمسؤليتونودسرته رسولو لپاره دنـورو لارښوونو ترڅنګ ورته يوه لارښونه داهم وشوه چې تـه خپل کالي پاک اوسوتره ساته(القرآن مـدثر:۴)طهـارت اوپاکې اللـه جَلَّجَلَالُهُ تـه دخوښـو اوګرانوخيزونوڅخـه ده (القرآن البقره:۲۲۲)

ځينوصحابه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ به داستنجاء وروسـته لوټـه اواوبودواړه استعمالول الله تبـارک وتعـالی دهغـوی مـدح وکړه اودقرآن کريم دا ايت نازل شو:

﴿فيـه رجـال يحبـون أن يتطهـروا واللـه يحـب المطهرين [القران التوبه:۱۰۸)

پـه دې کـې داسې خلـک دي چـې هغـوی پـاک اوسيدل خوښوي اوالله تعالی پاک اوسيدونکي خوښوي

رسول الله ﷺ پاکې نيم ايمان ګرځولي په حديث کې ارشاد دی:الله تعالی صـاف اوسـوتره دی اوصفائي اوسوتره ګې خوښوي

پــه يــو روايــت کېرســول اللــه ﷺ ارشادفرمايلی:

تنظفـوا بکـل مـا اسـتطعتم، فـإن اللـه تعـالی بنـی الإسلام علی النظافة، و لن يدخل الجنة إلا کل نظيف

دخپـل حيثيت پـه انـدازه دپـاک اوصـفا اوسيدو اهتمام وکړئ زکه چې الله تبارک وتعالی داسلام اسـاس په نظافت اينبی اوجنت ته به هغه شخص ننـوزي کـوم چې دپاک اونظيف اوسيدواهتمام کوي

لمونځ داسلام دوهم رکن دی،د اداء کولو لپاره يـې هم دجسم،کاليواود ځای طهارت شرط ګرځولی ،بيا پـه اوداسـه بانـدې داودس ترغيـب،دهوا پـه وتلو داودس

حکم،دبدن دکوم ځای نه دوینې په وتلو داودس حکم،دهراندام درې ځله وینځلو حکم،دمسواک وهلو ترغیب،په خوله کې داوبو اچولو په مهال غرغرې کولو ترغیب،دپوزې دپاکولو حکم،دجنابت وروسته دغسل کولو تاکید،په غسل کې ترممکنه حده په بدن باندې داوبو بهولو حکم،دزیاتي بریتونودتراشلو حکم،دترخګیو وښتانو دویستلوحکم،دنوم لاندې وښتانو صفاکولو حکم،په هره اوونۍ کې دنوکانوپریکولو حکم،په استنجاء کې دلوټواواوبو دواړو استعمالولو حکم،بیت الخلاءته دننوتو په مهال پیزاراچولو حکم،دمتیازو دڅاڅکونه دځان ساتلو لپاره په ناسته دمتیازو کولوحکم، دقضاءِ حاجت وروسته لاس په خاوره باندې مږلوحکم.دخوب نه دبیداریدو وروسته داوبو استعمالولوڅخه وړاندې دلاسونو دوینځلو حکم

اوبه که نه وي یا داوبو استعمال په وجه ورته دضرررسیدواندیښنه وه نو دتیمم وهلو حکم،په کوم چې اګرکه مخ اولاسونه په دوړوککړیري خوبیا هم د رواني لحاظه دپاکۍ او صفائي احساس پاته کېږي او ذهناً انسان ځان صاف بولي

داټولې خبرې یوانسان دصفایي په اړه یوانسان حساس ګرځوي اوانسان نفیس اوپاک باز جوړوي

په احادیثوکې دطهارت وصفایي په اړه چې کومې ګټې بیان شوي په روایت کې دي چې : کوم شخص دپاکۍ په حالت کې ځملي فرښتې هغه ته دمغفرت دعاء ګانې کوي (مجمع الفوائدحدیث شمیره۱۱۴۴

په یوبل روایت کې راغلي:

کوم تن چې دخپل کورغولی اودخپل استعمال څېزونه صفا اوسوتره ساتي نودهغه نه به فقر اوتنګ لاسې لرې وي او ورته غناء او مال داري به په نصیب کېږي (کنزالعمال حدیث شمیره ۲۵۹۹۹)

په بل روایت کې دي چې:

کوم تن په ښه توګه اودس وکړي اومسجد ته دتلو قصدوکړي نودا ټول وخت یې په لمانځه کې حسابیږي څو چې یې اودس مات کړی نه وي

په یوبل حدیث کې هم راځي چې:

دقیامت په ورځ به داودس په وجه دمحمدي امت اندامونه ښه ځلیدونکي او راڼه به وي اودهمدي په وجه

به رسول الله ﷺ خپل امتیان پیژني(بخاري شریف حدیث شمیره ۱۳٦)

هغه خلک چې دطهارت ونظافت چندان خیال نه ساتي په احدایتو کې ددي ډېرلوی وعیدونه راغلي په یوحدیث کې رسول الله ﷺ فرمايي:

په عامه توګه دقبرعذاب دمتیازو دڅاڅکونه دځان نه ساتلو په وجه وي (ابن ماجه ددیث شمیره ۳۴۸)

په یوبل روایت کې دي:

رسول الله ﷺ په دوه قبرونو باندې تیر شو او وي فرمايل:دې دواړوقبرونو واله ته عذاب ورکول کېږي، ولې دوی نه یودمتیازوڅاڅکو سره احتیاط نه کاوه او دوهم چغلي کوله په بل روایت کې دي رسول الله ﷺ وفرمایل:

په کوم کورکې چې جنوب اوناپاک شخص وي هلته درحمت فرښتې نه درومي

(ابوداود،حدیث شمیره:۲۴۷)

په دې سربیره طهارت ونظافت ته په پام درلودو سره انسان طبي ګټې هم ترلاسه کوي، صفائي اوسوترائي دصحت دحفظان سره مرسته کوي هرانسان چې په التزام سره نفاست اوپاکیزګې ته پام ولري نو هغه دډېرولویو ناروغیوڅخه خوندي کیدای شي دشرعي او طبي پلوه چیرته چې دیو انسان لپاره نفاست اوپاکیزه ګي ضروري ده په ورته توګه دانساني عقل له مخې هم دنفاست او پاکیزګۍ غوښتنه کوي

کوم انسان چې دطهارت وصفائي اهتمام ولري خلک دهغه سره مینه کوي ورسره په خوشالي اوخلاصه تنده یوځای کېږي په مجلس کې ورته وړاندې ځای ورکول کېږي،ددې برعکس هغه انسان چې خیرن اوچټل اوسي، زاړه اوخیرن کالي یې په تن وي هغه دخپل شکل اوهیئت له پلوه خلکوته خوند نه ورکوي ورنه هرڅای خلک نفرت کوي اوپه لیدو یې خلکو ته انقباض کېږي په مجلس کې یې خلک وړاندې نه کینوي وروسته یې کینوي په ټولنه کې داسې انسان ته دعزت او وقارپه سترګه نه کتل کېږي

په موجوده وخت کې په مسلمانانوکې چې ددین څخه بیزارې او دشریعت دحکمونوڅخه سرغړونې عام دي اوهرځای لاپرواهي شتون لري او داسلام ټولې لارښوونې اوفرامین یې شاته غورځولي اوپه اسلامي ټولنه کې دانګریزي کلتور ریښې غځیدلې ورسره داسلامي ټولنې څخه اسلامي عادات او اطوار هم عنقاء او نابود شوي

طهارت ونظافت چې یو وخت دمسلمانانو دامتیازه نښه و دعزت او افتخار سرمایه یې وه افسوس چې نن مسلمانانوتري بیګانه شوي اوزمونږ ګڼ شمیر مسلمانان ورونه دطهارت ونظافت داحکامو سره نا اشنا اونابلد دي داوداسه اوغسل پوري فرایض ورته ندي معلوم، دنجاست اوپیلتې دازالې طریقې نه پیژني،په کوموڅېزونو سره چې اودس ماتیږي،داستنجاء اداب څه دي، دجنابت احکام څه دي،دحیض ونفاس احکام څه دي ، همداسې دهغو مسائلو داحکامونه چې هره ورځ پېښیږي خبر نلري،داحالت دردناک او دافسوس وړدی

اوس مهال ضرورت دی چې دنوې نسل په وړاندې دطهارت ونظافت مسائل او دهغواهمیت اوضرورت بیان کړای شي دطهارت داساسي احکامو سره هغوی اشنا کړای شي داسلامي تهذیب اوثقافت سره دمحبت نقوش دهغوی په ذهنونوکې کینول شي دالله تبارک وتعالی څخه دعاء ده چې دمسلمه امت ته دحق خبرې پوهای او په هغه باندې دعمل کولو توفیق ورکړي .

آمین ثم آمین

د ۱۳۹۷ کال د دلوی۱۷ مه

د سولې په اړه د مسکو د بین‌الافغاني کنفرانس ګډ پریکړه‌لیک

بسم الله الرحمن الرحیم

موږ د روسیې د فدراسیون د افغان تولنو له لورې د روان کال د فبرورۍ په ۵مه او ٦مه نېټه په مسکو کې جوړ شوی د سولې په بین‌الافغاني کنفرانس کې ګډون کوونکي او خواوې د هېواد اوسني وضعیت او د سولې لپاره وروستیو ټوکېدلو هیلو ته په پام، دا کنفرانس چې په حقیقت کې د سولې بهیر لپاره د بین‌الافغاني خبرواترو تر اوسه تر ټولو مهم ګام دی، د ځانګړي اهمیت او اهتمام کوونکي یې د ستاینې او منلو وړ بولو.

موږ په ګران هېواد افغانستان کې تلپاتې سراسري سولې ته د رسیدو، هیواد ته د بشپړ ملي اسلامي حاکمیت د اعادې، له هیواده څخه د بهرنیو قواو مکمل وتلو، د ملي وحدت د ټینګښت، په نظام کې د افغانستان د ټولو خلکو د عادلانه برخه اخیستنې ته د زمینې برابرولو، د اجتماعي عدالت تامین، اسلامي اساساتو او دهیواد غوره ملي ارزښتونو ته په درناوي، په هیواد کې د تیرو څو لسیزو ترخو تجربو د تکرار د مخنیوي او همدارنګه د ټولو افغاني خواو تر منځ د متقابل درک، درناوي او یوبل منلو په موخه د تفصیلي ژورو بحثونو په پایله کې په لاندینیو ټکو مشترک توافق لرو.

لومړی: د بین الافغاني کنفرانس ټول ګډون کونکي او خواوې بشپړه اجماع لري چې په هیواد کې تلپاتې سراسري او باعزته سوله چې د افغانستان د ټولو وګړو غوښتنه ده، د صادقانه همه شمولو بین الافغاني مذاکراتو په پایله کې شوني ده.

دویم: د کنفرانس ټول ګډون کوونکي او خواوې په اجماع سره د بین الافغاني خبرو همه شموله او په منظمه توګه د تداوم لړۍ اړینه بولي او توافق لري چې د هیواد په‌دې حساس حالت کې نوموړي ناستې په منظمه توګه جوړې شي.

دریم: د کنفرانس ټول ګډون کوونکي او خواوې په دوحه کې د سولې روانو خبرو څخه کلک ملاتړ کوي او په افغانستان کې د روان

تحمیلی جنګ ته د پای په موخه بین الافغاني ناستې د هغې ممدی ګڼي.

څلورم: د کنفرانس ټول ګډون کوونکي او خواوې د افغانستان په بنیادی بنسټونو، دفاعی او نورو ملی نهادونو چې د ټولو افغانانو ملکیت دی، د سولی د توافق څخه وروسته په اړینی اصلاح، خونديتوب، او غښتلتيا ټينګار کوي.

پنځم: د کنفرانس ټول ګډون کوونکی او خواوې د بین الافغانی سولی د توافق په پایله کی په افغانستان کې د تلپاتې سولې او ثبات لپاره د سیمه ایزو او سترو نړیوالو هیوادونو همکاری او ملاتړ اړین بولی.

شپږم: د کنفرانس ټول ګډون کوونکي او خواوې پر لاندينيو ټوليزو ارزښتونو او اصولو ټينګار کوي:

- د نظام په ټولو امورو کی د اسلام د مقدس دین د اساساتو پیروي؛

- افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور ګڼل؛

- د افغانستان د ټولو اقوامو د بشپړ عادلانه مشارکت پر بنسټ د قوي او همه شمول مرکزي اسلامی حکومت پر خونديتوب ټينګار؛

- د ملي يووالي ټينګښت او د ټولنيز عدالت تأمينول؛

- په سيمه ايزو او نړيوالو منازعاتو کې د افغانستان بيطرفي؛

- او د ديني او ملي ارزښتونو په ساتلو سره د پرمختللې نړۍ له معيارونو سره د پاليسيو همغږي کول.

اوم: د کنفرانس ټول ګډون کونکي او خواې د سولې بهير او ورپسې ګامونو اړوند، پر لاندينيو مواردو ټينګار کووي:

- د هيواد څخه د بهرنيو قواو بشپړ وتل؛

- په افغانستان کې د بهرنيو هېوادونو پر نه لاس وهنې او ګواښونو ټينګار؛

- د افغانستان له خاورې څخه نړيوالې ټولنې ته د نه ګواښ ډاډ؛

- د اسلامي ارزښتونو سره سم د تعليم، کار، سياسي، اقتصادي او ټولنيزو فعاليتونو په برخه کې د ښځو د حقونو ډاډ؛

- د اسلامی اصولو سره سم د افغان وګړو پر سياسي او اساسي حقونو او د بيان پر آزادی ټينګار؛

- په هېواد کې د تلپاتې سولې او ثبات لپاره پر ملي او بين المللي ژمنتيا د ډاډ په ترلاسه کولو ټينګار؛

- د هيواد د بيا رغولو او پراختيا لپاره د نړيوالو مرستو هڅونه او جذب؛

اتم: د کنفرانس ټول ګډون کوونکی او خواوی د سولی لپاره د باور د فضا د جوړونی په منظور د ټولو خواوو له لوری په لومړی ګام کی د هغو بنديانو پر خوشی کولو چی سپين ږيری دی، يا پر سختو ناروغيو اخته دی او يا يی د بند موده پوره يا کمه پاتی ده، ټينګار کوی. همدارنګه د ملګرو ملتونو له تور لست څخه د طالب مشرانو د نومونو ايستل او په دوحه کی په رسمی توګه د سياسی دفتر پرانيستل د سولی د پرمختګ لپاره اړين بولی.

نهم: د کنفرانس ټول ګډون کوونکی او خواوې توافق لري چې په نږدی ممکن وخت کی د بين الافغاني تفاهم بله ناسته د قطر په پلازمينه، دوحه کی جوړه شی. موافقه وشوه چی په راتلونکی ناسته کی به د سولی په نورو مهمو اړینو موضوعاتو چی لا تراوسه پری توافق نه دی شوی، بحث وکړی.

و من الله توفيق

آیا د ویتنام حالت ته ورته والی امریکا ته تاواني نه دی؟

حسن مومند

رائن کراکر هغه امریکايي ډیپلومات دی چې پر افغانستان له قبضې نه پس دامریکا له لورې پدې هېوادکې دسفیرپه توګه وټاکل شو ؛ دامریکا له لورې دافغانستان له اشغال نه پس دا پدې هېوادکې دامریکا لومړی سفیر او اوهمده په کابل کې له کلونوراهیسې دامریکا بند سفارت خلاص کړ .

راین کراکر په افغانستان کې د حقیقي حالاتوعیني شاهد دی ؛دجنګ بربادي یې پخپله لیدلې ده ؛ افغانانو ته د وراوښتوځاني اومالي تلفاتو نه ښه خبر دی او امریکایي اونوروبهرنوځواکونوته وراوښتي تلفات تري هم پټ ندي ؛ داشغال په مقابل کې دافغانانو غبرګون اود اشغالګروسره ددوئ کرکه هم ورته ښه معلومه شویده خوسره ددې ټولو رائن کراکر پدې فکر دی چې په افغانستان کې دانجونو دتعلیم ؛ دمېرمنو دحقوقو؛ دبیان دازادۍ او د ډیموکراسۍ راوستلو په لارکې دوئ ډېرې لاسته راوړنې لرلې دي رائن کراکر سخت خفګان ښکاره کړی او وایې چې ددې هېواد نه دامریکایي ځواکونو دوتلو په صورت کې به داټولې لاسته راوړنې په سیند لاهو شي .

څو ورځې دمخه په نیویارک ټایمز کې دهغه یوې خپرې شوې مقالې کې راغلي دي چې امریکا له افغانستان نه دوتلولپاره مخامخ دطالبانوسره ناستې اوترونونه کوي پدې شرط چې طالبان به دامریکالپاره خطر نه جوړېږي اونه به هغه چاته پناه ورکوي چې پر امریکا حملې کوي خود افغانستان دولت پدې ترون اوناستوکې برخه نه لري ؛ طالبان دا دولت لاسپوځی بولی نوددې اداري دنه ګډون په شرط زموږ سره خبرې کوي اوموږ ددوئ داشرط منو چې پدې سره پخپله امریکا دافغانستان د دولت قانوني حیثیت تر سوال لاندې راوست؛

څه پوهېږم چې طالبان به زموږ سره ډېرې وعدې وکړي ځکه چې هغوئ پدې پوهېږي چې دامریکا دوتلونه پس به یې څوک دپوښتنې نه وي او نه به له چاسره داغم وي چې دوئ کړې کومه وعده پوره کړیده اوکه نه ؟

امریکا باید داسې نه وای کړي ؛ باید دافغانستان دولت یې پدې خبروکې راشامل کړی وای اوترهغې یې دوتلوپرېکړه نه وای کړې ترڅوچې تري دافغانستان دولت نه وای غوښتې .

هغه وړاندې لیکي چې دطالبانو سره دامریکا مذاکرات موږ ته په ویتنام کې دامریکا دشکست نه وړاندې دپاریس مذاکرات رایادوي؛دښمن ته ورتلل او دمذاکراتو په مېز ورسره کیناستل له ځان سره زموږ حریف ته دا پیغام لري چې موږ یې په مقابل کې دوسلې ایښودلو پریکړه کړیده اوس یوازې ددې تفصیلات پاتې دی؛ماته داسې نه ښکاري چې څه بهتري به راشي ځکه چې زموږ سره په خپل مقابل دخبرې تسلیمولو لپاره څه ندي پاتې.

کراکر بیا په آخر کې دامریکا اوسنی حالت په ویتنام کې دامریکا دشکست حالت سره ورته بللی دی.

رائن کراکر پدې مقاله کې ډېر حقایق ویلي دي خومتأسفانه چې هغه ډېر حقایق پټ کړي هم دي ؛ که یوڅوځې مشر داسې کړی وای دابه دومره بده نه وه خو د ده په څېر دامریکا نامتو ډیپلومات یې چې کوي دابده ده .

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې دامریکا دسنا مجلس هم دافغانستان نه د امریکایي تولو فوځونو د راوتلو سره خپل مخالفت ښودلی اودخپل مخالفت لپاره یې دکراکر دلایلو ته ورته دلایل وړاندې کړیدي.

دکراکر داخبره سمه ده چې دښمن ته ورتلل او دمذاکراتو په مېز ورسره کیناستل له ځان سره حریف یانې اسلامي امارت ته دا پیغام لري چې امریکا، یې په مقابل کې دوسلې ایښودلو پریکړه کړیده .

داهم له شکه وتی ده چې دامریکا سره اوس هیڅ داسې کومه خبره نده پاتې چې منلو ته یې طالبان ځان اړ او امریکا،یې دځان لپاره لاسته راوړنه وبلي نو ځکه یواځې همدا خبره کوي چې طالبان به موږ ته اطمینان راکوي چې دافغانستان خاوره به زموږ پرضد نه کارول کېږي.

امریکا چې هیڅ ترلاسه نکړل اوس ددې خبرو په تکرارولو هسې ځان ته د اوږو پوزه ایښودل غواړي؛په حقیقت کې دا دامریکا هیڅ لاسته راوړنه نده ځکه چې اسلامي امارت دامریکا په شمول په نړۍ کې هیڅ یو هېواد،یودولت او یوملت ته نه پخوا خطر و،نه اوس خطر دی او نه به هم په راتلونکي کې دچالپاره خطر وي.

چاته خطرجوړېدل نه داسلامي امارت پالیسي ده او نه هم اوسنو حالاتو ته په پام سره دا دخپل ولس او مسلمان ملت په خیر بولي.

نوبیا وایم چې کراکر په حقایقو اعتراف کړیدی خو ډېر حقایق یې ترپښولاندې کړی هم دي اود انصاف غوښتنه یې نده پوره کړی .

انصاف هغه دی چې دبرتانې نامتو لیکوال سایمن جیکینز په خپلې یوې تازه مقالې کې پرې اعتراف کړیدی ؛ هغه وایې چې دطالبانو اقتدارچې دقرون وسطی اقتدار ته ورته و ،هرچا حق درلود چې ددوئ ددې دولت سره مخالفت ښکاره کړي خو هغوئ د۱۱ ستمبر دپېښې سره هیڅ تړاو نه درلود نو ورباندې یرغل دټولونړیوالو قوانینو نه مخالفت و ؛ دچا په کور ور ننوتل اوهغه له خپل کورنه ویستل هغه هم له نیم رښتیا اونیم دروغو جوړې شوې پدې پلمې چې دوئ زموږ دښمن القاعده ته پناه ورکړې له هیڅ اصل له مخې روا کار نه و ؛ طالبانوویلي ووچې دثبوت وړاندې کولو په صورت کې به داسامه سره دقانون او دافغانانو دعنعناتو سره سم قانوني کړنې ترسره شي خو دطالبانو داغوښتنه په ډېر حقارت او تکبر رد کړای شوه او امریکا او اتحادیانو یې دغیض او غضب نه په ډکې طریقې پر افغانستان یرغل وکړ چې دا ددوئ ډېره ستره تېروتنه وه ؛ امریکا افغانستان ته راداخله شوه خوپه وړاندې یې هیڅ ځانګړی هدف نه و او نه یې ددې لپاره سم معقول پلان سنجولی و . دا پرېکړه په کوم دلیل شوی وه چې که طالبانو القاعده ته دپناه ورکولو ګناه کړی وه نوسزا یې ددوئ پرهېواد قبضه او دا ولس دې ته اړ ایستل وچې ژوند دې زموږ په اصولو برابر کړي ؟

طالبان په مادي لحاظ کمزوري وو خوځانونه یې منظم اوپرېکړه یې وکړه چې داشغال پر ضد به په هر حالت کې مقاومت روان ساتي که څه هم زیات وخت پرې ولګېږي ؛ هغوئ په خپل کور کې وو ؛ کورته دتللو تلوار یې نه و ؛ ستونزه امریکایانوته وه چې له ۷سمندرونو تېرشوي او افغانستان ته ورغلي وو .

امریکا په تېرو ۱۸ کلونوکې ددې جنګ داهدافو په اړه خپله مدعی څوځلې بدله کړیده ؛ کله یې ددې یرغل هدف افغانانو ته دډیموکراسۍ تحفه اوبیا رغاونه بللې ؛ کله دالقاعده له منځه وړل او کله هم دتروریزم ریښې ختمول .

نودامریکا دسنا مجلس ، کراکر او دده هم نظري نور امریکایان ولې فکر نه کوي چې آیا دا واقعي اوداسې ستراهداف وو چې باید امریکا ، یې دترلاسه کولو لپاره دخپل تاریخ ترټولو اوږد او دمالي اوځاني تاوانونو په لحاظ ترټولو ستر جنګ ته تیاره شوی وای ؟

اوآیا داعقلمندي ده چې ددې غولونکو شعارونو په اساس او د فرضي اهدافو دحصول په نوم دوسلو جوړونکو څو فابریکو دچالان ساتلو اودمحدودو تنانو دجیبونو ډکولو لپاره دابې ګټې جنګ روان وساتلای شي ؟

دکراکر په څېر امریکایان چې دکابل داداري خبره کوي نو بې له شکه چې د اسلامي امارت په لاس دجوړې شوې اداري دسقوط نه پس ددوئ په لاس دیوې لاسپوڅې اداري رامنځته کېدل ددوئ لاسته راوړنه وه خو امریکا اونور لویدیځ چې ددې اداري سره کومې هیلې تړلې وې آیا هغه هیلې یې پوره شوې ؟

هغه اداره چې هیڅ سیاسي استحکام نه لري ؛ اداري فساد ؛تنظیم پرستي رشوت اولوټ مار پکې اوج ته رسېدلی د امریکا اونور لویدیځ لپاره دبدنامۍ پرته دکوم درد دواکېدای شي ؟

اوکه خبره د فوځ وکړو نو ددوئ په لاس جوړ شوی فوځ هم داسې ندی چې په کار یې راشي ؛ سره له دې چې پدې فوځ ددوئ زیات مالي لګښونه شوي او ددوئ دروزنې په جریان کې دنفوذي مجاهدینو په بریدونوکې ډېرو بهرنو روزونکو خپل ژوند هم له لاسه ورکړیدی خوآیا ددې فوځ دساتنې اوبقاسره دامریکا کومه لویه ګټه تحقق موندلی شي؟

دامریکایې فوځونوپه نه شتون کې دامریکا دګټونه دفاع کولی شي؟

که دامریکا د مخالف لوري سره جنګېدلی شي ؟

پخپله امریکایان هم په همدې عقیده دي چې دامریکا دتلونه پس دا اردوشاید درې ورځې هم دمجاهدینوپه مقابل کې مقاومت ونه شي کړای نو ددې اردو شتون اوساتنه دامریکا لپاره کومه دګټې خبره ده ؟

هرڅوک پوهېږي چې په افغانستان کې دامریکایې اونوروبهرنو وژل شویو اوټپیانو اصل شمېره لسګونه زره ده خوددوئ دبراون پوهنتون له لوري خپاره شوي معلومات داښایې چې پدې جنګ کې ۳ زره امریکایې فوځیانو خپل ژوند له لاسه ورکړیدی ؛ ۲۰ زره ټپیان شویدی چې پدې ټپیانو کې ګن شمېردتل لپاره معذور هم دي ؛ ددې جنګ مصارف د زرملیاردو ډالرو نه اوړېدلي دي .

امریکایان اوپه ځانګړي ډول دکراکر په څېر خلک باید پدې غور وکړي چې آیا دالوی مالي مصارف اوسترځاني تلفات دکوم عالي اوستر هدف دترلاسه کولو په لار کې وشول او که د یوجوړ شوي پلان له مخې داحساساتي راپیداکړای شوي حالت نه جارشول ؟

اوس چې د۱۱ ستمبر خبره زړه شویده امریکایان باید پدې خبرې ډېر غور وکړي چې ددوئ له لورې دپیل شوي جنګ دوئ اونړۍ ته څومره ګټه رسولې اوڅومره تاوان ؟

دکوم شي دله منځه وړلوپه نوم چې داجنګ پیل شویدی هغه په نړۍ کې زیات شو که کم ؟

دنړۍ یوه ستره برخه اوپه ځانګړي ډول منځنې ختیځ کې دامریکا له لورې دپیل شوي جنګ په نتیجه کې څومره ستره تباهي رامنځته شوه ؟!

دامریکا ارادوته په پام سره به درائن کراکراودسنا دمجلس دغړواندېښنې پرځای وي خو هغه باید له دومره اخلاقي جرأت نه کار واخلي او دا ومني چې کومو افغانانو چې دخپل هېواد اوملت دآزادۍ لپاره قربانۍ ورکړیدي دهغوئ داقربانۍ هم دقدر وړ دي ؛ دوئ خو هم انسانان دي اودخپل دین ،ځان اوخاورې نه ددفاع په برحقې مبارزې کې قرباني شویدي .

دافغانستان اوسنی حالت که دویتنام نه دامریکایې فوځونو دوتلو دشپو ورځو دحالت سره یوشانوالی لري نو دې باندې خو امریکایانوته خوښې ښکاره کول پکار دي ؛ د پاریس دمذاکراتوپه نتیجه کې ددویتنام جنګ ودرېدلو اوددې هېواد نه دامریکایې فوځیان راووتل نو دجنګ ودرېدلو اودامریکایې فوځیانو په راوتلو کې امریکاته څه تاوان ورسېدلو ؟

آیا د ویتنام دجنګ حالت نه دسولې حالت غوره نه و؟

آیا دابه غوره وای چې لا هم امریکا په ویتنام کې په جنګ اخته او دمالي اوځاني تلفاتو لړۍ یې روانه وای ؟

د دوحې مذاکرات که دپاریس دمذاکراتو سره تشبیه ولري پدې باید امریکایان افتخار وکړي.

نن ویتنام او امریکا دیو بل ښه دوستان ګڼل کېږي ؛ویتنام آباد اودنړۍ له ښو اقصادونو څخه یو دی؛ دافغانستان نه دامریکایې فوځونو دبشپړ وتلونه پس ددواړو هېوادونو ښه روابط جوړېدای شي چې اساس به یې خپله خوښه او خپل واک وي نه جبر او استبداد .

....په تیرپسې
م: شمس....

غامدیت...

داوسني عصرلویه فتنه...

۴-ایا دقرآن متن دیوه قرائت پرته بل قرائت نه قبلوي؟
اوس موږ دغامدي د موقف په دې نکته بحث کوو چې ایا دقرآن متن دیو قرائت پرته نور قرائتونه قبلوي کنه؟
هیڅکله دغامدي داموقف صحیح ندی، چې دقرآن متن دیواځې د حفص قرائت پرته ،نورقرائتونه نه قبلوي، حقیقت دادی چې دقرآمتن دټولو متواترو قرآئتونو ګنجائش لري، دعلم خاوندان پوهیږي چې داوسنیو مصاحفو قرآني الفاظ دعثماني رسم الخط مطابق لیکل کېږي ، د دې رسم الخط کمال او خوبې داده چې پکې دټولو متواترو قرآئتونو (اووه-یا لس) [سبعه بلکې عشره] دلوستلو امکان لري او داټول قرآئتونه په دې یوه متن کې ویل کیدای شي

دمثال په توګه دفاتحه سوره آیت {مٰلِكِ يَوْمِ الدِّينِ} [الفاتحة: ٤]
واخله دا په رسم عثماني کې (د اعراب او ټکیو) پرته داسې لیکل شوی ﴿ملک یوم الدین﴾
په دې آیت کې د﴿ملک﴾ لفظ ﴿مٰلِكِ﴾ دمیم په ولاړزوراوهم ﴿مَلِکِ﴾ دمیم په پروت زور دواړه لوستل کېږي، او دواړه قرائتونه متواتردي دحفص په قرائت کې ﴿مٰلِكِ﴾ دمیم په ولاړ زور، او دورش په قرائت کې ﴿مَلِکِ﴾ [په میم باندې پروت زورسره] لوستل کیږي، په حجاز کې ددواړه الفاظ دیوه مفهوم لپاره استعمالیږي یعنې دجزاء دورځې پاچا یا دجزا دورځې مالک، پاچا هم دخپل مملکت مالک وي، دقرآن مجید دنورو نظائروځخه هم ددغو دواړومفاهیمو تائید کېږي، نوپه دې

توګه دقرائتونودااختلاف اوتنوع د قرآن مجید په عثماني رسم کې شتون لري
اوس یاد لفظ (ملک) په عثماني رسم باندې په غور کولو سره معلومیږي چې دغامدي صاحب دراېې برعکس ددې قرآني لفظ متن دورش قرائت (مَلِکِ) زیات قبلوي اوپه مقابل کې یې دحفص قرائت کم قبلوي په لومړي قرائت (ورش) کې دتکلف پرته ملک ﴿مَلِکِ﴾ لوستل کېږي اوپه دوهم قرائت (حفص) کې په لږتکلف(دمیم په ولاړزور) سره(مالک) لوستل کېږي
(۱)لومړی دلیل:
ددې لومړی دلیل دادی چې همدا لفظ کله دالناس سوره په دوهم ایت کې راځي نودعثماني رسم مطابق داسې راځي ﴿ملک الناس﴾ اوټول یې ﴿مَلِکِ الناسِ﴾ لولي،کوم چې متن ته بلکل قریب او یو صحیح قرائت دی او

دا هيڅوک ﴿ مٰلِكِ النـاس﴾(پـه ميم ولاړ زور) نه لـولي نـو پـه دې وجـه پـه الفاتحــه ســوره كــې هــم ﴿ مٰلِــكِ ﴾ ﴿مَلِكِ﴾ لوسـتل پـوره ګنجائش لـري اودورش قرائـت لـه مخـې يـې داسـې لوستل جايز اودرست دي

(۲) دوهم دليل:

ددي دوهـم دليـل دهـود سـورت د۴۱آيت ﴿مجرٖيها﴾ كې دى چې:

﴿بِسْمِ اللهِ مَجْرٖيها وَمُرْسَـٰهَآ﴾

په رسم عثماني كې داسې ليكل شوي :

﴿لسم الله محريها ومرسها﴾

پـه دې كـې (محرهـا) لفـظ پـه متواترو قرائتونو كې درې ډوله لوستل كيږي :

محرها (اصل عثماني رسم)

۱-مَجرٖيها ديومتواتر قرائت مطابق

۲-مُجرِيهَا د دوهم متواترقرائت مطابق

۳-مَجرَى هَـا د دريـم متـواتر حفـص قرائت مطابق

ددي څخـه معلومــه شــوه چــې دعـثماني رسـم مطـابق ليكـل شـوى لفظ(محرها) كوم چې دقرآن اصل متن دى او درې واړه متواتر قرائتونـه قبلـوي او په دريواړو طريقـو سره يـې دلوسـتو ګنجـائش شـتون لـري بلكـې دعلـم خاونـدان پـوهيږي چـې پـه دې كـې لومړني دوه قرائتونه دحفص قرائـت پـه مقابـل كــې ډيــر متــداول او زيــاتې فصيحې عربي ته نيږدې دي، زكه چې همدا لفـظ چې كله دمشـهور جاهلي شـاعر عمـروبن كلثـوم پـه معلقـه كـې راغـې:

صبنت الكأس عنا امّ عمرو

وكان الكأس مجراها اليمينا

په دې شعر كې د﴿مجراها﴾ لفظ په عامه توګه ﴿مَجرٖيها ﴾ لوستل كيږي او دا دحفص قرائت پشـان څـوک يـې هم ﴿مَجرى ها﴾ نشي لوستلى

۳-دريم دليل:

غامدي تـه دې معلومـه وي چـې پخپله دحفص قرائت (كوم تـه چـې ده دعامه قرائت نامانوس نوم وركړى) كې هم دقرآنِ مجيـدځيني الفـاظو دوه دوه قرائتونه درست دې ګـواكې پـه يـواځې حفص قرائت كې هم ځينـي الفـاظ پـه دوه ډوله لوستل كيـداى شي او لوسـتل كيږي لكه:

دالبقره سوره ۲۴۵آيت دى :

﴿ وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ﴾

پــه دې كــې د﴿يبســط﴾لفــظ ﴿يَبصُطُ﴾ هم لوستل كيدا شي دهمدې لپاره زمـوږ پـه مصـاحفو كې پـه صـاد تـوري دبـره كـوچنى سـين هـم ليكـل شوى

پـه ورتـه توګـه دالغاشـيه سـوره ۲۲آيت دى:

﴿لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُسَيْطِرٍ ﴾

كــې ﴿ بمســيطرٍ﴾لفــظ پــه ﴿بمصيطرٍ﴾ هم لوستل كېداى شي

دالطور سوره ۳۷ ايت :

﴿أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ ﴾

كــې د﴿المُصَــيطِرون﴾لفــظ ﴿ المُسَيطرون﴾ هم لوستل كيداى شي

ددي وضاحت وروسته ايا بيا هـم څوک دا دعوه كـولى شي چې دقـرآن متن يواځې ديوه قرائت پرتـه بـل هـيڅ كـوم قرائـت نـه قبلـوي؟ داسـې دعـوه يـواځې هغـه تـن كـولى شي چې هغـه دقرائت دعلم سره بلد نه وي او چـاچې هيڅكله په بينـا سـترګو دقـرآن مـتن نـه وي لوستلى

اصــــلاً دمتــــواترو قرائتونــــو دا اختلاف دنړى دهرې ژبې پشان دتلفظ او لهجې اختلاف دى چې پـه دې سره پـه قـرآن مجيـد كـې داسـې ردوبـل نـه كيږي چـې هغـه سره يـې پـه مفهـوم او معنى كې هم تغير راشي يا حلال حـرام شي ، بلكې قرآن هم هغـه قـرآن وي او په نفسِ مضمون كې هـيڅ كـوم بـدلون نه راځي

لكه زمـوږ پـه پښـتو كـې (نشته- نسـته ، غـږ- ږغ .ښـه يـي- شـه يـې.) داصرف دلهجو اختلاف دى هغه معنى چې په (غږ)ويلوكې افاده كيږي ،هغـه پـه(ږغ) كـې هـم افـاده كيـږي او هـم دواړه ليكل او ويل درست دي...

داسـې هـره ژبـه راواخلـه پكـې دلهجـو اخـتلاف لیـدل كيـږي اوبـل دلهجو توپير هيڅ معنوي توپيرنـه ګڼـل كيږي بلكـل هـم دغسې-حـال دقـرآن مجيد دمختلفو متواترو قرائتونودى

ايا قرآن ميزان دى؟

غامدي وايي: دالفرقان - المهيمن او دنوروقراني نومونو (اسماؤ) پشـان [

الميزان] هم دقرآن دنومونوڅخه يونوم او دهغه دصفاتوڅخه يو صفت دی وړاندي ليکي:

څلورم ځيزدادی چې قرآن مجيد په زمکه دحق وباطل لپاره [ميزان] او [فرقان] او دوحې په سلسلې ديو [مهيمن] په حيثيت نازل شوی دی

﴿اللَّهُ الَّذِي أَنزَلَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ وَالْمِيزَانَ﴾

الله هغه دی چاچې دحق سره يوځای کتاب نازل کړی يعنې ميزان يې نازل کړی دی ، په دې ايت کې د[ولميزان) څخه وړاندې [و] دتفسير لپاره دی په دې توګه [الميزان] په حقيقت کې د [الکتاب] بيان دی، دايت مدعاداده چې الله تعالی دحق وباطل لپاره قرآن نازل کړی دی، کوم چې په اصل کې دعدل ميزان دی او ددې لپاره نازل شوی دی چې هر شخص په دې باندې تول وويني چې حق څه دی اوباطل څه؟ نو ددې تول لپاره دادی په دنيا کې هيڅ يوداسې شی نشته چې په هغه باندې هغه وتلل شي

ميزان دوهم چاپ ۲۲مخ) اصول ومبادي۲۲-۲۳مخ)

زموږ په اند ميزان نه دقرآن دنومونوڅخه کوم نوم دی او نه يې دصفاتو څخه کوم صفت ميزان دی ،کوم ايت نه چې دی دقرآن په ميزان استدلال کوي ، دا استدلال دڅو لحاظه ناسم دی چې تفصيل يې دادی:

۱-دقرآم مجيد دپنځه پنځوس نومونو او صفاتومکمل فهرست امام بدرالدين زرکشي- رَحِمَهُ‌ٱللَّهُ په البرهان فی علوم القرآن کې او امام سيوطي په الاتقان کې راوړی خو په هغو کې دميزان نوم ياصفت ندی راول شوی (وګورئ البرهان فی علوم القرآن لومړی ټوک ۲۷۳-تر۲۷۶)

۲-علامه زمخشري (څوک چې غامدي دلغت دامام په توګه مني وګورئ دميزان لومړی برخه ۱۲۸مخ) پخپل تفسيرالکشاف کې دالشوره سوره ياد آيت کې دالکتاب نه مراد قرآن ندی بلکې جنس الکتاب مراد دی، دکوم مطلب چې دادی : هغه سلسله دکتابونو چې الله تعالی په هره زمانه کې نازله کړې ددينه خاص قرآن نشي- مراد کيدای بلکې هر الهامي کتاب پکې داخل دی، په دې علاوه علامه زمخشري ميزان دقرآن صفت ندی منلی بلکې [و] يې عاطفه منلی او قرآن او ميزان دواړه يې دوه جلا، جلا ځيزونه ګرځولي دي، همدا رنګه هغوی دميزان دوه معاني ليکلي يو عدل وانصاف اوبله ترازو...

نوبناًًً کله چې دعربي ژبې دلغت امام ياد ايت کې نه قرآن ميزان ګرځولی او نه يې [و] دبيان يا تفسير په معنو کې اخيستی بلکې واو يې عاطفه ګرځولی او تري دعدل وانصاف او ترازو معنی يې اخيستي نو غامدي په کوم اساس ددې ايت نه دقرآن ميزان معنی اخستی شي؟دالکشاف پوره حواله داده چې:

[انزل الکتاب،أی جنس الکتاب(والميزان)والعدل والتسوية، ومعنی انزال العدل أنه انزله فی کتبه وقيل الذی يوزن به](الکشاف ۳ټوک ۴۶۵)

دياد آيت همدا مفهوم امام طبري (په تفسيرطبري) کې امام قرطبي په (قرطبي تفسير) کې حافظ ابن کثيرپه (تفسيرابن کثير)کې علامه شوکاني په (فتح القدير) کې علامه محمودآلوسي په (روح المعاني) کې او احمدمصطفی مراغی(په تفسير مراغی) کې بيان کړي دی

په دې ټولو کې هيڅ مفسرپه دې آيت کې د[الکتاب]څخه نه قرآن مراد ګرځولی اونه يې ميزان دهغه صفت ګرځولی بلکې داسلامي امت داټول معتمدعليه اودعربي ژبې وادب ماهرينو مفسرينو ددې ايت نه همدا يو مفهوم اخذکړی دی چې په دې کې دالکتاب څخه مراد دکتابونو سلسله ده او دميزان څخه يا عدل وانصاف مراد دی يا بيا ترازو مراد ده، په هغوی کې هيچا هم ددې آيت نه هغه مفهوم ندی اخيستی کوم چې غامدي ددې ايت نه اخيستی

دقرآن تفسيرپخپله دقرآن څخه کول اعلی اومعتبر تفسيروي، زکه چې [القرآن يفسر-بعضه بعضا]داصولو منلی اصل دي، دهمدې اصولولاندې کله چې موږددغه آيت نظائرمطالعه کوونو دهغوی نه هم دقرآن ميزان

کیدل نه ثابتیږي په دې لږکې دمثال په توگه یواځې دوه ایتونه مطالعه کړئ:

﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ﴾ (الحدید:۲۷)

بیشکه موږ خپلو پیغمبرانو ته نښې ورکړې ومولیږل او دهغوی سره کتابونه مو نازل کړل اوترازو هم،څو خلک په انصاف باندې پاته وي.

ددې ایت مفهوم دادی چې الله تعالی دانسانانو دهدایت لپاره اولارښوونې لپاره په هردور کې کې دښکاره ښانو سره یوځای پیغمبران لیږلي کتابونه یې نازل کړي او دهغوی دکتابونو سره یوځای یې یعنې دعدل و انصاف تصوراو دهغه په باره کې یې حَکم لیږلي څو خلک په عدل و انصاف پاته وي اوظلم او زیاتي نه لري وي

یاد ایت نه داخبره هیڅکله نه ثابتیږي چې قرآن میزان دی که دااومنل شي چې قرآن میزان دی نو لامحاله به دا هم منل کیږي چې داقرآن په ټولو پیغمبرانونازل شوی و، حال داچې په واقع کې داسې نده نو میزان وړاندې هم و او دعدل و انصاف تصوراو حَکم هم وړاندې وو؛ مگر قرآن یواځې دالله تعالی په وروستي پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې نازل شوی دی ددینه معلومه شوه چې قرآن میزان ندی.

(ب) دمیزان دمعنی ومفهوم پیژندلو لپاره یوه نظریه داهم دپام وړده چې:

﴿وَالسَّمَاءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيزَانَ (۷) أَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ (۸)وأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ (الرحمان: ۷تر۸)

او هغه اسمان لوړکړی دی او تله یې ایښې، څو تاسې په تول کولو کې زیاتی ونکړئ بلکې په انصاف سره تله پوره کوئ اوکم مه تلئ

درحمان سوره دې ایاتونوکې الله تعالی لومړی داسمان دتخلیق زکر کړی دی اوبیادمیزان یعنې دتلې ایښودو وضاحت یې کړی بیا یې داحکم ورکړی چې تول پوره کوئ اوپه تله کې کمی مه کوئ ددې ایاتونو اسان مفهوم دادی چې الله تعالی داسمان پیدا کولو وروسته انسانانوته دمیزان تصور ورکړی څو عدل وانصاف نه کار اخلئ او تله پوره کوئ اوپکې هیڅکله کمی مه کوئ

دا آیتونه هم ددې چې قرآن میزان دی نفي کوي زکه اسمان، زمکه، لمر اودسپوږمی دتخلیق سره یوځای دلومړی ورځې نه الله تعالی انسان ته میزان یعنې دعدل و انصاف تصور ورکړی دی اوبیا یې حکم ورکړی دی چې خلک دې دعدل و انصاف نه کار واخلي او په تله دې نیغ تول کوي او هیڅکله دې ډنډه نه وهې

ددینه معلومه شوه چې دقرآن دنزول څخه ډیر وړاندې هم[وضع المیزان] میزان ایښی و په دې وجه قرآن میزان گرځول په هیڅ توگه صحیح ندي.

۴-دیو معمولي عقل انسان هم پوهیږي چې دمیزان(تلې)کاردی یوڅیزتلل اودهغه وزن ښودل وي،دهغه کاردښه اوبد،داصلي اونقلي څیزترمنځ فرق او امتیازکول نه وي ،تاسو چې اصلي او جعلي طلا وتلئ، نو دهغې وزن معلومولی شئ،خو دتلې په زریعه دطلا اصلي اویانقلي نشئ معلومولی، دمیزان کاردی تول کول هغه غوره او اصلي شی هم تلي اوبیکاره اونقلي څیزهم،هغه حرام هم تلي او حلال هم، خو دحرام اوحلال څېزترمنځ امتیاز او توپیرنشي-کولی.

غامدي صاحب ته دې معلومه وي چې هرکله هغه قرآن میزان گرځوي نوهغه دقرآن دتوهین مرتکب کیږي گواکې نعوذبالله قرآن مجید یوداسې میزان دی چې ددې لپاره نازل شوی دی چې څو خلک یې په زریعه هرپاک او ناپاک څېز وتلي او دهغه وزن معلوم کړای شي

۵-اصلاً قرآن ته میزان ویل دغامدي یوه مجبوري همده، هغه داچې نوموړی ددې په ضمن کې په اسانی سره دهرحدیث نه چې و غواړي انکار کولی شي چې دا دقران په میزان دتول وروسته باطل ثابت شو ،نو لهذا وړباندې عمل ندی پکاریاده دي وي چې غامدي دهمدې میزان حربې په کارولو بالفعل دگڼو احادیثونه انکار کړی دی

په پای کې حقیقت دادی چې دغامدي داویل: چې قران میزان دی هیڅ حقیقت ،اصل او دلیل نه لري.

نور بیا...

په دوو کې یو انتخاب

ص صارم

په دې کې هيڅ شک نه شته چې دافغانستان اسلامي امارت دغربي اشغال په وړاندې داوږدې اوبې مثله سختې مبارزې رهبري په ډېر ښه ډول ترسره کړه او دبري پولې ته په رسېدو همدغه رهبري مستحقه ده چې څه ډول غواړي هغسې دافغانستان راتلونکی وټاکي.

خو داچې بيا دې دجهاد ثمره ضايع نه وي او بيا دې دخپلمنځي جګړو مخه نيولې وي، مجاهدين به يوه قرباني بله هم ورکوي او دهيواد په راتلونکي نظام کې به ځيني څېرې ځايوي. که څه هم داشغال په تداوم او رامنځته کېدو کې به يې کليدي رول اداکړی وي، خو داچې دغه محاسبه ربړه نوره هم اوږدوي، ځکه به دغه د زهرو غړپ له ستوني تېرول غواړي .

په سياسي جريان کې د دورګډولو لپاره مجاهدينوته په مجموع کې دوه ډلې مخ کيږي، يوه ډله غربيان اوغرب پلوه سيکولرستان دي اوبله دپخوانيو تنظيمونو مشران، قوماندانان او سياسي څېرې دي .

داچې دلومړۍ ډلې په نسبت د دويمې ضرر اخف دی مجاهدينوته په کار دي چې دلومړۍ بې ديني ډلې دمخنيوي په غرض هم دويمې ته يوڅه مخه ورکړي او په سياسي جريان کې دهغوی په نسبت دوی ته ونډه ور ډېره کړي .

که داسلامي نړۍ ډېری مسلمانو هيوادونو تاريخ وګورو ، وينو چې هر اسلامي حرکت او اسلامي نظام تل دغرب پلوه او غرب مشربه څېرو له لاسه ضربې خوړلې او تل داسلامي نظام په مخ کې خنډ پاتې شوي، ځکه نو بايد مجاهدين ډېر ځيرک او هوښيار وي چې په هر ډول نومونو وي، دغرب مشربه بې دينانو مخنيوي ته ژوره پاملرنه وکړي او په هيڅ ډول دغربي شعارونو مدعين په نظام کې ځای ونه نيسي .

په مقابل کې ډله يې په مجموع کې هغه کسان دي چې دعقيدې په نسبت بې لارې نه دي، بلکې قسماً يې ددين يوې شعبې (جهاد) ته يوڅه نسبت هم کيږي ، همدا لامل دی چې په راتلونکي کې ترې هيواد اواسلامي نظام ته خطره ډېره نه ليدل کيږي ، په همدې وجه يې دغربي بې دينانو په مقابل کې ملاتړ وشي اوپه دې ډول هغوی له صحنې پرې ووېستل شي .

داچې دکفر او اسلام دښمني ابدي ده، نن که غربي کفار په افغانستان اسلامي اقتدار ته تسليمېږي او مجبوراً يې مني، شايد په راتلونکي کې يې په تدريجي ډول داسلام او مسلمانانو په ضد دغرضي لاسونو او بډولو اراده له زړه نه وي وېستلې، نو که همداسې وي داميد خلک او بزغلی يې بيا همدا ډله ده .

په عين حال کې دې ټکي ته هم ډېره پاملرنه په کار ده چې که غربي کفارو په هيواد کې داسلام مقابله په علني ډګر ونه ګټله، نو داهم بعيده نه ده چې طالبانو ته انقياد او اراماتېدل يې له علني ډګره تدريجي پلانونو او پټو دسيسو ته اوښتون وي، داسې چې په اسلام له سره تېره دغه ډله به په نظام کې تيت شي او دقدرت دمنصبونو په ترلاسه کولو به يې افراد ووېشل شي .

ځکه خو په کار ده چې داسلامي امارت مشرتابه په داسې حساسو وختونو او ځايونو کې ټوله تکيه په خپلو نظرياتي خلکو وکړي چې دقدرت او منصب مشغله يې هيڅکله دنهضت له عليامصالحو نه تېروي ، داهم د په دوو کې يو انتخاب دی چې وخت او شرايط يې غوښتنه کوي اود "اسلامي تحريک" شيرازه ړنګېدوته نه پرېږدي .

بشير ارمان

دیوي برتانوی میرمني

دجاسوسۍ پټ داستان

برتانوي ښکېلاک دعثماني خلافت دواک ځخه دمنځني ختيځ دمهمو عربي هيوادونو اوښارونو ويستو لپاره دعربي ملت پال انقلاب دسيسه طرحه کړه ، دکومې ترټولو لوی عملي طراح چې د [لارنس اف عربيه] په نوم برتانوی انګريزو،چاچې ښه روانه عربي ژبه ويله اوهم يې دعربوپشان داوږده توب کالي په تن کول، دهغه دپټواوښکاره مکاريو،فريبونو او جاسوسۍ داستان موږ په يوه بله ليکنه په تفصيل سره وراندې راوړی ، خوپه دې کار کې يواځې لارنس آف عربيه نه و بلکې دهغه نور جاسوسان او دهغه دتيم کسان ملګ ول،چې دهغونه يوه هم

يوبرتانوی ميرمن چې مشهور په(بيل) وه هم دمځنې ختيځ په ويش کې دلارنس آف عربيه نه وروسته مرکزي کردار لاره، ليکن برتانوي حکومت نه غوښتل چې دجاسوسي په توګه دهغې دکړنوځخه پرده پورته کړي، چې وجه يې وروسته راځي، دلارنس په څېر دغه جاسوسه هم(ميرمن بيل) په عربي ويلو بالفعل قادره وه اوپه همدې هنرلرلو يې په عربي قبايلو،عربي سردارانواو د سواد لرونکي قشر- ترمنځ خپل مهارت او قابليتدومره منلی وه چې هغوی(عربو) به دأمُ المؤمنين په لقب بلله، او هم داوجه وه چې برتانوي حکومت ددې لپاره چې دهغې هغه تقديس او احترام ته چې دعربانوپه مينځ کې ور ته په برخه شوی وو زيانمن نشي، دهغې دجاسوسۍ کړنوريکارډ يې عام نکړ اودمخفي ساتلو کوښښ يې وکړ

ميرمن بيل چې اصلي نوم يې(کيرټروډبيل و) په عربي سيمو بالخصوص دنوي عراق داينجيرۍ حيثيت هم په برخه دی، دعراق اوبرتانيې ترمنځ په ليږل شويو مکتوباتوکې ميرمن بيل په همدې کردارياده شوې

په ۱۸۶۸زکې دجولائي په ۱۴مه نيټه په انګلستان کې زيږيدلې ميرمن بيل چې له کوچنيوالي ځخه دجاسوسۍ اوپه پټه دچاروترسره کولو سره يې علاقه درلوده، ددې ذوق له مخې په ماشومتوب کې دخپلې ترور سره ايران ته و لاړه، چيرته چې ترورميړی يې دبرتانيې سفيرمقررو، ايران کې ژوند تيرولو په مهال يې فارسي، عربي اوترکي ژبې هم زده کړې، چې په دې توګه هرچيرې به تله

هلته یې دځان په ځایولوکې ستونزه نه لیده،خلکو سره په مجلسونو اوصحبتونو کې یې په یادو درې واړو ژبو کې دتقریراوتحریر صلاحیت هم لاره، ه او دسفارتي تشریفاتو څخه په استفاده دتهران گاونډیوعربي هیوادو او سیموته یې هم سفرونه کول اوهلته یې دواکمنو کورنیو له ځوانانو سره اړیکي ټینگول او هغوی ته یې ځان دقدیمه اثار دکارپوهې په حیث وروپیژاندهددې لپاره یې دمختلفو تاریخي عربي سیموڅخه لیده کاته به کول

عربي ژبې سره بلدتیا اودخبروبااعتماده اسلوب یې دعربانوپه زړونه نیول ،مخورغربان، سردارن اومشران یې په ځان ورمات کړل او بیا په ۱۹۰۹ کې هغه دبرتانوي حکومت لخواپه لومړي ځل دتاریخي اثارو دڅېړنې په هدف عراق ته رسماً ولیږل شوه،دخپل سفرپه دوران کې یې دعراق ټول ښارونه اومهم موقعیتونه په پوره دقت سره معلوم اووکتل اودهغونقشې یې جوړې کړې ، دجغرافیې په اړه یې معلومات راټول کړلاوهم یې په عراق کې دمیرمنو په مجلسونو او غونډوکې گډون کولوته توجه ورکړه، په هغومجلسونوکې یې دغیبت اوچغل کارۍ یوصنف ایجادکړ،دهغه صنف گډونوالو میرمنو له لارې به یې غیبتونه او دخلکوبد بیانول اوپه دې ډول یې پټ معلومات هم ترلاسه کول، په هغومیرمنوکې زیاتره د دولت دوزیرانو اولوړپوړوچارواکومیرمنې اودهغوی لوڼې او په عراقکې دمیشت سفیرانومیرمنې وې، هغوی به دخپلو میړونو پټې کیسې او رازونه دنورومیرمنو سره شریکول اوهغه به بیا ټک په ټک بیل ته رسیدل، کوم به چې هغې په په ډیر احتیاط سره لیکل اوبرتانیې ته به یې استول، هغې ته په عراق کې دومره مقبولیت په برخه شوی وچې ورته په ۱۹۱۴زکې دامُ المؤمنین لقب ورکړل شو،په دې سره برتانوي حکومت ور ته نوره ترقي هم ورکړه اویولوی برتانوی ماموریې دسلاکار په توگه ورواستاوه،په دې سره دمیرمن بیل اثرو رسوخ نوررزیات شو،دمنځني ختیځ دویش په تړون(سایکس سیکو) کردار(مارسالیکس)ورته دمغرورې میرمن لقب ورکړ،زکه تردغه مهاله په برتانوي حکومت کې یوازې نارینه وو دندې سرته رسولې اوهیڅ میرمنې ته تردغه مهال سفارتي اوسیاسي دنده نه وه سپارل شوې،یواځې میرمن بیل وه چې هغې ته یې پراخ سیاسي صلاحیتونه ورکړي وو،هم هغې دعراق دویش نقشه وړاندې کړه او دحکومت لپاره یې شاه فیصل انتخاب کړ، دبرتانوي حکومت لخوا هم دهغې جوړه کړې نقشه اومنل شوه اوهم شاه فیصل یې دعراق لپاره ولسمشر اومانه، شاه فیصل اومیرمن بیل دیوبل نیږدي دوستان وو اوهم دواړه دیوبل دپټو رازونو څخه خبروو دمیرمن بیل ترټولو زیات خطرناک سازش د کردانو په اړه دی چې هغې دهغود متحد نه پرینښودو لپاره داسې نقشه برتانوي استعمارته وړاندې کړه چې له مخې یې دکردانو سیمه په څلورو هیوادود وویشل شوه دا دهغې دسازشي اوشیطاني ذهن ته تخلیق دی نن که تاسو په نقشه سترگې واچوئ نو وبه گورئ چې دکردانو سیمه د ترکی،عراق،ایران، اوشام ترمنځ ویشل شوې ده، په دې کار سره یې څو عمده اهداف ترلاسه کړل یویې کردان چې یوپه سیمه کې غښتلی قوم دی او دصلاح الدین ایوبي په څیر قهرمان هم کرد و چې د خپل مستقل حکومت جوړولو څخه محروم کړل اوبل کردان متحد پاته نشول څه دایران برخه شول،څه دعراق، څه دترکیې اوڅه دسوریې پورې ونښلول شول،او بل یې په عین وخت کې ددغو یادو څلورو هیوادو داتحادمخنیوی وکړ زکه دهغوی څلور واړو ترمنځ دکردانومتنازع سیمه ده هریو کوښښ کوي چې دکردانو ډیره سیمه ترواک لاندې کړي کنه دایوخت شونې وه چې په دغه سیمه کې ددې څلور واړو هیوادو نه یوستر اسلامي هیواد جوړشوی وای

شاه فیصل چې دمکې دوالي حسین بن علي الهاشمي دریم ځوی و په ۱۹۲۱زکې دعراق پاچا شو، دمنځنې ختیځ دویش اوپه عراق کې دشریف حسین مکي ځوی شاه فیصل دپاچا کولو وروسته میرمن بیل برتانیې ته لاړه نشوه او په بغدادکې تم شوه چیرته یې چې شاهانه ژوند تیراوه، شاه فیصل هغې ته ځانګړې تشریفات ورکړل لیکن میرمن بیل ته ذهني ارام او سکون په برخه نشو،زکه برتانوي ښکېلاک دخپلو استعماري ګټو لپاره په عربي سیموکې په لکونو انسانان ووژل اودمسلمانانو خوشالي او ارام ژوند یې لوټ کړ، چې دهغه وبال په میرمن بیل هم تاثیرکړی او په سخت ذهني اضطراب کې مبتلی وه ،دپریمانه اسانتیاوو سربیره درښتیني ارام څخه محروم وه

په ۱۹۲۶زکې دخوب دنعمت نه محروم شوه، ددی لپاره چې خوب ورشي دخوب ګولۍ او درمل یې کارول چې د هغو زیاتو خوړویې ژوند هم ور تمام کړ،دعراق دپاچا شاه فیصل په خصوصي امرمیرمن بیل لپاره ټول تشریفات په ځای شول او پهدرناوي دبغداد په باب المعظم کې دسپین پوستو په هدیره کې خاوروته یې وسپارله اوپکې شاه فیصل پخپله ګډون وکړ

ددې میرمنې دژوند داستان مسلمانانو ته دعبرت وړدی، چې دمسلمانانو دښمن څومره زیرک اوچالاک دی او په څومره مکارۍ ځان دمسلمانانو ترمنځ رسوي او بیادخپل هیواد دبري لپاره داسې درانه اونازک خدمتونه سرته رسوي ، بسته لښکرې دترسره کولو څخه عاجزبریښي او دمسلمانانو واکمنولپاره هم پکې دعبرت سبق دی چې هغوی دومره دپردیوغلامان اوګوډاګیان دي چې دیو ادنی برتانوي اوانګریزې اومره هم دوی دخپل هیواد، ولس او خاورې سره مینه اوعلاقمندي نلري او سرچپه لګیاوې شپه ورځ دکفارو په غلامۍ باندې ویاړي او او دخپلوهیوادو او ولسونو په مقابل کې داغیارو اودښمنانوپلوي کوي

د بغاوت زوال

مولوي بدرالدين حقاني

مادرته کتلی په کلونو وړاندې پال دی
دلته دې يرغل دبغاوت اخير زوال دی

۱-دلته ديرغل دبغاوت قدم اسانه وي
دښتو سردرو کې ددښمن سترګې روښانه وي
وايي چې دعوا مې دراتلونکي او دحال دی
دلته دې يرغل دبغاوت اخير زوال دی

۲- دلته دعمران بچي راجمع شي خوځښت کوي
مېو کې راونغاړي لستوني څه نوښت کوي
ايښی ذوالجلال په څو څپېړو کې کمال دی
دلته دې يرغل دبغاوت اخير زوال دی

۳- دلته هجوم راوړي زورور او شملور قوت
پرېږدي وسايل او ککرۍ په سمه او غر قوت
زموږ په موزيمونو کې دهر يوه مثال دی
دلته دې يرغل دبغاوت اخير زوال دی

۴- دلته زندانونو زولنو کې الهامونه وي
خولو د يتيمانو کې دفتحې اوازونه وي
هر يو امپراتور نه مو اخيستی دسرشال دی
دلته دې يرغل دبغاوت اخير زوال دی

۵- کله دبارودو نه جامې کړو ابتکار کوو
کله ځمکه څېرې کړو غليم ته انتظار کوو
لوړ مو په ميدان دسياست کې قيل و قال دی
دلته دې يرغل دبغاوت اخير زوال دی

٦- مونږه خطر نه يو اطمنان يو دنياوالو ته
خپلو همجوارو انسان دوسته نړيوالو ته
دا موقف زمونږ دامارت دتندي خال دی
دلته دې يرغل دبغاوت اخير زوال دی

۷- اخ! چې لندغرو لغړ سرو څه خطا کړلو
دا دناټوګۍ خيالي قوت يې څه رسوا کړلو
څه تاريخي وياړ دی بدرالدينه څه جمال دی
دلته دې يرغل دبغاوت اخير زوال دی

Shahamat

د ابوبکر صديق (رضي اللّه عنه) د نظامي کنډک د يوه پوځي تمرين انځوريز منظر